شهامت

دشهامت دنهمې کليزې پرویاړ خو خبرې!

نهم کال، شپږمه گڼه، پرلپسې ۵۶مه، جمادي الثانية ۱۴۳۷هق، اپریل ۲۰۱۶م

عمري عملیات

دعمري عهد تجدید!
او له هماغه ژمنې سره د وفا اعلان !!!

- د بلجيم د وروستيو چاودنو په اړه یوه پخوانی خاطره
- د مرحوم مولوي سيد محمد حقاني ژوند ته کتنه
- آيا سازمان ناتو واقعا در جهان نقش حياتی داردا؟
- کيوبا ته داوباما دوره له خجالتونو ډکه وه!؟
- بشير احمد (ريان) مظلوم شهيد شو.....

د مورچل مجلې مسؤل [شکور شفق] له شهامت سره په مرکه کې:

د روان جهاد فرهنګي هسته ډېره پیاوړې او د اسلامي او ملي فکر ښه ترجماني کوي، چې دتاريخ په حافظه کې به تل پاتې او زمونږ راتلونکي نسلونه او پرګنې به پرې وویاړي!!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

نهم کال، شپږمه گڼه، پرلپسې ۵۶مه، جمادي الثانية ۱۴۳۷هق، اپریل ۲۰۱۶م

لړلیك

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه........................	۱
۲	عمري عملیات! دعمري عهد تجدید ! او له هماغه ژمنې سره...	۳
۳	دمورچل مجلې مسئول [شکور شفق] له شهامت سره په مرکه...	۵
٤	دبلجیم د وروستیو چاودنو په اړه یوه پخوانۍ خاطره..........	۱۹
۵	دمرحوم مولوي سید محمد حقاني ژوند ته کتنه.............	۲۹
٦	د روزګان ولایت له مسئول ملا امین الله یوسف سره مرکه.......	۳۴
۷	پسرلی له کومه پیغامه سره !؟..................	۳۸
۸	دیو والي اهمیت او ضرورت...................	۴۰
۹	دجنت لار........................	۴۱
۱۰	کیوبا ته داوباما دوره له خجالتونو ډکه وه!؟...............	۴۳
۱۱	تعلیم او تربیه د ژوندانه اړتیا !..................	۴۵
۱۲	ګلورینې پاڼې........................	۵۰
۱۳	بشیر احمد ریان مظلوم شهید شو..................	۵۲
١٤	دتاریخ پاڼې........................	۵۳
۱۵	په اسلامي هیوادو کې داسلام او مغربیت ترمینځ کشمکش....	۶۰
١٦	دبرسلز بریدونه ؛ اصل عوامل؛ دمخنیوي حقیقي لارې او.....	۶۳
۱۷	دمولانا عبدالحي فرنګي محلي رحمه الله تاریخي خدمتونو....	۷۳
۱۸	زندګي نامه عبدالله بن جحش رضي الله عنه.............	۵۷
۱۹	آیا سازمان ناتو واقعاً درجهان نقش حیاتي دارد !؟...........	۸۰
۲۰	دنورستان له جهادي مسئول سره مرکه...............	۸۱
۲۱	عزم آهنین ما ؛ آرمان عمري رانهادینه خواهد کرد...........	۸۵
۲۲	داسلامي نړۍ ځلانده ستوري..................	۸۷

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرلیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

دشهامت دنهمې

کلیزې پر ویاړ څو خبرې!

هرهوښیار اوپوه انسان ته معلومه ده چې په اوسني عصر کې رسنۍ یا مطبوعات دولس په تعمیر او تخریب دواړو کې څومره مهم نقش اومؤثر رول ادا کوي؟ ورځپاڼې،اوونیزې، مجلې او بریښنایي رسنۍ هغه څه دي چې له پوښښ او تاثیره یې دنړۍ هیڅ کوم کور خالي او خلاص ندی ، تردې پورې چې دچاپې مطبوعاتو لوستل او دبریښنایو رسنیو کتل یا اوریدل د نني سترې ژوند لازمې برخه ګڼل کېږي او په نړۍ کې دانسانانو لویه سلنه که هغه لوستي دي یا نالوستي دمطبوعاتو له تاثیر خوندي ندي!

بیشکه ځیني خلک مطبوعات دمادیاتو اوپیسوترلاسه کولو زریعه بولي او له دې لارې پریمانه پیسې ترلاسه کوي، خو دعقل او شعور خاوندان مطبوعاتو ته د تجارت او پیسو ګټلو له زاویې نه ګوري، هغوی مطبوعات دهر ملت او قوم د فکري او ذهني قیادت منصب اومقام ګڼي کو م چې خورا نازک اوحساس دی! که دکوموخلکو اقتصادي اومادي اړتیاوې چې تر ملي ، دیني او اجتماعي خدمتونو تړلې وې داد هغوی نیکمرغې او دالله تعالی خاصه لورینه ده،ځکه چې ددې نازک او حساس مسؤلیت د درانه پیټي په پورته کولوسره هغوی ته ددنیا او اخرت دواړو خوښی په برخه کېږي.

په ظاهره رسنیز او مطبوعاتي فعالیتونه معمولي علمي شغل لیدل کېږي ! خو دنتایجو اوعواقبو له پلوه یې رول او کردار حیرانوونکی او غیر معمولي دی! وایي: رسنۍ د انسانانو په زړونو او مغزو کې پټې انقلابي ولولې په جوش او غورځنګ راولي او د خپل بامعنی اسلوب او راښکونکو الفاظو په جادو د خلکو ذهنونه او زړونه فتحه کوي !

په همدې احساس یهودو له نن څخه یوسل پینځلس کاله وړاندې [۱۸۰۸کې] پریکړه وکړه که مونږ[یهود]په نړۍ دقبضې ترلاسه کولو لپاره دسرو زرو ذخایرو لاسته راوړلو ته اولیت ورکوو!نود میډیا او مطبوعاتي وسایلو لاسته راوړل به زمونږ دویم هدف وي مونږ[یهود] به دخپلو دښمنانو په لاسو کې هیڅ یوه د اسې قوي ورځپاڼه نه ورکوو دکومې له لارې چې هغوی خپله رایه بیرون ته په مؤثر اسلوب ښکاره او و باسي!اونه به هغوی د دومره قابلیت ترلاسه کولو ته پریږدو چې زمونږ له څارنې پرته دې هغوی کوم خبر دخلکو ترغوږو نو ورسوي!

نن که یهود دنړۍ دسرو په ذخایرو قبضه لري ترڅنګ یې مطبوعات اورسنۍ هم پخپله ولکه کې لري اوپه نړۍ کې دخپلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه تري کار اخلي، په خاصه توګه درسنیو په هغه برخه زیات ترکیز او کنټرول لري کومه چې دنوخیزه ځوانانو د روزنې پورې اړه لري، ولې چې ځوان نسل دقومونو اوملتونو اصلي پانګه وي، یهود هوډلري دغه پانګه دخپلونشراتي پروګرامونو له لارې له تعمیري چلښت وغورځوي او په فحشاوو او ناراوو یې ر

وړدي اومعتادکړي په دې موخه يې د نړۍ په ګڼو هېوادو کې بې شمېره چينلونه،چاپي رسنۍ او خبري اژانسـونونه پـه کا اچولي اوپکې دمختلفو ژبوهغه خلک چې په پيسو او عيشونو پسي ليونيان دي دژورنالسـتانو، کارپوهـانو، ليکوالـو اوڅېړونکو په نومونو توظيف کړي دي هغوی بيا د غوړو اوچربو عنوانو او شعارونو په جادو دځوانانو فکرونـه او مغزونه وينځي او ور ته دخپلو ناسورځېلو مغزو او فکرونو غذا ورکوي

او داکار هغه مهال ترسره کوي چې لا دځوانانو ذهنونه خام او فکرونه يې روزنې او تربيې ته اړوي، درسنيو لـه لارې يې دومره تربيه او وروزي چې په هغوی بيا نه دروزونکي روزنه دمصلح اصلاح اونه داستاد فکري خـبرې تـاثير کولی شي په زيات چل اوهنر يې د خپلورسنيو او مطبوعاتو دناوړه کـردار او ګفتـار پـه جـال[نـټ] کـې نښـلوي چـې وروسته دزرګونه مخالفتونو باوجود يې په ذهنونو بدلون راوستل ناشونی وي، دهغوی له کړو وړو، ليکلو او خبرو نـه دلادينيت او الحاد بوی ځي او دهغوی[يهودو] په مالي مرسته او شاتڼونه ورځپاڼې او مجلې چاپوي چې پکې د اسلامي او وطني ارزښتونو په خلاف ليکنې او مضامين خپروي رڼې بيلګې اونمونې يې نن ورځ مونږ پخپل هېواد کې د ورځپاڼو ،مجلو، چينلونو، راديوي خپرونو اوويب پاڼو دلښکر يرغل وينو

له کله نه چې امريکا يانو په افغانستان يرغل کړی ،ورسره سم دلاسپوڅو رسنيو او مطبوعاتو چلونکي، ليکـوالان او سياسي کارپوهان ديرغلګرو په مـټ لګيـادي دوامـدار د افغـان ولـس ددينـي او مـلي اقـدارو څخـه پـه سرغړونـه د استعماري اهدافو په تبليغ او خپرولو داسلام د مقـدس ديـن حکمونـه او افغـاني ارزښـتونه پـايمالوي او دښـکېلاکګرو فکري او کلتوري يرغل ته دپراختيا ورکولو په هدف د رسنيو له لارې دافغان ځوان نسل د بې لارې کولو لپـاره دنشرـاتو دازادۍ شـعار لانـدې کـرکجن او الحـادي افکاراونظريـات شـيندي لـه حـق ويلـو اوحـق ليکلوڅخـه پـه ډډه کولـو دامريکايانو په بربنډو جنايتونو، ظلمونو او وحشتونو يې خولې چوپ نيولي.

هو! ددې پراخ فکري اوعقيدوي يرغل په وړاندې دهېواد با احساسه مجاهدو قلموالو اوليکوالـو کـردار د زيـاتې ستاينې او شابسي وړدی،هغوی پخپلو تاندو قلمونو او ځوانو استعدادونو د يرغلګـرو پـه ملاتـړ تـول الحـادي اوکفـري نشرات وننګول اودنرانوغوندې يې په وړاندې پورته شو د افغان ولس دننه دقربانيو اوفداکاريو جذبو او ولولو تـه پـه ژوند ښښلو يې دجهاد او مقاومت روحيه تازه کړه ، په پوره ډاډ سره ويلای چې راتلونکي تاريخ ليکونکي اونسلونه بـه ددغو مجاهدو قلموالو په فرهنګي او نشراتي کارنامو فخر کـوي ،چـې دهېـواد دننـه او بيـرون پـه جهـادي مطبوعـاتو اورسنيو د کلکو بنديزو نو او نـورو روحـي او امينتـي سـتونزو اوفشـارونو سربيـره وتوانيـدل چـې دافغـان ولـس دننـه داسلامي او جهادي فکر رينښې ابياري او تازه وساتي، نن دخوښۍ ځای دی چې دهغوی دتانـدو اسـتعدادونو شـهکار [شهامت مجلې] نهمه کليزه د نويو حيرانوونکو سوبو او برياوو دهيلو په بدرګه لمانځو! چې لـه برکتـه يـې دهېـواد لـه ګوټ ګوټ نه په دښمن دمجاهـدينو دبريـاو او شـاندارو فتوحـاتو زيـري راځـي، دشـهامت دکليـزې پـر ويـاړ مجاهـد فرهنګيان او دصحافت ميدان شيدايان داعهد اوژمنه کوي چې داسلامي ،جهادي او افغاني فکر د ترجمانۍ رسـالت بـه په پوره ديانت او امانتدارۍ سره اداکوي او هيحکله به دميډيا پراخ ميدان دالحادي فکر مبلغينـو ليکوالـو تـه وزګـار پرينږدي او هغه ليکوالان چې داشغال دچوپړ سيوري ته داشغال دپايښت خوبونه ويني هغـوی دې پـوه شي چـې دوی به د شرم خجالت،حسرت اومايوسۍ پرته بل څه ونه مومي او د دوی کرغيړن کرداربه دتاريخ پيغور وي.......

دمبصر په قلم

عمري عمليات

د عمري عهد تجديد!

او له هماغه ژمنې سره د وفا اعلان !!!

دتيرو کلونو په څېر بيا دافغانستان اسلامي امارت تيره اوونۍ په هيواد کې د بهرنيو يرغلګرو څواکونو اوګوډاګي رژيم په خلاف د (عُمري) عملياتو په نوم نوي پسرلني او پوځي عمليات اعلان کړل.

دا لومړی ځل ندی چې اسلامي امارت په هېواد کې ديرغلګرو امريکايانو او غلام دولت په خلاف په خاص نوم د پسرلنيو عملياتو پيلولو ابتکارکوي بلکې له معمول سره سم تل د پسرلنيو عملياتو دپيل لپاره دمعنويت او پيغام څخه ډک نوم ورکوي چې په دې لړ کې په تيرو کلونو کي دعبرت، نصرت فتح،بدر،فاروق،خالد ا وعزم په نومونوعمليات يې روښانه بيلګې اونمونې دي.

هو! دسږنيو عملياتو دنوم توپير دتيرو کلونو دعملياتو دنومونو سره دا دی چې هغه ټول داسلامي تاريخ دلومړي قرن غزواتو، سوبو او شخصيتونو ته منسوب نومولي او سږني پسرلني عمليات داسلامي امارت مؤسس امير المؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ نوم ته منسوب (عُمري) عمليات نومولي.چې دکتونکو په نظر دنويو عملياتو نومولو موخه دا ده چې داسلامي امارت اوسني مشران او قيادت هم هغو کړنو او ژمنوته ته وفادار او متعهددي چې ورته د فقيد امير المؤمنين رَحِمَهُ ٱللَّهُ څخه په ميراث پاتې دي.او هم په هغه عهد دوفا تجديد دی کو چې يې له ارواښاد امير المؤمنين سره کړی... اوښيي چې داسلامي امارت موجوده قيادت او رهبري په کلک پولادي عزم د هغه مسير پر ليکو د تګ هوډ لري چې دهېواد دازادۍ او خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره مرحوم امير المؤمنين ټاکلی...

د سيمې دچارو دخپلواکو او بيطرفه کتونکو په نظر داسلامي امارت لخوا دپسرلنيو(عمري) عملياتو اعلان په هغوټولو مرموزو ګنګوسو او پروپاګندونو خاورې واړولې چې دمغرضو جهتونو لخوا [ددې لپاره چې په افغان ولس کې نا آرامې او اضطراب واچوي او داسلامي امارت په ليکو کې درزونه رامنځته کړي]دسولې او خبرو په نوم جعلي جريانونه دميډيا له لارې اعلانيدل اوهغو ته د جعلي څېرو او استازو په مندلو يې کار روان کړی وو ، دعمري عملياتو اعلان وښوده چې داشغال له مونګلو نه دهېواد ژغورلو او ازادولو لپاره داسلامي امارت په جهادي عزم کې هيڅ ډول نرمښت او تغير ندی راغلی او دپخوا پشان باور لري چې دجهاد او مقاومت پرته دافغانانو د ازادۍ او استقلال تمه د اين خيال ست محال ست جنون مصداق ده.

څکه هر هغه سړی چې سياسي شعور او پوهه لري پوهيږي چې امريکايان دلته داوږدمهالو ارادو او عزايمو سره يوځای راغلي او ديوې اوږدې جګړې پلانونه او ستراتيژې له ځانو سره راوړې ده نو په داسې صورت څنګه افغانان او اسلامي امارت کولی شي دجهاد پرته بل مسير تعقيب کړي او له نورو لارو چارو څخه خپل هدف ته درسيدو ستراتيژې جوړه ولوته غاړه کيږدي؟

دنويو عملياتو اعلان دومره مؤثر وو، چې کفري اشغالګر و زړونه يې لړزول، ددي په ځای چې افغانستان کې د خپل شکست لاملونه او اسباب توجيه کړي او له زړه نه اومني چې دوی په افغانستان کې دبري چانس نلري او دجګړې

واک ددوی له لاسو څخه په وتو دی لګیادي دخپلو خلکو اونړیوالو په ستر ګو کې دخاورو په اچولو سره وایې: [......دنویو عملیاتو پیل تبلیغات دي...]

څو په دغه ډول خاورو اچولو سره وښیي چې ددوی په وړاندې داسلامي امارت ځواکونه دجګړې دغځولو تاب نلري او دوی ځواکونه په هغوی باندې په جنګ کې برلاسي دي او بل په دې سره هڅه کوي چې داسلامي امارت دتندریزو بریدونو په وړاندې خپلو مورال بايللو عسکرو ته روحیه ورکړي چې ګواکې نوي عملیات یواځې تبلیغاتي بڼه لري خو حقیقت داسې ندی داسلامي امارت جنګ هیڅکله تبلیغاتي رنګ نلري هغوی ترډېره په عمل باور لري

دعزم عملیاتو برياوو وښوده چې افغانستان کې په اشغالګرو ځواکونو دژوند کړۍ راتنګه شوې ده او هغوی دمجاهدینو په وړاندې دکومې اوږدې جګړې تاب او روحیه نلري نو خامخا ده چې داسلامي امارت لخوا اعلان شوي نوي عمري عملیات به یې په روحیاتو او مورالونو سخت منفي تاثیر او اغیز ولري

دچارو کارپوهانو په وینا: څنګه چې تیرکال دعزم عملیاتو په ترڅ کې داسلامي امارت زړورو مجاهدینو دبیدریغه قربانیو په ورکولو سره داشغالګرو له مونګلو څخه د پراخو سیمو په نیولو سره ګڼ شمېر وسلې او غنیمتونه ترلاسه کړل په کومو کې چې غټې او سپکې وسلې شوبلې او ټانګونه هم لاسته ورغلل دهغونه په استفاده به و کولی شي چې دجګړې تاکتیک دنورو کلونو په نسبت مؤثر کړي او په تهجمي عملیاتو کې زیاتوالی راولي په دغسې حالاتو کې چې یو لورته دجانکیري په فرمایش په افغانستان تپل شوی څوسری حکومت په کورنیو لانجو کې له پښونه ترغوړونو پورې غرق دی ورته به ګرانه وي چې داسلامي امارت دمجاهدینو دپرمختګ لارې ونیسي. او دا خو لري خبره ده چې ددوی عسکر او اردو دي طالبان له هغه سیمو څخه په شاکړي کومې چې له تیرو څو کلو راهیسې دهغوی په واک کې دي چې په اړه یې وخت په وخت امریکا یې چارواکیو هم اعترافونه کړیدي چې مجاهدین تربل هر وخت زیاتې سیمې پخپل کنترول کې لري.

په ورته ډول تیر کال دتلفاتو له امله هم خارجي یرغلګرو او هم دهغوی لاسپوڅو لپاره له مرګونو او ناخوالو ډک وو، چې په لسګونو زره عسکریې مړه اوټپیان شول وسلې یې تخریب او دمجاهدینو لاسو ته ورغلې.

له بل پلوه دا دواډوړده چې دګوډاګې رژیم دننه دمجاهدینو روابط او اړیکې په پراخیدو دي او هره ورځ دهمدغو روابطو په ترڅ کې درژیم له لیکو څخه لوی شمېر عسکر دمجاهدینو سره یوځای کېږي او مجاهدین دهغوی راتګ په ښه تاوده هرکلي ویلو سره بدرګه کوي او ورته پخپلو لیکو کې دخدمت چانسونه او موقع برابروي اویو شمېر بیا ددغوراوابطو په ترڅ کې نفوذي عملیات کوي او دښمن ته دخپل صف دننه درانه تلفات او زیانونه رسوي چې دنظامي او جنګي تکتیک له پلوه دایو غوره او کامیاب تاکتیک دی چې اسلامي امارت ددښمن په لیکو کې دننه دعملیاتو رهبرې کولو وړتیا لري په راتلونکي توقع شته چې نورډېر هغه ځوانان چې دلاسپوڅي رژیم په لیکو کې تراوسه پاته دي حقیقت په پوهیدو سره به دمجاهدینو سره ملګري او یوځای شي او دامریکایانو له غلامانه ژوند څخه به راووځي.

هم دا راز په جهادي اوجنګي ډګرونو کې داسلامي امارت نظامي قومندانان او مشران هغسې. چې اړتیا ده دنویو عصري جنګي تجربو او تاکتیکونو څخه په کار اخستلو ددښمن دواک ساحه را لنډه کړي او دخدای جَلَّجَلَالُهُ په کامل نصرت او ډاډبه ددې نویو عملیاتو په بهیر کې دهېواد مهم استقامتونه او ستراتیژک موقعیتونه ازاد او داسلامي امارت تربیرغ لاندې راشي او هغه خارجي یرغلګر چې لا تراوسه دخپل بري خوبونه ویني او هره ورځ ددې لپاره زمونږ معصوم هېوادوال په خورا بې رحمانه توګه په شهادت رسوي دمجاهدینو ترتندریزو بریدونو لاندې راشي او دخپلو وحشیانه اعمالو تراخه به وڅکي له افغانستانه به روغ نه ځي او دلته چې دکومو بدو ارمانو او هیلو سره یوځای راغلي په هغو به خاورې امبار شي او دکبر او غرو تندي به یې په خاورو پورې و سولیږي.

انشاء الله



د مورچل مجلې عالم او فاضل مسؤل [شکور شفق] له شهامت سره په مرکه کې:

د روان جهاد فرهنګي هسته ډېره پیاوړې او د اسلامي او ملي فکر ښه ترجماني کوي، چې دتاریخ په حافظه کې به تل پاتې او زمونږ راتلونکي نسلونه او پرګنې به پرې وویاړي!!

یادونه: دشهامت دخپرنیز نهم کال، دکالګڼې چاپولو پر ویاړمو دخپلو شهامتپالو لوستونکو لپاره دمشهورې جهادي، علمي، سیاسي او دیني مجلې له عالم، فاضل، نقاد او ادیب مسؤل ښاغلي [شکور شفق] سره یوه اوږده خو معلوماتي، علمي او ادبي زړه خواله کړیده چې لوستلو ته یې درانه لوستونکي رابولو!

په درنښت اداره

۱-ښاغلی دروند شکور شفق ! که دمرکې په پیل کې دشهامت لوستونکو ته پخپل علمي، سیاسي ،فکري اوجهادي ژوند رڼا واچوي؟

ځواب : الحمدلله بجمیع المحامد علی جمیع النعم، والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد المبعوث الی خیرالامم, وعلی آله وصحبه مفاتیح الحکم ومصابیح الظلم ,وبعد:

په سرکې دشهامت له وزینې مجلې له درانده مسؤل فاضل شخصیت ابوظهیر صیب څخه، نړی مننه ! چې د فرهنګپالنې پر بنسټ یې دخپلې علمي او سیاسي مجلې په زرینو پاڼو کې زماخواله اړه وبلله اوهم یې دفرهنګي او ادبي مبنې پر اساس یولړ داسې پوښتنې مطرح کړې، چې زیاته برخه یې پرادبي اوژورنالیستکوژانرونواوصنعتونویا اصنافو راڅرخي ،تمه داوه ،چې دشهامت خواله به مو دخپل تخصص او مسلک دپوښتنوپرافق را وڅرخوي ،خو دده دفرهنګپالنې درنګ سرخي پر ادبي او ژرنالستیک شفق کې راوځلیده او اړونده پوښتنې یې تر خپلې شعاع لاندې راوستې!

درانه ابوظهیر صیب !

هغه مهال لا په مدرسه کې دتکمیل د درجې طالب وم ،چې له شاعرۍ ، لیکوالۍ او په ټولیز ډول له ادبیاتو سره مې لیونۍ مینه وه ،خپل شاعرانه احساس او شعري تخیل به ډېردې ته اړیستلم ،چې دکوم کره ادیب نه څه ادبي خبرې واورم ،یا دکوم نوموتې فنان کتاب پیدا کړم او خپله ادبي تنده پرې ماته کړم ، که کومه لیکنه نه وي ،نو یوغزل نما شعر خوبايد ولیکم ،څو په کومه جهادي او افغاني ورځپاڼه یا د پښتونخواپه (وحدت ورځپاڼه)کې خپور شي،دابه یې لا نشر کړی نه و،چې مابه پسې څو نور شعرونه ورپنډ کړل (یوه ورځ راته دوحدت ورځپاڼې دهاغه وخت دشعروادب دبرخې مدیر(پریشان داودزي صیب)خپل دفتر کې په ګونځې تنده وویل :چې (ستا سوافغانیانو خو له شاعرۍ نه په غیر هډو بل کار نشته ،ټول شاعران یې ....)، شعري ذوق به کله دومره وهڅولم، چې آن ددرسي کتابونو سبانی مطالعه به هم رانه متأثره شوه ،دانو د(۱۹۹۲او ۱۹۹۳ز)کلونوخبره وه ،چې هیواد کې کمونستان واکمن وو اومونږ له خپلو کورنیو سره دپاکستان په یوه مهاجر

پنځه غالي کې میشت وو او خپل هیواد ته مو لا کډې نه وې راوړې،خو دوختونوعبور او مرور ،دحالاتوګوتخنډونو اوهم دستر ادیب اوداسلامي امت دمنل شوي فاضل امام (محمد بن ادریس شافعي رح) ددې مشهورشعرچې:

(وَلَوْلا الشِّعْرُ بِالعُلَمَاءِ يُزْرِي
لَكُنْتُ الْيَوْمَ أَشْعَرَ مِنْ لَبِيد
وأشجعَ في الوغى من كلِّليثٍ
وآلِ مهلَّبٍ وبني يزيدِ
ولولا خشيةُ الرَّحمنِ ربِّي
حسبتُ الناسَ كلهمُ عبيدي

(اغیز وو،بالاخره زه یې د،تخیل ،هیجان او شعري قریحي له غزلبولې او رنګینې نړۍ څخه دنثر تحلیلي او لیکنیزې نړۍ ته بوتلم، چې داد ی ترننه پکې لا لهانده یم او کوم وروستي ساحل ته لا نه یم رسیدلی .

دزده کړې په باب به درته دومره ووایم چې : ترلسم ټولګې پورې مې هیواد کې ښوونځی لوستی او متباقي درسونه مې دهجرت په دیار کې بشپړکړي ، په پای کې له مشهور علمي کانون (جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک) څخه فارغ شوی او همدا کال مې له نیکه مرغه د (وفاق المدارس العربیةپاکستان / العالمیة/ایم ای عربي /اسلامیات)امتحان ورکړ اوپکې دخدای تعالی په فضل بریالی شوی یم ،څه وخت وروسته دالله ج په مرسته پدې موفق شوم ،څو هماغلته (اکوړه خټک)کې په اسلامي فقه ، افتاء او قضاء کې تخصص هم ترسره کړم اودخپل علمي ارمان دا پړاو هم په کامیابۍ تر سره کړم .ترفراغت وروسته مې ګڼ کلونه په مدرسو،ښوونځیو او پوهنتون کې تدریسي او تعلیمي چارې مخکې بیولي ،ګڼې هراړخیزې مقالې مې لیکلي او دادی لکه چې وینئ ، اوس هم پرې بوخت یم . دعملي جهاد سره مې دمینې حرارت دومره ځپاند وو،چې لله الحمد دروسانو او کمونستانوپرخلاف دجهاد تودو مورچلونو ته دخپل کم عمر او سن وسال سربیره ،بیا هم ګڼو جهادي جبهوته دروسانو او داخلي کمونستانومقابلې ته تللی یم ،چې دادی دلویدځ اشغال پر خلاف په فرهنګي مورچلونو کې دخپلو نورو قلموالو او فرهنګي مورچلوالو سره ددې اغزنې لارې لاروی یم او دیوه سوکاله اسلامي افغانستان په هیله مو دقلمي جهاد مورچل ورته نیولی دی ،ګوندې که سوبه مو روزې شي !

په جهاد،مبارزه ،عرفان ،علمي او عملي ژوندکې راته له سلفو صالحینو څخه راوروسته، دبرصغیر د دیوبند د دارالعلوم دعلماوو دمکتب فکر تګلاره او دخپلو درنو اکابرو نظریات تر نورو غوره او پر حقایقو ولاړ ښکاري او فکرکوم، چې نن سبا دفتنو په دور کې همدا علمي او روحاني قشرداسلامي لیدر لورې ، دعوت ،تصنیف ، تدریس ، دجهاد او هم دتصوف یو ښه تصویر او یوه ښه الګو مسلمانانوته وړاندې کوي او ددې مکتب فکر یو ښه انځورېږي خلکو ته وښود. نو بویه که مو دا انتخاب دفتنو له ګردابه وساتي !

او عملي ژوند خو نن سبا د کړاوو نو دویم نوم دی اوهاغه دتورې او قلم دشهسوار ستر (خوشحال خټک)په وینا چې : سیاست او ادب دواړه (توأمین)یا غبرګولې ورونه او دواړه دعملي ژوندانه دښیرازۍ او ارتقاء بنستیزې ځښتې دي ،نو ځکه خو کامیاب عملي سیاسي ژوند هم ادبي تومنه غواړي او هم علمي قوت ! دغرب ښکیلاک چې دځینو ناعاقبت اندیشه خلکو د سیاست او ادب تګلورې یې بدل کړې او آن دانحراف پر خوایې روان کړي ، ستونزمنه به وي، چې زما غوندې یو څوک دې ،پکې په ډېره ساده ګۍ،اسانۍ او بشپړې استغنا او بې پروایي سره دخپلې هوساینې او پرمختګ نیلي وځغلوي او ځان دې دسیالانوسیال کړای شي، خوبیا هم لکه چې وایې:

(هرسړی په خپله وسه پړ دی)، بویه که دځښتن تعالی مرسته مو چاره کې سمسمکی راولې اوڅه دژوند خوږلنې راپه برخه کړي!

۲-پوښتنه:که ترهر څه دمخه دروان شعري او ابي بهير دځرنګوالي موضوع ته راشو،چې په داسې وخت کې چې هېواد تر قوي اشغال لاندې دی، او مغرض جهتونه ددیني او اخلاقي انحراف په لور د ځوان کهول بیولو په هڅو بوخت دي په شعري او ادبي بهيرېي منفي تاثير څومره محسوسوي؟

ځواب: شک نشته چې ځوانان زمونږ دټولنې زير بناء او دملا دتیر (ستون فقرات)حیثیت لري او دهمدوئ دتاندي انرژۍ څخه دښې راټلونکې تمه شوې ده ،نو ځکه خو اشغالګرهم کوښښ کوي، چې همدا تانداو بهاند قشر-چې دزلميتوب احساسات يې څپانده او ډير ژر اغيز قبلولای شي، تر نورو ړومبی دخپل سوليدلې تهذيب تر اغيز لاندې راولي او (خدای ج مکړه) دهوا اوهوس په پيچومو يې سر کړي ،د(۲۰۰۱ز) کال يرغل يوازې پوځي نه، بلکې هم پوځي ،هم کلتوري ،هم اقتصادي اوهم مذهبي يرغل و ،دهيواد او اسلام دښمنانو پټيلې وه ،چې څو پر دين اوخاورې مين اولس، له خپل کلتور او عنعناتو پردی نکړو او دلويديځ په سوليدلې تهذيب يې روږدی نکړو، ګوندې په داسې يو روايتي قام برلاسی ناشونی دی ،خپل ټول تبليغاتي چينلونه يې دې ته وګمارل، ترڅو ځوان او تاند کهول اخلاقي انحراف ته وهڅوي او دخپل روايت ، کلچراو اسلامي ثقافت پرځای يې دهوا او هوس دشيطاني غريزو اشباع ته تشويق کړي ، داخبره چې زمونږ پر ادبي او شعري بهير يې اغيز شته او که نه ؟ او که شته نو څومره دی ؟ هغه ژوره پوښتنه ده ،چې د ابعادو تل کې يې ځواب موندل کيدای شي ،ځنګه چې ادبيات دولس له مينځ نه راټوکيدلې احساسات ،عواطف او ملي سمبولونه دي ،نو طبعي خبره ده ،چې هغه شاعري او ادبيات به ضرور ترخپل اغيز لاندې راولي، چې داشغال په موسم کې پنځول شوي او څه ناڅه يې نفسي هيجان روزنه ورکړي وي ،داځکه چې يو شمير قلموال ،شاعران او ليکوالان ،همدا اوس هم ددوئ په ځيرو شخوند وهي ،او دشنو ډالرو رحم وکرم ته جګ جګی کوي ،همدا اوس زه يو شمير نوماند شاعران او ليکوالان پيژنم، چې دلويديځو هيوادونو له سفارتونو څخه پنډونه پنډونه ډالر اخلي او په اوونيو اوونيو کابل کې ددوئ په سفارتونو کې ميلمانه وي او شاعرانه سترګې يې په ټنګ ټکور،کليسايې اغيزو بې نوره شوي وي ،دغربي سفارتونو په شراب او کباب خماروي او دغرب دټيورسنانوپه لاربښوونو او ملا ټپونو يې لس ګونه بې محتوی او بې کيفيته کتابونه درګرده چاپيږي ، دهغوئ داشغال دمشروعيت لپاره دشعر او ادب سپيڅلې ژبه په سوان تراشي او دخپلواکۍ دزلموټو او سرو بځرکيويا(کبريت احمر) دسياسي وژنو په لاره کې له يوه مجرمانه ګام اخستلو څخه هم سرفه نه کوي .

هوکې !هغه شاعران او اديبان چې يا دجهادي مقاومت تر سيورې لاندې په خپله نازکخياله شاعرانه ژبه او فنانه لهجه داشغالګرو مقابله کوي، حماسي مورچلونه يې تاوده ساتلې اودسنګر دمجاهد دټوپک د کارتوس غوندې پر دښمن دخپل شعرانګارشيندي، لکه(خوشحال خان خټک) چې وايي : (زما ژبه نده اور ده /ګوزارونه دټوپک کا) نو دا او داهغه خپلواک مسلمان شاعرحماسې چې لا هم دې زورواکۍ او بهرني يرغل نا آرامه کړي او دده اسلاميت او افغانيت دخارجي عسکرو شتون نشي برداشت کولای او ضمير يې دا نه مني ،چې داله پيريو نه دآزاد قام حريت دې لويديځوال وګواښي: لکه چې دآزادۍ شيدا (استاذ فضل ولي ناګار) وايي

بيــا د پـــامير لـــه سره پورتـــه ګردلـــه وختـــه
د نـــرۍ بـــام تـــه مـــو د فتحـــې قافلـــه وختـــه

د افغـــاني شـــاه زلمـــي وینـــه د غـــیرت پـــه ډګـــر
پـــه تعهـــد د جلبیـــب ؓ او حنظلـــه ؓ وختـــه

ترک و تاجـک یـې اسـتقبال تـه وړي د وینـو ګـلان
چـــې پـــه آمـــو د ابـــدالي کـــړه شـــمله وختـــه

زمـــا تکبـــیر د دورانســـــازي انقـــلاب پیلامـــه
چـې لـه کشـمیر تـر کاشـغر نـوې ولولـه وختـه

دا او ددې په شـان داسـلامي تفکـر دلرونکیـو قلموالـو او سـپین ږرو شـاعرانو ادبیـات او شـاعري هیڅکلـه دروان یرغـل اغیز نه مني او نه یې داسـلامیت او افغانیـت دغـرور پـر ټنـده داشغال غبار ښکاري ،بلکې دا ادب ،دا لیکوال او دا شاعر هغـه کس دی، چې د رزم وبـزم پـه غبرګـو کهکشـانونو کـې یـې نـه یوازې داچې خپلـه شـاعري اود ادبي هوسـې ځغاسـته دظالم پـر وړاندې دبغاوت آسـانځکو غرونـوکې خپلواکـه سـاتلې، بلکـې پخپل بلالي (رض)اذان اود حسان بن ثابـت رض)پـه توحیـدي وړمو یې دولس دوینښتابه هڅه کړې او یرغل یې ورته بې نقابـه کړی دی .

مطلب داچې دهغو موسمي شاعرانو او لیکوالانـو ادبیـات به یې څه ناڅه اغیزمن کړي وي، هاغه چې دیرغـل پـه چوپړکې ټوکیدلي وي او دلویدیځ دکلیسا په اوبـو پریمنځـل شـوي وي ،خو هغه ادبیات او اصیل فرهنګ چې تـل یـې دیرغلګرومقابلـه کړې اوپر خپل تقدس پایدلې دي، ناشونې به وي چې دومـره ژر ورنه اغیزمن شي !

۳-پوښتنه: د هېواد دا زادۍ لپاره په روانه مبارزه او جهاد کـې د مـؤثرې وسـیلې پـه توګـه کـه دشـعرو ادب پـه تـاثیر او تاریخي شالید باندې درڼا اچولو ترڅنـګ زمـونږ پـه ټولنـه کـې دشعرو او ادب راتلونکی راته څه ووایې؟

ځواب :افغانستان چې دپیړیو په پوړیو کـې دیرغلونـوډګر پـاتي شـوی ، یـا د یرغلونوپـه وړانـدې دولسي- جهـاد قیـادت روحانیت کړی او یا شاعر او ادیب ! همـدوئ وو، چې ولسـونه به یې دیرغل په وړاندې جهاد ته رابلل ،عالم به دمنبر او محـراب له لارې او شاعر ادیـب او دتـرنم خاونـد بـه سـترو غونډوکې دترانو ،نعت او ترنم په ازانګه دبغاوت چیغې وهلې،همدا نـږدې په معاصره دوره کې دپیرنګـي ښکیلاک پـر وړانـدې دافغانـانو جهادي مقاومـت چـې علـماوو رهبري کـاوه، خـو دشـعر او ادب دقافلې دجرس شوراو ځوږ یې تر ولسـونه پـه وجـد او هیجـان راوستل ،دپیغلې ملالې تاریخي ټپه (که په میوند کې شهید نـه شوې /خدای ګلالیه بې ننګۍ ته دې ساتمه)څـومره لـه سـوز او ګداز نه ډکه او پاروونکې وه، چې دتاریخي میونـد بـایللې غـزا پرې بیرته وګټل شوه ، دمعاصر افغانسـتان دمؤسـس سـتر احمـد شاه بابا رح په قیادت کې دهند مرهټیـانوسره پـه (۱۷۶۱ز)کـال کې تاریخي جګړه اود میرویس بابارح له ایراني (ګورګین) سره دغزواتو تر شا هم همدا شـاعر او مـترنم پـه خپـل ملکـوتي غـږ ښتانه قبایل او قومونه په احساساتو راوسـتل او د(مرهټیـانواو ګورګینیانو) ځالې یې پرې ریز مریزکړې ، (احمدشاه بابا)پخپلـه شاهانه او شاعرانه ژبه څه ښه وایې :راته یـو دې بحـر وبـر /کـه څه سمه ده که غر *په همت به یې تسخیر کـړم /شـاهانه پـه شـان وفر.یا لکه داحمدشاه بابـا رح داحماسـې غـږ: چـې بـر کـړی مـې خدای ج لاس په رقیبانو /ترو به زه دهند پـه لـور پـه تماشـه ځـم *چې دهند دملکو فتحه مې روزي شوه /نوایران لـره بـه تـوغ پـه نغاره ځم * پرداکړې داد دې خدای ج پښتیهانه نشي /تـرنګین مـې ایران لاندې شاهانه ځم ....) همداشـان دروسـانو دیرغـل او هـم دافغاني دکمونستانوپه وړاندې هم همدا باشعوره فنان شـاعران ،فرهنګیان او فرهنګپال وو،چې دمورچلونـو دزمریـالیو غونـدې په کلک هوډ ودریدل او دسرې امپراتورۍ پرخلاف یې خپل قـام

تـه دجهـاد او پـاڅون ترانـه وغږولـه ، لکـه دجهـاد اوادب قافلـه سـالارمولوي محمـد يـونس خـالص رح د زولنـودا شـعرچې داسارت دزولنو تصويريې پکې څومره ښه انځور کړی دی :

.مـه خانـده ظالمـه کـړپهار دزولنوتـه مـې
گـور ه نتيجـه کـې اخـر کـار د زولنـو تـه مـې

تاتـه غرابـې کوتـه قلفـې مظلـوم بنـدې ښـکارم
نـاځې دجنـت حـورې سـينگار دزولنـو تـه مـې

انـس او جـن لاځـه چـې ورتـه اسـانو کـې هـم
غـوږ ملايکـان نيسـې شرنگـار دزولنـو تـه مـې

خدای چې راته وايـې څـۀ دې راوړل ورتـه وايـم بـه
داپـه ښنـو کـې وگـوره پرهـار د زولنـو تـه مـې)

يا د سـتر اديـب او دافغانسـتان د(حمـزه) استاذفضـل ولي (ناگار) دا شاعرانه وينا چې:

(ای لـــه پېريـــو نـــه آزاده اســـلامي امتـــه!
شـهيد د خپـل قـبر تـر څنگـه يـو ځـواب پريښـی

شابسـې! دا بهـير کـړئ اوږد د مهـدي تـر پـاڅون
د وينـو هـر ځـاځکی مـې گـرم انقـلاب پريښـی)

همداسـې د اکاډميسـن علامـه عبدالشـکور رشـاد بابـا اسلامي او افغاني غيرت وو،چې دامريکـا ديرغـل پـه غبرگـون کې خپل غږ داسې اوچت کړ:

نـن افغـــان ولـس تـه پيښـه فـــــاجعه ده
تکـــــی اوري بـــــلازيږې د غـــم شـــپه ده

ويـر راځغلـې درد را دانگـې، مـرگ حملـې کـړې
وحشـت خـير دی چـې وسلې پـه وينـو سرې دي

قتلونـــــه دې جـــــاري، شـــــداد شـــــاهي ده
افغانـــــان کـــــړول کيـــــږې، تبـــــاهي ده
* * *
خـــونريزي ده، مصـــيبت دی ســـتر نـــاورين دی
دښـــمني د پـــاک اســـلام ده، ددیـــن کـــين دی

اتفـــاق دی عيســـويانو هســـې کـــړی
چـې بـه نـه پرېـږدي آزاد مسـلم وگـــړی
* * *
د ســـپين بـــرج اهريمنـــان د شر خـــدايي کـــا
ديـــزدان د پـــيروان ســـرکـــوبي کـــا

ايـل شـــارون دی مقتـدی جـورج بـوش امـام
غـــواړې و نغـــاړې کمبـــــله د اســـلام ....

همداسـې کـه دپښـتو ادب لـومړنی دورې تـه ،چـې د(۱۰۰)سلمې هجري پيړۍ نـه تـر (۹۰۰)هجـري پيـړۍ پـورې تخمين شوي ، سر ورښکاره کړو،نو د(امير کروړ سوري) شعر چې په پښتو ادب کې ورته وياړنه وايې ، په (پټه خزانه) کې محمود هوتک رانقل کړي : (زه يم زمری پر دې نړۍ لـه مـا اتـل نشته /په هندوسند وپرتخاروپرکابل نشته /بل په زابـل نشـته ،لـه مـا اتـل نشـته ....) يـا لکـه ددې دورې د نـامتو شـاعر (ښکارندوی) شعر ......په غورځنگ غورځنگ له خـولې ځگونـه باسي /لکه شن هاتي شناکاندي سيندونه .

يا دپښتو ادب منځنـی دورې چـې د(۹۰۰)هجـري نـه تـر (۱۳۰۰)هجري نيتې پورې اټکل شوي شهسـواران :ميـاروښـان بابا د(خيرالبيان) غونـدې کتـابونو نيمه منظـوم نثرونـه ،داخنـد درويزه بابا د(مخزن الاسلام)غوندې تصنيفاتو نيمه منظوم نثر ي متنونه ،يا ددې دورې په وروستيو کې درزم وبزم دميدان اتـل خوشحال خـان ختـک شـعري کليـات اوورپسې۔ دپښتـو ادب

دوروستۍ دورې چې د(۱۳۰۰هـ)پېرۍ نه وروسته اتکل شوې او پکې فوق الذکر ،انګلیسي- او روسي یرغلونه شوي، نـړدي ټولـوکې دولســونودپاڅونونو ،ددینــي او افغــاني شعورهڅونې، د نهضت رول ،د روحانیت تر څنګ شاعر او ادیب ور کړی، همدا اوس یونیمه لسیزه د(۲۰۰۱ز)کال له یرغل څخه وروسته، همدا فرهنګي ستېې (شاعران ،لیکوالان ،ترانه ویونکي او دترنم بادشاهان)دي، چې ولسونو ته دیرغل له مخ نه نقاب لیرې کوي اوپه خپلو خوږو غږونو، دجهاد ،مجاهد ،شهید ،جنت ،حورو او غلمانودګټات انګیزې ورمنعکس کوي او استشهاد طلبه برید ته یې رابولي ،تردې مخکې دصدر اسلام اشعارخو ددې مدعی لپاره ښه ثبوت دی، لکه دحضرت حسان رض شاعري ،چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به مسجدنبوي کې حسان بن ثابت ﵁ته ﷺپخپله منبر ودراوه ،اوحسان ﵁ به پرې له رسول الله ﷺ او اسلام څخه دشعرپه ژبه دفاع کوله اورسول الله ﷺبه دحسان بن ثابت ﵁ په هکله ویل :چې (روح القدس) دحسان تایید کوي ((وکان النبي صلى الله علیه وآله وسلم ینصب له منبرا في المسجد ،یقوم علیه قائما ینافح عن رسول الله صلی الله علیه وآله ،ورسول الله صلی الله علیه وآله یقول: ان الله یؤید حسانا بروح القدس ما نافح عن رسـول الله صـلى الله علیـه وآلـه.))او داســې نورتـاریخي لاسوندونه ....

ترکومه ځایه چې ټولنه کې دشعر دراتلونکې مسئله ده اوداچې مستقبل یې راته څه وایې ،بنایې ددې خوګوتو شمیر پلورل شویو قلموالو اخلاقي انحراف یې آر مسیر او تګلاره منحرفه نکړې ،نه به ددوئ په پردیتوب د ټولنیز پرستیژ له کهکشانه و غورځیږي اونه به یې تقدس پایمال شي،بلکې دا ګردله او لوغړن مابنام لکه چې ښکارې، نور دحریت او فتحې په افق کې په ډوبیدو دی اوګانده کې ورته دبقاء یوه لویشت ځای هم نشته ،هو دا به ضرور ومنو، چې یو شمیر موسمي شعرونه او دیرغلونو تر لیزرې شعاوو لاندې تخلیق شوي شاعران او سندرغاړې به دموسمي مچانو غوندې له منځه ځي ،لکه (استاذحمزه شینواری) چې وایې : شاعران دپشه کال دمچانو غوندې ډیر وي ،خو چې کله پرې موسم تیر شي ،نو بیا یو یا دوه پاتې شي او نور له مینځه ځي ...) دکمونستانوددور د(سلیمان لایق) غوندې شاعرانو موسمي شعرونه به دابدیت په خوب ویده شي، خو هغه چې شعر وي او شعریت پکې ژوندی وي،په اسلامي ،جهادي او افغاني روحیه یې مرغلرې پییل شوی وي ،حماسه ولري ،دمظلومانو آهونو پکې انعکاس کړی وي ،هغه هیڅکله دابدیت په مرګ نه مري او نه یې موسم وژلای شي ، بلکې هغه بل تل ژوندي وي ،ترڅو چې دجهاد روحیه ژوندۍ وي ،ترڅو چې ولسي ناخوالې انعکاس ته اړتیا لري او ترڅو چې عواطف ژوندي وي ،نو نه شعر خپل مقام له لاسه ورکوي او نه په ټولنه کې خپل مسیر غلطوي ،البته کله نا کله سمیدل غواړې، څو داخلاقي انحرافاتو مخه ونیول شي ،دشعراو ادب راتلونکی رانه غواړې، چې ددې بې لاریو شعاري شاعرانوله اخلاقي انحرافه د شعرتقدس مصؤن کړو،ځکه چې دا شعر یوه الهامي القاء او الهي عطاء ده، او دا هغه معنویت دی، چې په ډالرو یې پلورل داخلاقي انحرافاتو پر خوایې بوتلل، دشعر داصالت له مقتضیاتو خلاف او دتأسف ځای دی ،زمونږ ټولنه چې یوه متدینه او پر عنعناتو ولاړه دودیزه ټولنه ده ،دکفارو دتجاوزاتو څخه ډیره کړیدلې ده ، ددې تحمل او قوت پکې نور نشته، چې دوینو ،کنډوالو ،وژنو او خارجیانو په شتون کې یې بیتونو کې عشق،خط وخال ،،مئ ،خم ،ګودر ،منګی او..... غریزې منعکس شي ،بلکې دا رانه غواړې، چې خپله ټولنه او ولس پداسې ادبیاتو ژوندۍ کړو، چې په ټپونو یې مالګه ،نه بلکې (پایوډین او سپین بنداژ) کنبیږدواو اسلامي معتقداتو او

کلتوري انځورونو ته يې کلکه پاملرنه وکړو! نوزمونږ شعر رانه دخپل دتقدس اعاده غواړي اودا رانه غواړي، چې شعر شعر شي نه کوم زماني او مکاني شعار !

۴-پوښتنه:د ننني اشغال په وړاندې دهېواد دلويو ليکوالو او قلموالو لخوا هغسې- بيدارۍ او قلموالو مبارزه [کومه چې دشوروي دسرو لښکرو ديرغل په مهال و ليدل شوه] نن تر سترګو کېږي نه؛ بلکې دهغوی څخه آن ځيني ديرغل په خوا او ننګه ولاړدي، ستا په نظر ددې لاملونه او محرکات څه کيدای شي ؟

ځواب : زه به درته په سرکې د(مکسيم ګورکي) يوه ننګونه وليکم ، بيا به ځواب ته ورشم ،(مکسيم ګورکي)وايې : ادب دانسانيت محتسب دی ،ادب انسان ته دخپلواک ښکلې او سپيڅلې ژوند لارښيې اوله تيروتنو څخه يې ساتي .....نو رښتينی ادب دزماني او حالاتو تابع او مريی نه وي ،بلکې زمانه او حالات دهغه تابع وي ... رښتيا هم دامريکاپه مشرۍ دلويديځ ښکيلاک يرغل دځينو ضعيف النفس قلموالو ضميرونه وپيرل اوورڅخه يې دايمان او اسلام پالنې، اوهم د ديموکراسۍ په دنيوي جل بل کې ديوه دانتخاب ازمونيه واخيسته ،داسې قلموال يې دماديأتو په غولونکې چم کې خپل چوپړ ته هسې وهڅول او دنانځکوغوندې يې د اشغال په لوبغالي کې ولوبول ،چې داسلام ،ديانت ،وطنپالنې اوافغان پالنې جوغې يې پر سر ولاړې وي ،هيچا داسې فکر نه کاوه، چې داسې منل شوي علمي او فرهنګي ستې!؟ دې، دومره ژر دخپلو کړيو ژمنو په آموسبند کې سرچپه ولويږې ، دځو ډالرو په بدل کې به وطن پلرونې ته چمتو شي او دخپلو زړو شعارونو خلاف دې داسې ګامونه اوچت کړي چې آن خلک يې پر فرهنګي او جهادي ماضي شکونه وکړي ،خو ډير داسې دنګ برجونه مو نسکورشوي وليدل ،چې په څيړنه ،تحقيق،فنپارۍ،شاعرۍ اوليکوالۍ کې استادان بلل کيدل ، ډير ژرجهاد سره له خپل تعهده پښيمانه شول او داشغال لمنو کې ولويدل ،چې راتلونکی تاريخ به يې په باب پريکړه وکړي ،خوله نيکه مرغه ډير داسې ژمن او هدفمن قلموال او اديبان مو هم په سترګو ليدل ، چې دا يرغل يې په سختو ټکو وغانده او نه يوازې داچې غندنه يې کړي او داشغالګرو مرسته يې نده کړي، بلکې دخپل قلم په ژبه يې دروان جهادي مقاومت بي سارې ننګه وکړه او ديوه متعهد اديب په حيث يې خپله دنده څه نا څه ايفاءکړه ،زه داسې نوموتي او منل شوي اديبان پيژنم، چې ورځپاڼو ،مجلو اونورو مطبوعاتوکې د خپل مسلک ، تجربواوفنپارۍ له مخې استادان بلل کيدل ،خو د(۲۰۰۱ز)کال له يرغل وروسته يې ددولت رسمي مطبوعات چورلټ تحريم کړل ،يوچاترې وپوښتل ،چې ولي په اطلاعاتو او فرهنګ کې دنده نه اجراء کوي ،اوس خو پيسې ، مکافات تر پخوا پريمانه دي او تاته خو دا چارواکې دسوال ځولۍ غوړوي ،درناوې دې هم تر هرچا زيات کوي او ...او....نو ورشه خپله مخکينۍ وظيفه دې اشغال کړه ، مګر دده ځواب ورته داو:چې اوس به نو دامريکايانو پدې تور ه دوره کې څه ليکم ؟چاته به يې ليکم او دڅه لپاره به يې ليکم ! بس هماغه مو چې ليکلې بس به وي ،هغه مو ديوه اسلامي فکر په خاطر و ليکل، نو اوس خو دخپل قلم رنګ دنيواکګرو لپاره نه نشم مصرفولای او نه خپل ضمير پلورلای شم ....)).

خو لکه چې وايې : دحکيم کا ر له حکمته خالي نه وي ،دالله تعالی په هرکار او بدلون کې بلا حکمتونه نغښتې وي ، څښتن تعالی غوښتل ،چې ديو شميرداسې په اصطلاح پوهو او فرهنګياليو امتحان واخلي او ددوئ دمادياتو تمايل معلوم کړي ،({مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ} [آل عمران:۱۷۹])) ،دروسانو پر خلاف دجهاد اعلام چې هم ولسي-

او هم نړیوال رنګ یې لاره ،د مجاهدینو او مهاجرینو په نامه ډیرنړیوال کمکونه جهادي تنظیمونو ته راغلي وو،خوځینو خلکو ورته دبیت المال په سترګه ونه کتل ،مستحقوافغانانوته یې ورنکړل اوخپلې خیټې یې دحرامو نه ډکې کړې ،څښتن تعالی دیوه بل ظالم سره په جهاد مکلف کړل ،دلته وه، چې ددې حرامو او متزلزلو افکارو له امله یې پښې ښویه شوي او هغه د(طالوت ع) دقوم کیسه پرې وشوه ،چې پایله کې څوګوتې شمیر مجاهدین د(جالوت)مقابلې ته پاتې شول او فتحه یې هم په برخه شوه ، ((قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ /البقرة ۲۴۹أیت) })).

دداسې قلموالو دښویدو لاملونه ډیر دي، شاید ځینې په لویدیځې ولسواکۍ او غربي سیکولریزم ګروهه وي ،او ددوئ فرهنګي مرسته پر ځان د حلال نمکي بچې غونډې پور بولي ،ځینې قلموال به دمنطقوي ،سمتي ،ژبني او یاقومي تعصبونو پرښسټ داشغال ملاتړ ته هڅیدلي وي ،ځینو ته ملي ګرایي له اسلام ګرایې نه دکامیابۍ راز ښکاري ،خو ترټولو ستر لامل یې چې دډیرو ضمیرونه یې مسموم کړي او دمادیت زهر یې په ذهنیت کې پیچکاري شوي ،شایدیوازې دشنو ډالرو شوق ،مستو میوو،خم وشراب،هوا او هوس ،او ددین څخه نا سم برداشت کیدلای شي ،چې پدې زمره کې اشغالګرو ته دژورنالستانو چوپړ ډیر هینښونکی او دتأسف وړ دی، ژورنالستان یا خبریالان چې دخبریالۍ او خبرلیکنې په وخت څومره چوپړ نیواک ته کوي ، دا دټوپک دمرمۍ نه ډیره دمسلمان مجاهد سینه خوړوي ، او بیا دژیړ ژورنالیزم مخکښان چې دمجاهدینو خبرونه په تحریف شوي بڼه او داشغالګرو په پرسول شوي شکل رسنیو ته ورکوي، دیونه هیریدونکې زیان په بڼه پیژندل کیږي ،داسې قلموال چې دروسانو پرخلاف جهاد ته راووتل او دلویدځوالو په وړاندې سرکوزې شول ، ډیرو لږو مفادو په ګټات یې خپل اسلامي لید لوری له اصلي مسیر نه منحرف کړ،که نه ښه دسیاسي بصیرت ،علمي وړتیا ،لوړ استعداد او پخو تجربو خاوندان پکې وو او دا اوس هم کابل کې دې مذموم چوپړ ته توجیهات کوي ،دا کوم ډول ګناه نه بولي، لکه دمعتزله وو دفرقې غونډې ځانته یې استحلالوي بیا یې کوي .

خوداهرڅه دالله تعالی په فضل او رحم کیږي ،دعا ء مو داده، چې څښتن تعالی دې مونږ او زمونږ مشرانو ته دجهاد او هجرت په لاره کې ثبات ورکړي ،ترڅو دا روان جهادي مسیر خپل منزل مقصود ته ورسوواو نیم کله رانه پاتې نشي- ،هغوئ هم دعلم او دسیاسي بصیرت خاوندان وو،خو چې دخدای ج مرسته ورسره نه وه ،وښویدل او ګټلې فتحه ترې بل چا یو وړه ،هسې نه زمونږ برخلیک (خدای ج مکړه) هسې شي !

۵-پوښتنه: د اوسنیو مجاهدو شاعرانو شعرونه او د لیکوالو لیکنې د معنویت ، هدفمنتوب او ژمنتوب له پلوه څومره دداد وړبولې؟

ځواب: ډیره مهمه پوښتنه مووکړه ، دننیو مجاهدو شاعرانو شعرونه، دمعنویت ،هدف اوژمنتیا له لیدلوري ډیرپه تول پوره دي ،دا شاعران او لیکوالان، چې څه وایې او څه لیکي، هغه دیوه اسلامي عظمت او افغاني غرور ترجماني کوي ، هغوئ داسلامي تشخص احیاء،هیوادکې دنیواکګرو پر وړاندې مشروع بغاوت هڅول ،دمسلمان قام او هیواد نه ننګه اودیوه سوچه اسلامي شریعت دپلې کیدو تلوسه او دعوی ده، چې خورا ډیر تقدس او سپیڅلتیا پکې نغښتې ده ،دا داسې اهداف دي ،چې ډیر مشهور قلموال پکې پاتې راغلل او ویې نشو کړای، ترڅو یې منزل مقصود ته ورسوي او یو ښه تمثیل یې وړاندې کړي ،خو کومه روحیه ،ژمنه او هدف چې ددې روان جهادي مقاومت لیکوال ،شاعر او ژورنالست لري، ډیره

دستاینې ورې اوهاغه ده، چې دمقابل لورې هغه یې نلري ،هلته صرف دلویدیځوالو له مالي کڅوړو نه دشنو ډالرو دڅڅیدو مسئله مطرح ده او دلته دمعنویاتوسپیڅلې موخې ؛هلته دعشق ،خط وخال ،شراب وکباب اودلته حماسه ، دشهید دوینوخال ،دکونډو ،یتیمانو او مظلومانو ساړه آهونه ؛هلته دډیموکراسۍ دتعمیم او ترویج دعوت او دلته داسلامي تشخص تیورۍ؛ هلته داشغالګرو دپوځي شتون دمشروعیت چنې او دلته د متجاوزینو پرخلاف دجهاد دداعیې نه ننګه او..... یو لړ نور داسې توپیرونه شته، چې دجهادي مقاومت دلیکوال ،شاعراو ژورنالیست مقاصد ،پنځونې ،لیکنې او شعرونه دژمنتیا ،موخو او معنویاتو له پلوه په تول پوره کوي، دبیلګې په توګه داسلامي امارت دفرهنګي کمیسون چاپي او بریښنایي رسنۍ که وکتل شي او له سرنه تر پایه پرې نظر واچول شي، له ورایه به پکې دا صنفونه درته وځلیږي او ددې کره والی به درته جوت شي ،ترکومه ځایه چې زه پدې برخه کې مطالعه لرم ،دیرغل پر خلاف روان فرهنګي او کلتوري جهاد دځپل کم وکیف له مخې ډیر لوړ او ډیرقدر وړپدې دی، چې په ډیرو کمو امکاناتو پر مخ وړل کیږي ،که دتیر څوارلس کلن جهاد د فرهنګي یون سره یې پرتله کړو،او ددې او هغې ظروف ،حالات ،دقلموالو شمیر،دامکاناتو تعادل ،دخارجي او داخلي هیوادونو لاس نیوی، ټول په پام کې ونیسو ، نو شاید داضرور ومنو، چې زمونږ ددې روان جهاد فرهنګي هسته ډیره پیاوړې او پر مخ تللې ده ، دوئ په کمو امکاناتو او وسایلو ډیر څه کړي او باید چې ددې ځوانو او تاندو قلموالو خدمات دتاریخ په حافظه کې وساتل شي او په کمه سترګه ورته ونه کتل شي!

٦-پوښتنه : ځینې خلک وایې چې ادب له سیاست او ژوندانه څخه جلا فن او (ادب د ادب لپاره) اصطلاح کاروي، نه ادب دسیاست او سیاست دادب لپاره، ستاسو په نظر داصحیح ده؟

جواب : زما په آند دانا سمه نظریه ده او زه ورسره اتفاق نه لرم، داځکه چې داخبره هرچامنلې، چې یو ژوندی اولس به دژوندي ادب خاوند وي ،او یو ژوندی ادب دژوندي اولس سره اړه لري ،دا دواړه یو تربله تلازم لري ،لکه داچې هم منل شوي اصول دي :چې ادب دژوندانه تفسیراو تصویر دی ،ادب دیوه اولس دفکري ځلانوم دی ،ادب دیوه ملت دپوهې او ځیرکۍ نښه ده او ادب دیوې ټولنې دخیالونواوفکرونو هینداره ده ،که څه هم ځینې خلک ادب له سیاست څخه جلا کوي ،مګر دپوهانو له نظره دا نظریه په عملي ډګر کې کوم ارزښت نلري ،چې البته په ظاهر کې (ادب دادب لپاره)اصطلاح هم شته ،خو یوه تشه ادبي ټوټه هم دژوندانه دتصویراو تفسیر له چوکاټ نه بهر نشي- وتلای ،هرکله چې ژونداو سیاست سره لازم وملزوم دي، نود ادب او سیاست ترمینځ خامخادارتباط مزې غځیدلې او دعملي یووالي دظهور پامیرېې ډیر روښانه دی!

استادګل پاچا الفت وایې: دانسان په وجود کې دوه شیان ډیر عزیز او ارزښتمن معلومیږي، چې یوه ته یې زړه او بل ته دماغ وایې ،له دماغ نه علم اوفلسفه پیدا شوه او له زړه نه شعر اوادب ،

اروپایان زړه دعواطفواو نفسي- احوالو ځای ګڼي او مسلمانان دایمان او عقیدې ځای ته زړه وایې ،صبر ،رحم ،کرم ،شجاعت ،سخاوت دزړه کار دی ،محبت او مینه په زړه کې وي او شعر هم له زړه نه الهام اخلي او له زړه سره یې کار وي ؛لکه علامه سیدجمال الدین چې (عروة الوثقی)مجلې کې لیکي :ادب هغه فن دی ،چې دپاکو احساساتو په خوځولوسره دټولنې خلک دخیر په لورې بیایي او دوئ ته دخیر معنی ورښایې)ددې نه په ډاګه دادب اوسیاست تلازم جوتیږي ،سیاست کې چې

دتـــولنې دفـــلاح،ذات البينـــي مصـــالحت ،تـــرحم ،عـــاطفې ،تولنيزپرمختـــګ ،دينـــي او مـــلي وده ،صـــبر،زغم اود خيـــر او ښـيګڼې ګـرد مفـاهيم نغښـتل شـوي دي اوژمـن سياسـتمدارن ټولنه اوخپل وګړي دخير خوا ته بـوځي، نوهمـدا دادب غوښـتنه هم ده اوهمدا دادب تصويراو تفسير هم دی، چـې يـوه سياسي ليډرته يې ورښايي ، ددنيا لوی سياسي مشر يا ليډر چې اديـب نـوي، يعنـې ښـه وينـا اوهـنري ليکنـه نشي۔ کـولای، هيڅکلـه دمشرتابه جګ مقام ته نشي رسـيدلی ،اروانښـاد پوهانـد صـديق الله (رښتين) وايې چې هيڅ يو سياستمدار تـر هغـې د سياسـت لوړو پوړيو ته رسېدلی نه شي، چې اديب نـه وي.)پـه ادب کـې هم دجهال او ښايست پلټنه کيږي او هم پکې دژوندانه پټ او پنا اړخونه راڅرګنديږي ،نو ځکه ادب هم يوه پوهنه ، هم يو فن اوهـم دسياسات رومبی بنسټ دی ،يو سياست پوه چې اديـب وي، پـه ډيره اسانۍ سره دخلکو زړونه تسخيرولای شي او دخپـل فـن او ادب په قوت په خپله کشش آميزه وينايا مطبوعاتي ليکنـه خپـل هنر څرګندوي ،او پخپله ساحرانه وينا او ليکنـه اوريـدونکي او ليدونکي دخپل جادوتر اغيز لانـدې راوسـتلای او خپـل ځـان پسې يې بيولای شي .نو يو سياسـت پـوه تـه ضرور ده، چـې دا بايدله ادبياتونه بهرمنداو ددې هنر نه په استفادې سياسي لـوری وټـاکي ،نـوويلای شـو ،چـې سياسـت او ادب سره دواړه داسـې ترلې اړخونه دي، چې يو يې له بل پرته نا بشپړ اودخپـل ظهـوراو تجلی واحد(کوه قاف)لري !

چې نن سـبا ددې لپـاره يوجـوت مظهـر سـياسي او ادبي غونډې په ګوته کولای شو ،کله چې يوه سياسي جلسه کې تـرنم ،نعت ،ترانه يـاهنري وينـا نـوي، نـو ټولـه غونـډه پيکـه بريښـي ،همداسې چې کله کومه ادبي مشاعره يا کـوم ادبي ناسـتی وي او هلته دسياست تومنه پکې کمه وي،نـو دا مشـاعره او ناسـته هاغسـې جـل بـل نـه لـري او نـه شـاعران بيـا هسـې جـذاب او غړغړانده مترنم شعرونه زمزمه کوي ،نو نن سبا داتـول سره تړلـې دي او دواړه سره مرمرينې رينښي لري !

۷-پوښتنه: دامريکا او لويـديځ لخـوا دعسـکري او پـوځي يرغل ترڅنګ په اخلاقي او فرهنګی ډګرکـې يـې يرغـل څـومره پراخ او ډارونکی دی؟

ځواب :عموماً دنـړۍ سـياسي حکومتونـه لـه دريوکـاري قواووڅخـه مرکـب وي، (اجرائيـه ،مقننـه او قضـائيه قـوه)خـو لويديځ کې دزيات اهميت له امله فرهنګي چارو ته څلورمـه قـوه وايي ،لويديځوالو چـې هيـوادکې داسلامي امـارت پـر خـلاف پوځي بريـد کـاوه ،نوهمهالـه يـې ورسره پـر اسـلامي او افغـاني تهذيب هم يرغل پيل کړ،نيـواکګر داسـلامي هيوادونـو ولسـونه دهمدې تبليغاتي رسنيو اوډله ايزو چينلونـو پـه مـټ بي لارې کړي ،ددوئ ديرغل ځانګړنـه پـدې کـې ده ،چـې لـومړی دځـوان کهول اخلاقي انحراف بانـدې کـار کـوي ،کلـه چـې يـو شـمير ځوانان له خپل اسلامي تهذيب او مذهب نه پـردي کـړي ، نـو په ډيره اسانۍ سره يې بيا پوځي يرغل برى مومې ،چـاپي رسـنۍ ،بريښنايي چينلونه ،ويډيي فلمونه ،راډيوګانې ددوئ هغه وسـايل دي، چې دمسلهان نسل داخلاقي انحراف لپاره تـرې بريـالی کـار اخلي ،هيواد کې هم دوئ داتجربه انجام کړه او اوس يـې هـم تـر لاس لاندې نيولي ده ،خو لله الحمد، دلته چـې داسـلامي امـارت فرهنګي محاذ هم ددوئ پر وړانـدې پـه پـوره قـوت سره فعاليـت کوي، نود ښارونو څخه بهر، ددوئ دتبليغاتي ماشـين اغيـز کـم دی او زيات ځوانان اوس دمجاهدينو رسنۍ تعقيبـوي ،کـه څـه هم دجهادي مقاومت درسنيو شمير ديرغلګرو په وړاندې ډير کـم دی، ځکه دهغوئ په سلګونه دي او دمجاهدينو پـه لسـګونه دي، خو بيا هم دمجاهدينو دفرهنګي وسايلو اثرات څـومره چـې کتـل کيږي ،ډير زيات دي او دمقابل لوري ډير کم ،پـه پـوره اطمينـان سره ويلای شو، چې افغانان من حيث القوم مسلهانان دي او خپـل

اسلامي او افغاني روايات ورته دېرديو څخه ډېر مرغوب او محبوب دي ،نوکه اشغالګر څومره کوشش هم وکړي ،دېرې چانس يې ډير لږ دی او ددوئ غربي تهذيب ته به پدې روايتي ټولنه کې هيڅوک پر اسلامي او افغاني تهذيب ترجيح ورنکړي!

۸-پوښتنه :دامريکا دپوځي، فکري،اخلاقي او فرهنګي يرغل په وړاندې داسلامي امارت دفرهنګي چارو کميسيون هڅې او قلمواله مبارزه څومره برياليۍ او دستاينې وړده ؟

ځواب :که ديرغل دابعادو وسعت ته وکتل شي، نو حقيقت دادی، چې دکميت له لحاظه دا ډير پراخ او هر اړخيزيرغل دی ،هم پوځي دی، هم کلتوري او هم فکري او اقتصادي ! داسلامي امارت او افغان ولس مقابلې ته نه يوازې امريکايان راغلې، بلکې ټول لويديځ او ګرد حليف حکومتونه يې چې نږدې تر(۴۸)پورې يې اشر رسيږي، دمډرنواو عصري وسلو سره ديو بې وسلې او تش لاسي ولس استيصال پسې له زرګونو کيلوميتره ليرې واټن نه راغلې، خو دکيفيت په لحاظ نو بيا حال بدل دی،ځکه له کوم کيف او معنويت څخه چې مجاهدين بهرمند دي ، غربي لښکرې ترې محرومې دي .

دفرهنګي کميسون هڅې ،په همدې پوړتنې محور څرخي ؛ داشغالګرو ډله ايز وسايل بې خرته ډير دي ،چې ددوئ ديوي شميرنې له مخې يې دراډيو ،تلويزون ،اخبارونو ،مجلو ،مهالنيو ،انټرنيټي جالونوپه شمول نږدې تر(۶۵۰) نه هم شمير ډير دي، خو په وړاندې يې داسلامي امارت دفرهنګي کميسون چاپي او بريښنايي تبليغاتي وسايل دګوتوپه شمير دي ،خو چې کله دکابل دچارواکيواو لويديځوالو غوغاګورو، تل همدا واويلا کوي ،چې داسلامي امارت ډله ايز وسايل ددوئ له هغې ډير پرمختللې او په ضرب دڅو دقيقو کې يې خبريالان ددنيا کونج کونج ته دخپلو سوبو خبرونه رسولای شي ،همداسې يې مبصرين او تحليلګران پخپلو کتنو او تجزيو کې په معاصره ژورناليستکه ژبه او روانه لهجه ديوې تودې موضوع يا علمي او معلوماتي سکالو عمق ته ځان ډير ژر رسولای شي، چې مقابل لوری دا کار دډيرو اسانتياوو او امکاناتو سربيره بيا هم نشي- کولای ،پداسې حال کې چې د همدوئ زر خريد ژورنالستان دطالبانو دبري خبر، څو وارې قيچي کوي او هسې ديوې نا تائيد شوي ادعى په عنوان ديوه ادعايي ويانډ په جملوخپروي ، خو بيا هم يرغلګراو لاسپوځې اداره يې د اسلامي امارت دفرهنګيانو فعاليت خواشينونکی بولي ،چې دمقابل لورې دهمدې اعترافاتو او کوکاروله امله دفرهنګي کميسون دتاندو او ځوانو فرهنګيانو دکار قوت او ځواکمنتيا له ورايه بريښي !

ددې نه بريښي چې دفرهنګي کميسون ليکوالان ،ژورنالستان او قلموال نه يوازې داچې دلوړو استعدادونو درلودونکې دي او پخې کاري تجربې لري ،بلکې خپل ورسپارل شوي کار يا مسؤليت ته مخلص او ديوه عالي فکر او سپيڅلې هدف په پار يې ترسره کوي ،نه خپل کار کې شپه پيژني او نه ورځ ،غواړې چې دسنګر دمجاهد په څير دخپل قلم وينه تويه کړي او خپل مقدس هدف ته ځان ورسوي !

دنړۍ والو داستبداد وجه ده ،چې نن داسلامي امارت فرهنګيان دکابل ميشتوهغو غوندې آزاد ژوند نشي کولای او نه خپله فرهنګي مبارزه په ډاګه ترسره کولای شي ،ددې سربيره چې دبيا ن آزادي دملل متحد دمنشور په موادو کې يو مهمه ماده ده او په نړيواله سطحه څوک دچا دبيان دآزادۍ مخه نشي- نيولای، همداسې دکابل دحکومت دنوي اساسي قانون (۳۶)ماده هم داسې حکم کوي ،چې بيان آزاد دی او هرڅوک ددې آزادۍ نه ګټه اخستلای شي، خو بيا هم دجهادي مقاومت دفرهنګيانواو ويندويانوپر بيا ن او اظهاراراتو کلکه پابندي ده ،نه يې څوک دغږ دجګولو برداشت لرلای شي او نه يې ديو

فرهنګي ليکوال ،شاعر او شنانددژوند دساتنې تضمين ورکوي ،هغه ديو بام او دوه هوا خبره ده ،نه نړيوال دانصاف او ټيکاؤ طرفداري کوي او نه دکابل واکمنه اداره ! هسې شعارونه او غولونکي مطبوعاتي خبرې دي چې نړيوال پرې تيرباسي ،نو ځمکنی حقيقت نه لري ،خو بيا هم چې مجاهد فرهنګيان ،چې څومره پرمختګونه کوي او دنيا يې هينښ کړي دازه ددوئ دنبوغ ،ايماني فراست بولم اودا لاسته راوړنې بې ساري مهارت باندې دلالت کوي!

۹- پوښتنه : په اوسني وخت کې چې نړۍ کې دانټرنيټ معلوماتي جال غوړيدلی او دقيقه په دقيقه نوي معلومات وړاندې کوي دچاپي رسنيوارزښت او رول ته په کومه سترګه ګوري ؟

ځواب : ډيره جالبه او پر وخت پوښتنه دې وکړه ،داځکه چې نن سبا په ځينو مجالسو کې همدا خبره زمزمه کيږي ،چې اوس خو هرڅه کمپيوټري شوي ،انټرنيټ شته، نو دا چاپي مطبوعات څه پکار دي ، چاپي مجلو ،ورځپانواو مهالنيو ته څه اړتيا ده !! شايد همدا دوستان سبا دا ووايي ،چې دا کليزې هم په کاغذ چاپيږي ،دا دمدرسو ، ښوونځيو او پوهنتونو تدريسي- او تعليمي کتابونه هم چاپي دي او په کاغذ چاپيږي ، اوس خو دانټرنيټ دنيا ده، راځئ ويې تړو او ټوله پاملرنه برېښنايي پاڼو ته واړوو.......

نه پوهيږو! چې دا دوستان نني افغانستان ته هم داروپا له عينکو ګوري که څنګه ؟ داروپا غوندې افغانستان هم په دومره کم وخت کې ډېر پرمختللی کوي که څنګه ! ترڅو د(اينټيپيندېن ورځپانې) غوندې يې دفتر وتړي او دکاغذ پر ځای يې برېښنايي کړي ! اوهمداسې ټولې اطرافي سيمې دانټرنيټ دجال تر پوښښ لاندې سپين پرک ويني که څنګه ؟ زه خو وايم: چې اوسنی افغانستان داروپا سره پرتله کول (دهغې هيواد تجربي دلته تکرارول)او زمونږ دا دلمريزې انرژۍ د(شمسيانو) کمزوري برېښنا دپاريس،واشنګن او لندن دپرمختلليو ښارونو د اوبو له برېښنا سره برابرول او بيا پرې حکم کول ،چې نو اوس دلته هم دچاپي رسنيو اړتيا ډيره کمه ده!! اصطلاح کارول، (هسې هوا ګزول دي)،اويا (داهسې لور په لوټه تيره کول دي) ،ځکه لا اوس هم مونږ ته (۵۰)کاله مزل پاتي دی، چې دخپل هيوادتمدن ،اقتصاد،تکنالوژي ،مطبوعات او برېښنايي انرژي داروپا نو سره پرتله کړو ،که څه هم اروپايانو دا درسونه زمونږ له لرغونې(قرطبې ،غرناطي ، کاشغراو شرق) له تمدنونواو علمي مرکزونو څخه غلاکړي، خو اوس مونږ سره يوازې ددين ستره پانګه پاتې ده او دا نورې ددوئ په نصيب دي ،دچاپي رسنيو درکود او سقوط خبرې ،په نني افغانستان کې قابل توجيه ندي او نه يې مونږ هغه ظروف او شروط خپل هيوادکې وينو!

چاپي رسنۍ خپل ځای لري او برېښنايي هغه خپل مواقف !چيرته چې چاپي رسنۍ اغيزمنتوب لري هلته بيا دبرېښنايي هغې اسانتياوې ندي برابرې ،دافغانستان زيات لوستي وګړي اطرافي سيمو کې اوسي او که مهاجر دي، نو غوڅ اکثريت يې کمپيونو کې ميشت دي،ترکومه بريده، چې معلومات لرم ددوئ لوی اکثريت يې يوازې چاپي رسنۍ ګوري او دبرېښنايي هغواسانتيا ورته نده برابره ،برېښنايي يوازې په ښارونو کې ميشتو ته ميسر- ده او هغو بيا د اکثريت نصاب نشي- پوره کولای ،چيرته چې کوم محتويات چاپي مطبوعات راتلونکې نسل ته خپله حافظه کې ساتلای شي، هغه بيا برېښنايي رسنۍ نشي رسولای ،ځکه هلته د ويروس خطرات ډير وي او ځينې داسې ويروسونه شته ،چې ددې بازاري انتي ويروسونو وسه هم پرې نه کيږي ،نو په ټوليز ډول ويلای شو، چې چاپي مطبوعات پر خپل ځای داهميت وړ او برېښنايي پر خپل دي !

۱۰- پوښتنه: د چاپي رسنيو په وړاندې دخواله رسنيو رول او کردار څه ډول ارزوې؟

ځواب :لکه چې مخکې مو هم وويل، بيا يې په تاکيد سره وايو، چې دچاپي مطبوعاتو(پريس ميډيا) کردار پر خپل ځای دستاينې او اهميت وړ او دخواله رسنيو يا (اليکټرانيک ميډيا)کردار پر خپل ځای ،دخبر په برخه کې ديوه عاجل خبر لپاره اليکټرانيک ميډيا اړينه ده، خو دعام لوست،تلپاتي ساتنې ،پرسکونه مطالعې او اصوليت له مخې پريس ميډيا يا چاپي رسنۍ هيڅکله له پامه نشي- غورځيدلای ،يا په بل عبارت برېښنايي مجلې يا ورځپاڼې هيڅکله دچاپي ورځپاڼو او مجلو تشه نشي ډکولای ،وګورئ مدرسو ،ښوونځيو ،دفتري چارو اونورو مواردو کې دچاپي کتابونو او مطبوعاتو رول له هيچا څخه پټ ندی .

دادی ګورو چې په سيمه ايزو هيوادونو کې له کابل څخه داسلام آباد او تهران مطبوعات او رسنۍ هم ډيرې دي او هم مخکښې دي،برېښنايي يا انټرنيټي جالونه هم پکې پراخه دي ،خو بيا هم ورځپاڼې دزرګونو نه، بلکې دلکونوپه تيراژ کې چاپيږي ،مجلې ،اوونيزې اومهالنۍ پکې ښه پريمانه او چا هم داسې ونه ويل، چې راځئ چې له دې چاپي رسنيو نه ورتير شو، دا انټرنيټ او خواله رسنۍ موږ ته بسنه کوي ،بلکې هره مياشت دې هيوادونو کې ديوې نوې چاپي رسنۍ دچاپ خبر اورو ،غوره داده چې چاپي او برېښنايي دواړه پر خپل خپل ځای وستايل شي او دبل لپاره بس ونه بلل شي !

۱۱پوښتنه: دمورچل په خپرنيز جهادي ، علمي، سياسي، او ادبي يون په اړه مو ډاډينې او او انګيرنې څه دي؟

ځواب : زه خو ورته ډير خوشبين يم، نور کارونه دالله تعالی دي، چې وروسته به څه پيښ شي ،پدې اړه به نور قضاوت دلوستونکيو انصاف محکمې ته پريږدو،چې دوئ يې په کومه تله تلي ،خو هغه چې ماته دهڅونې او خوښۍ باعث دی ، هغه دا دی ،چې انشاءالله تعالی دراتلونکي تاريخ پوهان به د(مورچل مجلې)دعلمي ،سياسي ،ادبي او جهادي مطالبو برخه لکه دخبرونو دبرخې په څير ديوه تاريخي مأخذ او مصدر په توګه ومني او(مورچل مجله) به راتلونکې نسل ته ديوه داسې جهادي ،علمي او سياسي آرشيف او دمقاومت دپير شهکارپه توګه قبوله کړي، چې هم به ددې مجلې څخه داسلامي امارت سياسي او جهادي پاليسي معلوموي اوهم به د(۴۸) ګڼ هيواديز يرغل پر وړاندې دطالبانو دجهادي مقاومت شور او ځوږ ،دطالب ليکوالانو علمي استعدانونه او وړتياوې اوديرغلګرو پر وړاندې دورځنيو عملياتو دشميرنې او عملياتي تګلارې تحريري جايزه به دمورچل مجلې له پرله پسې- له چاپ شويو ګڼو څخه ديوې مستندې حوالې په توګه اخلي او دا به داسلامي اما رت دفرهنګيانو يو شهکار او تلپاتي اثرويولي چې ګانده کې به نوی توکم پرې پريکړه وکړي !

۱۲پوښتنه: که دکالګنې ځانګړتياوو او اهميت په باب لوستونکوته معلومات ورکړئ چې دچاپي رسنيو لخوا دکالګڼو اختصاصي چاپ څومره ارزښت لري؟

ځواب :په چاپي مطبوعاتو کې دکالګنې چاپ يو منل شوی فرهنګي دود دی ،چې معمولا د هرې مجلې دمطبوعاتي کال په پای کې يوه اختصاصي ګڼه چې د(کالګڼې)په نامه نومول کيږي ،دچاپ له ماشينه راوځي ،ځانګړتيا يې دې کې وي، چې په کالګڼه کې له نورو شمارو فوق العاده مطالب ،علمي او تحليلي مقالې، ادبي توتې ،اختصاصي ليکنې ،ځانګړې مرکې او داسې مفاهيم نغښتل شوي وي، چې نږدې دخپل رسنيز بهير او مطبوعاتي کال ته پکې کتنه قلمداد وي ،يا په بل عبارت دمجلې دکالګڼې منځپانګه (محتوی)او فورم (شکل)له نورو ګڼو ډيرې ځانګړتياوې اوخصوصيات لري ،نوره

نو هماغه مجله وي، خو البته ډېر مفاهیم په ډېرو ښو دکره لیکوالانو لخوا انځور شوي وي او دمجلې دضخامت لامل ګرځېدلی وي.

دکالګڼې ځانګړنه یوازې دچاپي رسنیو په برخه ده، تراوسه یې ما دبرېښنایي پاڼو داسې کالنی غورچاڼ نه دی لیدلی ،ځکه هلته لوستونکی مجبور دي، چې (لیف ټاپ) یا(کمپیوټر) له ځانه هروخت او هرمجلس کې ولري ،دبطرۍ چارج یې وشاري ،دویروس له بریده یې محفوظ کړي ،بیا صفحه خلاصه او پر لو ستلو یې پیل وکړي ،چاپي رسنۍ بیا دا ډول ستونزمنې چارې نه لري او نه ورته اړتیا لري ،په لنډو ټکوکې به داسې ووایو: چې دچاپي رسنیو کالګڼې دتیرخپرنیز کال نشراتي بهیر ته ځغلنده کتنه ،دخپل رسنیزچاپي کال تکمیل ، نمانځنه اودمجلې داداري لپاره دمجلې په خپرنیز تکامل او دکامیابۍ توده بدرګه وي، چې داړوند نشراتي ارګان حوصله افزایي پرې کیږي او راروان مطبوعاتي کال ته تردې ښه چمتوالی نیسي .

۱۳-پوښتنه: دشهامت دلا غوړیدا لپاره دخپلې تجربې په رڼا کې غوره مشورې او لار ښوونې څه دي؟

ځواب :شهامت مجله نن دهیواد په کچه دځوګوتوشمیر منل شویو مجلو په کتار کې ولاړه ده ،ددې اړتیا به نوې چې خلکو ته یې دمحبوبیت ځانګړتیا په ګوته کړو،زه چې هم ددې مجلې یو تلپاتي قلمي همکار یم ،څېړنیزاو علمي جهت یې راته ښه څرګند دی ،هره لیکنه یې یو راښکون او کشش لري ،لوستونکې له ځانه سره تر پایه پورې ساتي او هرې نوي ګڼې ته یې دانتظارشیبې وي (ستا دراتلو په لار کې سترګې کرم /چې هر قدم دې شي انځور دمښې)،په عمومي ډول مو مشوره داده او دا مې خپل طبیعت هم دی، چې هر کار کې دنوښت او تنوع سره ډیره مینه لرم،نوښتګر قلموال او مبتکرمدیریت ستاینه مې دفطرت غوښتنه ده ،حتی دمجلو ډیزاینران او کمپیوټرکاران مې هم هغه خوښ او پر ستاینه یې نه مړیږم، چې نوښتګر وي، چې هره نوي مجله دتیرې مجلې نه په اعلی فورم ډیزاین کړي، دمطبوعاتو په ډیزاین کې تنوع راته ترهرڅه ډیره جالبه ده ،نه مې خپل ځان کې داسې کلاسیک هنر خوښ دی ،چې ښیرازه راتلونکی ونلري او نه په بل کوم فرهنګي او تخنیکي ملګرې کې ،تل دا سې چارې راته لټې او سستي ښکارې اوذهناً پرې نا ارامه یم ،نود شهامت مجلې مسؤلینو ته مې هم دا مشوره ده ،چې څومره تنوع او نوښت په مجله کې کولای شي، مه یې سپموه ،خپله هڅه پدې لاره کې نوره هم ډیره کړه او ګروهمند یم، چې دا به دمجلې دنور لوړ پرستیژ تضمین درکړي !

۱۴- دشهامت لوستونکو لپاره دپیغام په توګه څه وایې؟

ځواب :زما پیغام دفرهنګپالنې ،محبت پالنې اوخوت پالنې پیغام دی ،زما پیغام دجهادي مطبوعاتو سره دلیونۍ مینې او د ډیرې مطالعې پیغام دی، زما پیغام داشغالګرو نه دکرکې ،نفرت او ددوئ پرخلاف دمشروع بغاوت (جهاد) پیغام دی او زما پیغام شهامت والو ته دادی ،چې که دیرغلګرو سره دمخامخ جګړې ځواک نلرئ او خپله وینه را باندې ګرانه وي، نو راځئ دیو لیکوال عالم دقلم دتویې شوي سیاهي تقدیرخو ددې د لیکنې پر لوست وکړو،دا جهادي مجلې چې مجاهدو لیکوالانو مونږ ته دخولو په تویولو او شپو سباکولو چاپ کړي، نو په لوست خو یې څه نا څه ځانونه ستړې کړو او وګورو،چې دوئ پکې مونږ ته څه ارمغان کړي او کوم پیغام یې مونږ ته ډالۍ کړي، بس همدا مې پیغام دی او دا مې غوښتنه ده !

یوه نړۍ مننه

شاهد(غزنیوال)

د بلجیم د وروستیو چاودنو په اړه

یوه پخوانۍ خاطره

د مارچ د میاشتې په۲۲ نېټه د بلجیم هیواد په پلازمینې بروکسل ښار کې دوو زوروروچاودنو د بروکسل نړیوال هوايي ډګر او د اورګاډو تم ځای (مېټرو)ولړزول .

دې پېښې چې د اروپا په زړه بلجیم هیواد کې ترسره شوې په نړیواله کچه د سیاستوالو، نړیوالې میډیا او اروپايي اتحاد کلک غبرګون له ځانه سره درلود.

په تیره چې د چاودنو تر سره کوونکي خپله مرکش الاصله بلجیم یان ول.

د دغو مرکش الاصله بلجمیانو تردې بریدونو پوري ماته د کریم اوعابد په نوم هغه دوه بلجیمي خبریالان رایاد شول چې ۱۵ کاله وړاندې یې د شمالي ټلوالي پرمشراحمد شاه مسعود باندې داډول سرښندونکی برید ترسره او په افغانستان کې یې د نویو پوځي او سیاسي پېښو باب پرانیست.

غواړم په دې اړه دهغه وخت یوه پخواني خاطره له درنو لوستونکو سره شریکه کړم.

د ۲۰۰۱ لومړي کال د جولای د میاشتې لومړی شپې ورځې وي چې په کندهار کې زمونږ د دفتر د مشر له لوري د یوه تلیفوني تماس په وسیله خبر راکړ شو چې سبا دوه تنه بلجیمي ژور نالیستان غواړي د بهرنیو چارو له وزیر مولوي وکیل احمد متوکل صاحب سره مرکه وکړي ، ته به له هغوی سره د بهرنیو چارو وزارت نماینده کې ته چې د کندهار ښار په کمپاونډ - کابل کندهار- په دو راهي سیمه کې یې موقعیت دی د ژباړونکي په حیث ورسره ولاړشي.

دا دوه تنه ژورنالیستان د کندهار ښار په کریشک اډه د باب السلام په نوم میلمستون کې میشت ول چې زیاتره به هغه مهال د بهرنیو عربي وکړو لخوا کاریده.

زه سهار اته بجې باب السلام ته ورغلم هلته دوه تنه ژورنالیستان د میلمستون په انګر کې منتظرول، هغوي دواړو ځانونه تیارکړي، ږیرې یې تازه چټ وهلې (خرییلي) او دریشي یې هم نوي په تن کړې وي.

له هغوی سره یوبل ښه په غوښه پټ سړی هم ملګری وه ، دا سړی ابوهاني نومیده او ما په ۱۳۶۸هجري لمریز کال کې د پخواني جهاد په مهال لومړنی ملاقات ورسره د زابل ولایت په خالا کلي کې شوی و.

د نوموړي اصلي نوم مهند شبانه د مصر هیواد اوسیدونکی او د استاد سیاف د تنظیم مربوط البنیان المرصوص عربي مجلې مسؤل مدیر و.

زه ما له ورسیدو سره هغوی دری واړه سمدستي موټرته راپورته شول ، ما ډریورته اجازه ورکړه چې خپل کارته ولاړشي او موټرما خپله را روان کړ.

د کندهارښارد مدت چوک په سیمه کې چې د امر بالمعرف ریاست هم هلته موقعیت درلود د امر بالمعروف موظفینو له لوري ودرول شو ، ځکه ابوهاني چې لما سره د موټر په مخې سیټ کې ناست و ږیره او بریت یې پاک خریېلي، تر هغه وروسته په شاتني سیټ کې دواړو خبریالانو هم کلین شو لرله او د موټر په ډکی (ټول بکس) کې لویه ټلویزوني کمره وه چې دا ټول هغه مهال د امر بالمعروف له نظره په اشد محرماتو کې حسابیدل.

هماغه و چې د عمومي روډ په سر یې را ایسار او د موټر له څلورو دروازو څخه یې له هریوه څخه بیل، بیل تحقیقات شروع کړل ، څوک یاستئ ؟ چیرته ځئ ؟ ، له کومه راغلئ ، دا کمره څه کوئ ؟ او ...

نه لما او نه هم له خبریالانو سره د امر بالمعروف ریاست لپاره څه اجازه لیک و نو وډارشوم چې په مشکل واوښتلو، بس ما هم ځان عرب کړ او په عربي مې ورته مراسل ، مراسل (ژورنالیست) نوم او د متوکل ، متوکل نوم اخیست، یعنی مونږ ژورنالیستان یو او د خارجه وزیر متوکل صاحب دفتر ته ځو ...

هغوی چې د متوکل صیب نوم واروېده په خپل منځ کې په کند هاری لهجه یوه اوبل ته وویل:

(ایله یي کئ د متوکل دوئ ګرده مراجعین داغسي ژرخریېلي بلاوې وي ...)

بس نور مونږ هم خپل مسیر په مخه واخیست او تقریبا نه بجې وې چې د متوکل صیب دوئ دفتر ته ور ورسیدو، هلته لومړی ملاقات رحمت الله اغا صاحب راسره وکړ لوکړئ وروسته متوکل صاحب راغی او له مختصر روغبړ وروسته سمدستي مرکه شروع شوه.

همدې خبریالانو د مرکې لپاره ۲۵ سوالونه مخکې ترمخکي په دریو کاپیانوکې پرنټ کړي ول، لومړی کاپي یي ماته، دوهمه متوکل صیب او دریمه یي د کریم په نوم خپله هماغه ژورنالیست واخیستله او خپل ځان یي داسې معرفي کړ:

زما نوم کریم ، ملګری مي عابد د بلجیم هیواد اوسیدونکي تونسي الأصله بلجیمیان یومونږ په اوروپاکې له المرصد الاسلامي للاعلام خبري رسنئ سره کار کوو دا رسنئ په ټوله نړی په تیره اورویاکې د مسلمانانو د اړونده قضایاوو په اړه تحلیلونه او رپوټونه نشروي ، مونږ غواړو د افغانستان د وروستیو پیښو په اړه هم د طالبانو او هم د مخالفینو له مشرانو سره مرکې ولرو.

او نور یي خپلې پوښتنې په ترتیب سره پیل کړې.

کریم به هره پوښتنه د هماغه کاپي له مخې په عربي ویله ، مابه هغه په پښتو ژباړله او متوکل صیب به ځوابوله، دپوښتنو په ځوابولو کې متوکل صیب داسې ښکاریده لکه له سمه زړه چې یې نه ځوابولې ، یانې په مجموع کې یې دا مرکه په مزاج نه وه برابره ځکه ځوابونه یې هم وچ وچ او هم لنډ ول ، تر مرکې پایته رسیدو وروسته سمدستي له مجلسه ولاړ شو، هغو خبریالانو ته یې داسې په نظر ورکړل چې زه عاجل مصروفیت لرم، خو ماچې کله ولیده نومړی په بله کوټه کې له اندیوالانو سره په ګپ سر ګرم و...

په هرصورت مونږ هم لږ ساعت وروسته د ښار په لور حرکت وکړ په ټوله لاره باندې ابوهانې د پخواني جهاد کیسې او پخوانې خاطرې راته ویلې ، کریم او عابد دواړه په شاته سیټ کې خاموش ناست ول او هریو خپل لورته د موټر له بندو آینو(هندارو) څخه د کندهار ښار تماشه کوله.

ما هغوئ بیرته باب السلام ته ورسول او زه خپل استوګنځي ته راغلم .

د سپتمبر پــه نهمــه چې کله له نړیوالـو رسـنیو څخـه خبـر خپـور شـو چې دوو تنـو خبریالانو د شمالي ټلوالې پـر مشــر احمدشــاه مســعود ســر ښــندونکی بریــد کــړی او نوموړی په مرګوني حالت کې تاجکستان ته رسول شـوی زمـا هیڅ دې خبرې ته نه و پام چې دا بریــد دی هماغــه خاموشــو بلجمیانو کـړی وي کـوم چې امر بالمعروف والو په چوک مدت باندې د ډیـرې نـه لرلـو په جرم تر پښتنو لاندې نیولې ول.

وروسته چې د احمد شـاه مسـعود د مـرګ او ژونـد د اوازې پــه مــنځ کــې د ســپتمبر پــه نهمــه د نیویــارک او واشنګټن خونړی پیښې وشوې او له امله یې په افغانســتان کې د طالبانو واکمنی هم رنګه شوه د بلجیمـي کـریم او عابد په اړه مې په رسنیو کې ډیر تفصیلات ترلاسه کـړل چې د هغوي کورنی څه مهال له خپل پلرني هیواد تـونس څخه بلجیم ته تللې ، څـه ډول یـې د هغـه ځـای تابعیت ترلاسه کړې ، چیرته یې زده کړې کـړې، څـه ډول لـه جهادي فکرسره آشناشول، څرنګه افغانستان ته راغلل، له کــومې لارې پنجشــیرته ورســیدل او هلتــه یــې څــه ډول پراحمدشاه مسعود سرښندونکی برید ترسره کړ؟

مسعود خلیلي چې هغه مهال پــه هنـد کــې د اســتاد رباني د حکومت سفیر او د احمدشـاه مسـعود او دغـو دواړو بلجیمــي خبریــالانو ترجمــاني کولــه د هغــې لحظــې د یواځینې ژوندې پاتې شوې شاهد په توګه داسې وایې:

تقریبا د غرمې یولس نیمې بجې وې چې احمـد شـاه مسعود خپل دفتر ته راغی او ماته یې وویل چې دوې اونـۍ کیږي دوه ژورنالیستان را ته د مرکې پـه نیـت منتظـر دي نن غواړم ستاسي په موجودیت کې له هغوی سره وګورم، هماغــه و چــې زه او دی د واړه څنــګ پــه څنــګ ســره کیناستو.

وروسته د انجنیرعارف په ملتیا دوه تنه ژورنالیســتان اطاق ته را ددننه شول، ، لومړي هغه یې ښه سپینه څیره او ځګه ونه لرله او دوهم یې مغولې شکله چاغ او ځـواکمن ځوان و.

ما ترې وپوښتل چې تاسې له کومې ورځپانې سـره کار کوئ؟ هغوی راته وویل مونږ له ورځپانې سـره نـه ؛ بلکې په اروپا او لندن کې د ځینو اسلامي مراکـزو لپاره رپوټونه او مرکې تیاروو.

خلیلي وایي چې مـا مسـعود تـه وویـل چـې دا دواړه خبریالان نه دي،خو ده ویـل پریـږده یـې چـې خپـل کـار وکړي.

احمد شـاه مسـعود لـه هغـوی څخـه د پوښـتنو پانـه واخیسته او هغه یــې تـر نظـر تیـره کـړه ، د هغـوی ټـول سوالونه د اسامه بن لادن په اړه ول ....

که تاسو له طالبانو څخه کابل ونیسئ له اسامه بن لادن سره به څه کوئ؟

تاسي ولي اروپاته د سفر په مهال وویل چې اسامه بن لادن ښه مسلمان نه دی ؟

ایا تاسو هغوی ته د یوه لیډر په سترګه نه ګورئ؟

خلیلي وایي دغو پوښتنو زه بلکل په غوسه کړم ، خو مسعود هغوته وویل چې بس مرکه مو شروع کړئ ، کمره مین سمدستي د کمري په عیارولو بوخت شو او داسې حرکات یې کول لکه یو پهلوان چې وي نه کمره مین.

هغه د کمري پایې ډیرې تیټې نصب کړې او زه په دې چورت کې شوم چې هغه ولې کمره مسعود ته دومره ورنیږدې کړه ؟ ځکه د ده او د مسعود ترمنځ دومره فاصله وه چې اصلا په هغې کې عکاسي ناشونې وه.

د کمري ترعیاریدو وروسته مسعود ویل پوښتنې شروع کړئ ، هماغه و چې کریم لومړی پوښتنه داسې پیل کړه:

تاسو د افغانستان روان وضعیت څرنګه ارزیابي کوئ؟

خلیلي وایي ما لا د افغانستان کلمه نه وه پوره کړې چې درز شو او یوه شین رنګه لمبه پرې راغله له ځان سره مي وویل چې دا مي د ژوند وروستی لحظه ده نو مي الله الله ویل پیل کړل او له دې سره مي یوه کمزوری لاس پر سینه را ولویده چې ممکن هغه د احمدشاه مسعود لاس و ، نور بیهوشه شوم ، لیږ وروسته چې را په حال شوم په یوه پوځي الوتکه وم او څنګ ته مي د احمد شاه مسعود په وینو لت پت جسد هم پروت و چې نوموړی له انفجاره سمدستي وروسته وژل شوی و. ځکه د انفجار اصلي هدف دی و چې دقیقا یې تول تمرکز د ده په سینه او زړه باندې و.

دا پنځلس کلنه پخوانۍ خاطره تر دې راياد شوه چې لکه څرنګه چې کریم او عابد بلجیمي ژورنالیستو هغه مهال د افغانستان د کورنی جګړې د یو مشهورعنصر (احمد شاه مسعود) ژوند ته د پای ټکی کیښود او په افغانستان کې د سیاسي او پوځي پیښو نوی باب پرانیست اوسنیو بلجیمیانو هریو عبدالسلام صلاح د پاریس د تیرکال خونړیو بریدونو اصلي طراح او د هغه نورو ملګریو خالد البکراوي ، ابراهیم البکراوي او نجم العشراوي چې د بروکسل په هیوایي ډګر او د دې ښار په میټرو کې بریدونه وکړل هم د اروپا په زړه کې د دا ډول بریدونو په تر سره کولو سره د نړیوالو پام ځانته راوګرځاوه.

نړیوال محللین او تولې رسنی په دې لګیادی چې د اروپا په زړه او دناټو په مرکز کې بروکسل مهم ښار کې د دا ډول خونړیو بریدونو ترسره کول څه ډول شونی دي؟

د دې چاودنو اغیز به د اروپا پر سیاسي او امنیتي وضعیت څه وي؟

ایا د ناټو تړون، اروپایي اتحاد او په مجموع کې غربي نړی به له یادو چاودنو څخه څه عبرت واخلي؟

تر دې چاودنو وروسته به یې د اسلامي نړی په اړه په سیاسي او پوځي تګلارې کې څه بدلون راشي؟

دا او دیته ورته نورې ډیرې پوښتنې دي چې په بلجیم هیواد کې خپله د بلجیمیانو په لاس تر سره شویو وروستیو چاودنو څخه را ولاړې شوې او د وخت تیریدو ته اړتیا لري چې د واقعیتونو په نظر کې نیولو سره ورته قناعت ببنونکي ځوابونه ولټول شي.

ليکنه : موسی فرهاد

ديو اسلامي، جهادي حرکت د بسري راز په څه کې دی... ؟!!

د اسلام مبارک دين خپلو پيروانو ته داسی لارښوونی لري چې په تعميل کې يې د دنيوی او اخروي زندگی د فلاح ، بهبود او کاميابۍ راز نغښتی دی .

»المؤمن للمؤمن کالبنيان يشد بعضه بعضًا « ... (بخاري و مسلم(

-- د خدای پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايی : يو مؤمن د بل مؤمن لپاره د يوې مضبوطې ودانۍ يا ديوال حيثيت لري ، چې ځينې برخې يې ځينو نورو برخو ته ټينگښت او مضبوطتيا ورکوي .

أخوت، وروولي ، مينه او محبت د يو اسلامی حرکت په ليکو کې داسې حيثيت لري لکه د پخو خښتو د ديوال ترمينځ چې گچ او سيمټ وي .که د خښتو تر مينځ دا شی نه وي ؛ يوه خښته د بلې سره کوشير نه اخلي او د لږ فشار په صورت کې ديوال له مينځه ځي او په خپل ځای ثابت نه شي پاتې کيدای .همدا راز که د اسلامي حرکت په ليکو او د افرادو تر مينځ مينه، محبت او ورورولي نه وي، نو يو مضبوط او غښتلی صف نه شي تشکيلولای او د ستونزو او طوفانو پر وړاندې مقاومت او ټکاو نه شي کولای .

همدارنگه په بل حديث شريف کې مسلمانان او يو اسلامی خوځښت له يو بدن سره تشبيه کړل شوي دي، چې د هر غړي په درد او تکليف ټول بدن د تکليف احساس کوي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي"» :مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى «" [--- أخرجه البخاري ومسلم عن النعمان بن بشير]

يعني :په مينه، محبت او تراحم کې د مؤمنانو مثال د يوه جسد غوندی دی، کله چې يو غړي ته يې تکليف رسيږي، نو ټول بدن ورسره په تبه اخته او نا آرامه وي .

د مينې او محبت دا کيفيت بيا د ايثار او قربانۍ لوړې څوکې ته رسيږي چې هلته مسلمان خپل ورور د راحت او گټې په ځای کې د ځان څخه مخکې کوي او په تکليف او تاوان کې پخپله وړاندې کيږي او خپل ورور تکليف ته نه پريږدی.

اسلامي تاريخ د ايثار او قربانۍ له داسې کيسو څخه ډک دی چې بشري تاريخ يې له مثال راوړلو څخه عاجز او ماده پرست خلک يې تصور هم نه شي کولای .

د اسلامي حرکت په صف او افرادو کې د دغسې مینې وررولۍ ایثار او قربانۍ موجودیت د دې ضامن دی چې دا صف د هر طوفان او مشکل مقابله په میړانه او پراخه تنده کولای شي او هیڅ دښمن او د هغه هیڅ دسیسه یې پر وړاندې مقاومت نه شي کولای.

-- د دې ترڅنګ چې اسلام د یوې پراخې اسلامي ټولنې بنسټیز اصول وړاندې کوي ؛ په عین حال کې یې د هغه نهضت لپاره هم د بریالیتوب لارې چارې ښودلې دي چې د یوې ریښتینې اسلامي ټولنې او نظام لپاره یې هڅې پیل کړې وي .

هغه د جهاد او مجاهدینو نهضت دی چې عملاً د الله تعالی په لاره کې شپه او ورځ سترړیاوې ګالي ، د اسلام د دښمنانو په وړاندې جهاد کوي.

څرنګه چې جهاد په مأموربه احکامو کې تر ټولو مهم عبادت دی .جهاد د اسلامي احکامو د تنفیذ او دفاع مهمه وسیله او د اسلامي شریعت ستر رکن دی .

نو که واقعاً مونږ غواړو چې د اسلام دغه اهم رکن مو په ریښتینې توګه انجام کړی وي ؛ او په دې سره مو جهادي آرمانونه تر سره او د الله په لاره کې ورکړې قربانۍ مو مثبتې پایلې ولري ؛ نو باید چې د دغو الهي ارشاداتو سره سم ځو لاندې کارونه ترسره کړو :

١ - لومړی خپلې لیکې متحدې او له هرډول اختلاف او تفرق څخه یې پاکې وساتو :

دا ځکه چې الله تعالی د قرآن کریم په ډېری آیتونو کې د اسلامي صف پر یووالي ټینګار کړی ، تر دې چې د الصف په نوم یې یو مکمل سورة نازل کړی او په هغه کې یې په خاص ډول د جهادي صف پر یووالي ترکیز کړی دی

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ(٤)

قرآنکریم په متعددو أیتونو کي مسلمانان د خپلمنځي وحدت په ټینګ ساتلو أمر ، او له اختلاف نه یې منع کړې دي.

» وَ اعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَميعاً وَ لا تَفَرَّقُوا وَ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْداءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْواناً «...

(ټول د خدای ج په رسۍ منګولې ولګوئ او تیت پرک کیږئ مه او په ځانو باندې د خدایتعالی هغه نعمت رایاد کړئ کله چې ټول د یو بل دښمنان وئ نو خدای ج ستاسو په زړونو کښې مینه واچوله پس ټول د هغه نعمت په برکت په خپلو کښې سره ورونه وګرځیدلئ...)

له همدې ځایه ده چې د جهادي صف یووالی ډېر اړین او اشد ضرورت دی ، او د اسلام په مقدس دین کې خاص اهمیت لري .که صف متحد نه وي ، نو نه یوازې داچې د کامیابۍ هیڅ ډول چانس نه موندل کیږي ، بلکې د صف تفرق پخپله یوه لویه فتنه او د بد ترین شکست لامل ګرزي .

ښه مثال یې زموږ په هیواد کې د روسانو په وړاندې د مجاهدو تنظیمونو تعدد ، تفرق او د هغوی د سترړیاوو پایله ده.

٢ - په خپل مسیر او تګلاره کې ثابت قدم اوسیدل.

الله تعالی په قرآنکریم کې د سورۀ انعام په یو سل درې پنځوسم مبارک آیت کښې فرمایی » : وَ أَنَّ هذا صِراطى مُسْتَقيماً فَاتَّبِعُوهُ وَلاتَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبيلِهِ « ...

يعني دا زما نيغه او سيده لاره ده نو پېروی يې وکړئ په کږو او غلطو لارو مه ځئ چې تاسو تيت پرک کوی او له نېغې لارې مو منع کوی .

همدارنګه په سوره هود کې فرمايي » : فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ «...(١١٢)

يعنی مستقيم او ثابت قدم و اوسه په هغه څه کې چې ورباندې امر شوی يې او هغه څوک چې ستا سره يې د الله تعالی بندګۍ ته رجوع کړې ، او نافرماني مه کوئ ، بيشکه هغه ستاسو د اعمالو څارونکی دی (.

عموماً مسلمانان په خاص ډول مجاهدين په دې مکلف دي چې پر خپل مسير ټينګ او محکم و اوسي ، خپله لاره بدله نکړي ، ځکه چې د لاري بدلولو مانا دا ده چې د الله لاره يې پرېښوده او په نورو داسی لارو سر شو چې هغه ټولې د شيطان لاري وي . او د شيطان په لاره تلل حتمي ده چې سړی د شکست سره مخ کوي . د دنيا او آخرت له ذلت سره يې مخ کوي .په دې اړه هم موږ ډېري بيلګې لرو ، د روسانو په وړاندې ډېرو خلکو جهاد وکړ ، مګر متاسفانه چې له خپل مسير څخه د انحراف له امله د متجاوزو کفارو د صف ملګري شول ، چې واقعاً دا د مسلمان لپاره ذلت دی . او د کفارو په صف کې دريدل پر دې دلالت کوي چې د آخرت د رسوايئ او ذلت سره هم مخ کيدونکي دي.

- ۳نظم ، ډيسيپلين او همآهنګی مراعت کړو

دا اصل ته چونکه د اسلام په مقدس دين کې تربل هر تهذيب زيات اهميت ورکول شوی؛ لکه چې الله تعالی فرمايي » : إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ « ... هرڅه مو پخپله اندازه پيدا کړي .دا راز په بل آية کې فرمايی » : وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ « چا چې له حدودو او اصولو تيری وکړ ، هغوی ظالمان دي .

مطلب دا چې دا ټول مخلوق الله تعالی په نظم او ډيسپلين سره پيدا کړي ، که چيري د هغه نظم او حدودو نه چې الله تعالی ورته ټاکلي ؛ تجاوز وشي ، نو د مخلوق په جوړښت کې ګډوډي راځي . نو الله تعالی په دې سره خپلو بندګانو ته هم لارښوونه کوي چې تاسو هم خپل بندګي انتظامي امور له نظم او ډيسپلين سره سم عيار کړئ ، ترڅو مو په ژوند کې ګډوډي او ناکامي رانشي .

نو لازمه ده چې د اسلام د لاري مجاهدين د دې اصل کلکه پيروي وکړي دا ځکه چې تر بل هرڅا همدوی نظم ، کنترول ، ترتيب او ډيسپلين ته اړتيا لري . د همدې نظم په مټ کولای شي چې خپلو اهدافو ته ورسيږي .

نن سبا چې په نړۍ کې هرځای د اشغالګر دښمن په وړاندې جهادي مقاومت روان وي ، موږ او تاسو يې شاهدان اوسيدلی يو چيری چې قومنده يوه وي ، نظم او ډسپلين ته ورکي پاملرنه کيږي ؛ هلته يې عملا ښې پايلې لرلې او د ښمن يې په هجومي عزائمو کې له شکست سره مخ کړی.

ښه بېلګه يې زموږ هيواد افغانستان دی ، چې د يوي نيمي لسيزي په دې طويله مبارزه کې د يوه قيادت په برکت ، د کفارو يو پراخ يرغلګر ائتلاف له خورا تاريخي شرمندګۍ او ستري رسوايي سره مخ شوی دی.

خو برعکس په کومو هيوادونو لکه په عربي نړۍ او ځينو نورو هيوادونو کې ، د اشغالګرو او طاغوتي واکمنو په مقابل کې چې مقاومت د يوې قومندې پرځای د بيلابيلو

قیـادتونو لخـوا اداره کیـږي ؛ هلتـه نـه یـوائې داچـې د مقاومت د بریالیتوب چانس نا شونی دی ؛بلکې هماغلته د متعددو قیادتونو د بې نظمی له امله جهادي صف د خپـل منځي اختلافاتو ښکار او مجاهدین یې لـه مشـکلاتو سره مخ دي.

- ٤صبر ، تقوی او توکل اختیارول .

»إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ] الزمر[١٠:] بیشکه، صبر کوونکـو تـه د هغـوی د د صـبر پـه وجـه بې شمېره ثوابونه ورکول کیږي (.

دا درې واړه هغه څه دي چې د مؤمن لپاره د دنیـا او آخرت د بریالیتوب اسباب بلل شوي دي . پر مصائبو باندي زغم کول ، له مفاسدو څخه ځان ساتل ، لـه بشـري تـدبیره وروسته پر الله تعالی باندي توکل محـض کـول هـرو مـرو مؤمن خپل منزل مقصود ته رسوي . په دې کـې هـیڅ ډول شک او شبهه نشته . داځکه چې الله تعـالی پـه قرآنکـریم کې داسی فرمایی » : وَ مَـنْ يَتَّـقِ اللَّهَ يَجْعَـلْ لَـهُ مَخْرَجاً ، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِـبُ ، وَمَـن يَتَوَكَّـلْ عَـلَى اللهِ فَهُـوَ حَسْبُهُ ، إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ، قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا...)

څوک چې له الله تعالی څخه ویره لري ، خدای تعـالی یې له هري تنگی څخه د وتلو لاره ورتـه مهیـا کـوي ، لـه داسی لاري روزي ورته رسوي چې گـمان یـې نـه وي ، او څوک چې پر الله تعالی توکل ولري ، هغه خدای ورته کافی دی ، بیشکه چې الله تعالی د خپل کار پـوره کـوونکی دی خو د هر کار لپاره یې خپله اندازه مقرره کړي] ... الطلاق]

همدارنگـه فرمـایی » : وَاذْكُـرُوا إِذْ أَنْـتُمْ قَلِيـلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُـمْ مِـنَ الطَّيِّبَـاتِ لَعَلَّكُـمْ تَشْـكُرُونَ ﴾]الأنفال٢٦ :].

تاسو هغه وخت دریاد کړئ چې لږ وئ او په ځمکه کې کمزوری کړل شوي وئ ، تاسو ویره درلوده چې خلـک به مو برمته او محوه کړي ، پس الله تعالی تاسو تـه پخپـل نصرت پناه او مأوی درکړه ، له حلالو او پاکو شـیانو څخـه یې روزي درکړه ، ښایی تاسو شکر وباسئ .

په پورتنیو آیتونو کې ښکاره پیغام دی چـې د نجـات او فلاح لاره یوازي لـه خدایـه ویـره ،د هغـه لـه لـوري پـر امتحاني مشـکلاتو بانـدي زغـم او پـر همغـه ذات بانـدي خالص توکل او اعتماد کول دی . که څه هم تاسو به کله نا کله د دښمن لخوا کمزوری کړای شئ ، ناوسه او ناهیلي به شئ ، مگر بیرتـه بـه همغـه الله تعـالی د نجـات لاره درتـه پرانیزي که چیري تاسو وربانديي باور ولرئ .

- ٥شعوري او عملي اطاعت کول

پـه جهـاد کـې د امیـر اطاعـت لـه هغـو أسـاسي ضرورتونو څخه دی چې د جمهورو فقهاؤ لـه نظـره د أمیـر موجودیت او د هغه اطاعت د جهاد لپاره حتمي او آسـاسي شرط بلل شوی دی .

د اسلام دویم خلیفه آمیرالمؤمنین عمر بـن الخطـاب رضی الله څخه روایت دی چې وایی » : لَا إِسلَامَ بِلَا جَمَاعَةٍ، وَلَا جَمَاعَةَ بِلَا أَمِيرٍ، وَلَا أَميرَ بِلَا طَاعَةٍ «... له جماعة او ډلي پرتـه اسـلام نشـی راتلـی او نـه جماعـة پرتـه لـه امیـره موجودیدلای شي او نه امیر ترهغـو امیـر بلـل کیـږي چـې اطاعت یې ونشي .

د آمیر د اطاعة په اړه د الله تعالی واضح حکم داسـی دی » : وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَـازَعُواْ فَتَفْشَـلُواْ وَتَـذْهَبَ

رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ « الأنفال ٤٦ -- م آية (یعنی د خدای او د هغه د رسول فرمانبرداري وکړئ ، خپل منځي شخړي مه کوئ ، چې وبه پاشل سئ او ځواک به مو ختم شي ، صبر وکړئ ، بیشکه الله تعالی د هغه چا مرسته کوي چې صبر کوونکي وي .

همدارنګه د آمیر د حکم لزوم په احادیثو کې هم خورا ډېر اړین ګڼل شوی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ -: مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَمَنْ يُطِعْ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي) - « رواه مسلم(

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دي نبي کریم ﷺ وفرمایل : چاچي زما اطاعت وکړ ؛ هغه د الله تعالی اطاعت وکړ او چا چي زما نافرماني وکړه پس هغه د الله نافرماني وکړه او چا چې د امیر اطاعت وکړ ، هغه زما اطاعت وکړ او چا چي د امیر نافرماني وکړه ګویا هغه زما نافرماني وکړه (.

اطاعت یوازي دا نه چي په ښیګڼه کې به وی او په ستونزو کې به تري ځان ګوښه کوو بلکي په هر حالت کې شریعت هغه لازم بللی : لکه چي د پیغمبرعلیه السلام په یو حدیث مبارک کې راځي چې » : السمع والطاعة علی المرء فیما أحب وکره «... د حکم اوریدل او فرمانبرداري کول په هر حال کې پر سړي لازمه ده ، هغه که یې خوښ وي او یا ناخوښ ..)

٦ - عباداتو ته خاصه پاملرنه کول

چونکه فرضي عبادات په هیڅ وخت کې مسلمان پرینبودلای نشی ، که یې پریږدي د ایمان بایللو ویره یې شته ، خو د هغه چا لپاره چې د اسلام د دین د تنفیذ لپاره یې هوډ څرګند کړی وي او د الله تعالی په لاره کې یې خپل سر او ژوند وقف کړی وي ؛ نو د هغه لپاره د فرضي عباداتو تر څنګ د نفلي عباداتو اهتمام هم خورا اړین بلل شوی او د نصرت او هزیمة ډېر مواقع ورسره تړلي ګڼل شوي دي .

په دې اړه د بیت المقدس فاتح د اسلامي نړۍ وتلی مجاهد صلاح الدین ایوبي یوه خبره ډېره مشهوره او د تاریخ برخه ګرزیدلي ، ویل کیږي چې نوموړی یوځل د شپې مهال راووتی پر یوه خیمه ور برابر شو چې ګوري ، دننه ورکي خلک پر لمانځه ولاړ دي او یا د قرآنکریم ذکر کوي ،،، صلاح الدین ایوبی وویل :

" من هنا یأتي النصر "نصرت به له همدې ځایه راځي .یعني د دې ډول عبادتګزارو مجاهدینو په وجه به الله تعالی زموږ نصرت کوي او موږ به پر دښمن غلبه مومو .

تر دې وړاندي ولاړی ، په بله خیمه کې یې ولیدل چې خلک بیده دي ، هیڅوک عبادت کوونکي نه ښکاري . نوموړي وویل" : من هنا تأتي الهزیمة"، شکست به له همدې ځایه راځي . یعني د خدای تعالی له ذکر او عبادت څخه همدا غلفت به زموږ مسلمانانو د ماتي او شکست لامل ګرزي .

الله تعالی په قرآنکریم کې د داسي مؤمنانو چې د الله په لاره کې یې خپل ژوند وقف کړی وي ؛ داسی صفات بیانوي » : تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفاً وَطَمَعاً... الآیه] «السجدة) [١٦ :دوی هغه خلک دي چې ډډي یې له بسترځایونو نه جدا وي ، له خپل رب څخه د ویري او امید په طمع دوعاګاني کوي)

نو په دې کې شک نشته چې د جهاد د بریا لپاره د کامیابۍ او نصرت بل ستر لامل نفلي عباداتو ته ځانګړي

توجه کول دی .که چیري د مجاهدینو دا اړخ نیمګړی وي ، نو حتمي ده چې په یو نه یو شکل به د الله تعالی له نصرت څخه بې برخي کیږي .د فتح پر ځای به یې شکست په برخه وي .

۷ - په کارونو کې مشوره او تدبیر لازم ګڼل

خدای ج په قرآنکریم کې پیغمبر ته د مشوری کولو امر کوي ... » : وشاورهم فی الأمر « .. او د هغو مؤمنان چې پخپلو کې سره مشاوره کوي ؛ داسي توصیف بیانوي : ... »و أمرهم شوری بینهم «.. یعنی الله پاک دغه مؤمنان د خپل ځان مخلص او ریښتیني بندګان بللی چې پخپلو کارونو کې له یو بل سره مشوره کوي.

نو مشوره کول په اصل کې د کار د پرمخ بیولو ترټولو ښه تدبیر دی . په عربی کې یوه مشهوره مقوله ده چې وايي] : مَن سَاءَ تدبِیرُه ، تَعَجَّل تدمِیرُهُ [د چاچې تدبیر ناسم وي ګویا د خپل هلاکت بیړه یې وکړه . که یو څوک کوم کار پرته له مشور ، پلان او تدبیره پیل کړي او یا یې تدبیرکړي وي خونیمګړی ، نوګویا هغه دخپل ځان دهلاکت، تباهي اوناکامی اسباب په خپله ځان ته ومونډل.

عبدالملک بن مروان چې د أموي خلفاؤ د سلسلې پنځم واکمن ؤ ؛ وایی] : لأن أخطئ وقد استشرت ؛ أحب عندي من أن أصیب وقد استبددت برأیي [که زه په یو داسی کار کې خطا شم چې وار لمخه مې مشوره پکښې کړي وي ، نو هغه ماته تر دې محبوب دی چې یو کار پخپله رایه پرته له مشوري ترسره کړم او هغه کامیاب شي .

په دې اړه یو عرب عالم لیکي -] : السلامة في التأني و الندامة في العجلة .فالتأني هو التدبیر و المشاورة ، و أما العجلة فهي الاستبداد والأخذ بالرأي وعدم المشاورة والتفکر في الأمر-]

سلامتیا په تأني او پښیماني په عجلة کې ده . تأني تدبیر ، او مشورې ته ویل کیږي او عجلة له مشوري او تفکر پرته ، پخپله رایه کار کولو ته ویل کیږي.

په پای کې باید مختصرًا وویل شي چې له کله نه چې د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې نظم او نسق رامنځ ته شوی او کارونه د نورو وختونو په پرتله، د ښه تدبیر او مشاورت له لاري ترسره کیږي ؛ نو پایلې یې هم خورا ښې ځلیدلي دي . مثالونه یې ډېر شته . خو لا هم په دې لاره کې ډېر کار ته اړتیا ده چې باید د اسلامي امارت د نظامي او اداري تشکیلاتو ټول ارګانونه نور هم په مسئولانه او شعوري ډول ورته متوجه شي . چې په همدې کې د د دنیا او آخرت د نجات رمز نغښتی دی .

او زه باور لرم که چیري د اسلامي امارت مجاهدین د جهادي امورو د بهبود او پرمختګ پخاطر دغه پورتني اووه واړه ذکر شوي أُصول عملي کړي نو دا حتمي ده چې الله تعالی به یې هیڅکله له خپل نصرت ، رحمت ، او لوریني څخه محروم نکړي .

} وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ ... الآیة] یوسف[۲۱:

پای........

۲۹-۲-۲۰۱۶/ دوشنبه



عبدالرؤف حکمت

د مرحوم مولوي سيد محمد حقاني ژوند ته کتنه

د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د دريمې مياشتې په ۲۲ نيته چې د ۲۰۱۶ میلادي کال د جنورۍ له دوهمې سره برابره وه د اسلامي امارت يو وتلی او منلی شخص مولوي سيد محمد حقاني د اجل داعي ته لبيک ووايه، دلته مو د مياشتنيو سوانحو د ترتيب په لړ کې د نوموړي په ژوند رڼا اچولې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

مولوي سيد محمد حقاني د حاجي ملا لعل محمد اخند زوی په قوم پښتون /اڅکزی په ۱۹۷۲ ميلادي کال د کندهار ولايت د ډنډ ولسوالۍ مربوط ښار ته نږدې سيمه محله جات کې د اڅکزو په کلاچه کې په يوه متدين او علمي خاندان کې دنيا ته سترګې وغړولې.

نوموړی چې د خپل عالم پلار مشر زوی و له کوچنيوالي يې په ديني زده کړو پيل وکړ، په کور کې له ابتدايي تعليماتو وروسته يې په ډېر کشر عمر دسيمې له يوه تکړه عالم مولوي لال محمد اخند څخه چې د مور لخوا دده نيکه هم کيده زده کړه پيل کړه،او لومړني کتابو نه يې ولوستل.

د کمونيستانو له انقلاب وروسته نوموړي په علم پسې له سفر وړاندې په کندهار ښار کې په بيلابيلو مساجدو کې له علماء کرامو څخه ديني زده کړې وکړې لکه د کندهار ښار د لرګو د ګنج په سيمه کې احمديه مدرسه،د شرکت ميوې په سيمه کې حميدالله جان اخندازده، ثاني مولوي عبيد الله جان صاحب او مولوي عبدالعلي صاحب څخه يې څه موده ديني زده کړې حاصلې کړې او بيا دعلم په تلاش له هيواده ووت او دپاکستان په ستر ښار کراچي کې يې د ددينې علومو تحصيل پيل کړ.

له علم سره کمساري مينه

د حقاني صاحب د خپلې ژبې اقرار دی چې د تعلم او طالبۍ په مهال مې له کتاب او سبق پرته په بل هيڅ شي ځان نه دی مصروف کړی، د نوموړي نږدې قريبان او د طالبۍ ملګري هم همدا خبره کوي چې نوموړی دتعلم په مهال يو جدي او خواريکښ طالب و چې حتی دمازديګر او ماښام تر منځ يې هم ډېر ځله مطالعه کوله.

حقاني صاحب په کراچۍ کې له څه مهال درس ويلو وروسته د بلوچستان کويټې ښار ته لاړ اود شالدرې په مشهوره مدرسه مظهرالعلوم کې يې داخله واخيسته په دې مدرسه کې له دوه کاله تعلم وروسته يې د کويټې په يوه بله مشهوره مدرسه الجامعة الاسلامية الاشرفية کې زده کړې پيل کړې چې د فراغت تر مهاله يې ۷ کاله پرلپسې په دې مدرسه کې د زده کړو ته دوام ورکړ.

د مرحوم حقاني صاحب ماما ملا محمد حسین آخند وايي چې حقانی صاحب له سبق سره نادره مینه درلوده، کور يي په کندهار کې وه چې کويټې ته نږدې دی، خو ده په علم پسې له کال زياته مسافري کوله . ۱۳ میاشتې بعد به کور ته ستنېده، او چې کله به کورته لاړ نو هلته يي هم ټوله مشغولا له تعلم او تعليم سره وه.

د ۱۹۹۴ میلادي کال په اکتوبر کې هغه مهال چې دحقاني صاحب په اصلي ټاټوبي کندهار کې د طالبانو د تحريک په نوم يوه نوي خوځښت سر راپورته کړی و،حقاني صاحب د کويټې په اشرفيه مدرسه کې د صحاح سته وو د وروستيو احاديثو سمع کوله او د تعلم له پړاوه فراغت ته يي ځان جوړاوو.

د ۱۹۹۴ میلادي کال د نومبر په دريمه نيټه چې د ۱۳۷۳ لمريز د عقرب له دیارلسمې سره سمون خوري، هغه ورځ چې حقانی صاحب له ديني علومو د فراغت دستار په سر کاوو او په دې وياړ لوی مراسم رابلل شوي و، په کندهار کې طالبانو د پنجوايي،ږنډ او بولدک له نيولو وروسته د کندهار ښار په خوا سوقيات پيل کړي و چې دوه ورځې وروسته د نومبر په پنځمه يي دغه ښار له جګړه مارو قومندانانو څخه ونيو.

مولوي سيد محمد حقانی صاحب د احاديثو اجازت نامه له وتلي او مشر عالم شيخ ابوعبدالله نورحبيب سواتي صاحب څخه ترلاسه کړه او د لوی عالم شيخ الحديث عبدالبصير صاحب په ګډون مشهورو علماء کرامو يي په سر د فضيلت پګړۍ وتړله.

دری ورځې دمه

د حقاني صاحب ماما ملا محمد حسين وايي: دحقاني صاحب له فراغت وروسته چې کله مو غوښتل کندهار ښار ته ستانه شو نو چې بولدک ته راغلو لار بنده وه ځکه په کندهار ښار طالبانو جنګ شروع کړی و،څه ځنډ وروسته چې طالبانو ښار ونيو کور ته ستانه شوو، حقاني صاحب دری ورځې په کور وکړې او په څلورمه ورځ بيا له کوره لاړ، دا ځل يي د طالبانو په تحريک کې خدمت پيل کړ چې بيا د تر هغه وخته چې په همدې اسلامي خوځښت کې د خدمت په مهال يي خپل روح باري تعالی ته وسپاره نوموړی د اسلامي امارت په چوکاټ په کې خدمت بوخت پاته شو.

ملا محمد حسين اخند وايي:د حقاني صاحب دوالدې شريفې هميشنی ارمان همدا و چې له خپل مشر، صالح او شريف زوی حقاني صاحب سره په ګډ ژوند مې تنده نه شوه ماته، له ډير کوچنيوالي راځخه په علم پسې مسافر شو او چې له علم نه فارغ شو نو دری ورځې بعد يي د طالبانو په تحريک کې خدمت او جهاد پيل کړ ډير وخت به له کوره بهر و تر څو په همدې لاره کې حق ته وصل شو.

په اسلامي امارت کې خدمتونه او مسؤليتونه

لکه وړاندې چې وويل شول مولوي سيد محمد حقاني صاحب د طالبانو په لاس د کندهار ښار له نيولو وروسته له مقدمو کسانو څخه و چې د طالبانو په اسلامي تحريک کې يي خدمت پيل کړ،نوموړي خپله وظيفه د کندهار د اطلاعاتو او کلتور له رياست څخه پيل کړه،د کندهار د اطلاعات و کلتور رياست چې په تنظيمي دوران کې د جګړه مارو مرکز او فرهنګي محيط يي د چرسو بوی او د سګريټو پاټې شونو په سر اخيستی و، د سيد محمد حقاني صاحب په شمول د تحريک د فرهنګي ځوانانو په مټ يو ځل بيا د علم او فرهنګ په مرکز بدل شو.

طالبانو چې د عقرب میاشتې په نیمایي کې کنـدهار ښار ته داخل شوي و لږ وخت وروسته یعنې د همدې کال په جدي میاشت کې یـې نـه یـوازې د کنـدهار مشـهوره ورځپاڼه طلوع افغان له چاپه را وایسته بلکې راډیو یې هم فعاله او ورپسې یې د خلافت او کندهار مجلو د چاپ لړۍ هم پیل کړه.د طلوع افغـان ورځپـاڼې د هماغـه کـال پـه لومړنیو ګڼو کې د مرحوم حقاني صاحب څو لیکنـې هـم خوندي دي .

مرحوم حقاني صاحب وروسته د کنـدهار ولایـت د اطلاعاتو او کلتور ریاست مرستیال او څه موده بعد ددې ریاست رئیس وټاکل شو. چې د خپل مسؤلیت په وخت کې یې دپام وړ فرهنګي خدمات انجام کړل.

د طالبانو په لاس د کابل له فتحې وروسته نومـوړی د بهرنیو چارو د وزارت اداري مرستیال تعین شو، خو لـږ موده بعد د اسلامي امارت د چارو د اداري د لوی ریاست د رئیس په حیث وټاکل شو.

څرنګه چې له طالبانو وړاندې په پلازمینـه کابـل او ولایاتو کې حکومتي اداري سیستم بشپړ فلج و د طالبانو له سترو کارنامو یوه هم د اداراتو له سره فعالول و، چـې په دې برخه کـې د جنـاب حقـاني صـاحب خدمتونـه د یادونې وړ دي .

مرحوم حقـاني صـاحب پـه دې اړه پـه خپـل یـوه یاداشت کې لیکلي : کله چې د مشرقي ولایاتو د فتحو لړۍ پیل شوه، دمـلا نورالـدین تـرابي پـه مشرـۍ څـانګړی کمیسیون وټاکل شو ترڅو د مفتوحه سیمو ادارات فعـال کړي دوی هر ولایت ته په ورتګ سره د هغه ولایـت اداري تشکیل ټاکه او اداري نظام یې فعالاوو، دبیلګې پـه توګـه ننګرهار ته په ورتګ سره شهید مولوي احسان الله احسان

د والي په حیث وټاکل شو، دغسې نور رئیسان هم وټاکـل شول، څو ورځې وروسته چې کله مجاهدینو کابل ونیـو، نوپه کابل کې دچارو د کنترول لپـاره لـومړی د عالیقـدر امیرالمؤمنین لخوا شپږ کسیزه عالی رتبـه شـوری وټاکـل شوه ، ورپسې یـې پـه کابـل کـې دحکـومتي اداراتـو د عاجلانه فعالیت لپاره د کندهار ولایت ټول رئیسان په کابل کې دخپلو اړوندو وزارتونو د سرپرستو وزیرانو په حیث وټاکل، په دې توګـه د کابـل لـه فتحـې سره هـم مهـال حکومتي ادارات بې له کوم ځنډ او خنډ څخه فعال شـول او خپل اصلاحي او انکشافي چارو ته یې دوام ورکړ .

نوموړی دچارو د اداري د لوی ریاست د کار په اړه لیکي: دحکومتي دود سره سم د اسلامي امارت په واکمنۍ کې هم د چارو داداري ریاست د حکومتي چارود کنترول او بررسۍ د مرکز په حیث فعالیت کاوو،د ټولو وزارتونو، ریاستونو او ولایاتو عرایض،پیشنهادات او راپورونـه لـه همدې لارې ریاست الـوزراء او دامیرالمـؤمنین دفـتر تـه رسیدل، دغه راز د مشرتابه فرامین، هدایات او احکام هـم د چارو داداري د ریاست لخوا ټولو وزارتونو او اړوندونو مراجعو ته رسول کیدل.

څرنګه چې د چارو داداري رئیس د کابیني غړیتـوب درلود او دوزیرانو د شورى د منشي- مسـؤلیت یـې هـم درلود، همـدا کـار د حکـومتي چـارو پـه هماهنګـۍ او شفافیت کې نور هم مرستندوی واقع شـوی و، داسـلامي امارت د وزیرانو شورا هره چهارشنبه غونډه درلوده، تـر غونډې وړاندې د ځانګړي پلاوي لخـوا د غونـډې اجنـدا ترتیب کیدله، چې مجلـس بـه وربانـدې تـرسره کیـده،د غونډې فیصلې چې کله په پښـتو او کلـه پـه دري لیکـل کیدلې،د چارو داداري د ریاست لخوا ټولو اړوندو مراجعو ته د اجراء لپاره استول کیدلې.

حقاني صاحب دچارو د ادارې د ریاست لـه دنـدې وروسته په اسلام ابادکې د افغانستان د سـفیر پـه حیـث تعین شو خو څه کم یو کـال وروسـته بیرتـه د چـارو د ادارې د رئیس په حیث وټاکل شو، نوموړی چې پـه اداري امورو کې یې د پاموړ اسـتعداد درلـود پـه افغانسـتان د امریکایانو د یرغل تر مهاله په همدې مهمه دنده پاته شو، چې ورسره یې د اسلامي امـارت د وزیرانـو د شـورى د منشي په حیث هم دنده اجراء کوله.

په افغانستان له یرغل نه وروسته چې کله پلازمینـه او د هیواد لوی ښارونه د یرغلگرو لخوا اشـغال شـول او مجاهدینو اطرافي سیمو ته خپـل تشـکیلات نقـل او پـه مسلح جهاد یې لاس پورې کړ، مرحوم حقاني صاحب هم دنورو مجاهدینو په څنگ کې دجهادي بهیر په بېلا بېلـو شعبوکې له هیڅ راز خدمت نه مخ نه اړاوه چې بلاخره په ۲۰۰۷ م کال یې د اسلامي امارت د فرهنگي کمیسـیون د مرستیال په حیث دنده پیل کړه.

په دې مرحله کې نوموړي په پوره اخلاص،جدیت او تدبر سره د کفري یرغل په وړانـدې فرهنگـي او نشرـاتي جهاد ته خپل ژوند وقف کړ او د فرهنگي کمیسیون د مشر تر څنگ یې د یوه مخلص، فداکار او پُرکـاره ملگـري پـه حیث د غرب د تبلیغاتي توپان د دفع کولو او پـه وړانـدې یې د اغیزناکې جهـادي نشرـاتي مبـارزې د سـنگرونوپه ودانولو پیل وکړ.

په افغانستان امریکایي یرغـل لکـه څنگـه چـې پـه پوځي لحاظ یو پراخ ایتلاف تر شا درلود، تبلیغاتي بُعد یې هم همدومره پراخ او په مقابل کې یې د مجاهدینو نشراتي فعالیت هم د حجم او مؤثریت له اړخـه دومـره دقیـق او اغیزناک و چې حتی دښمن یې په څواکمنی اعتراف وکـړ او د مجاهدینو رسنیز فعالیت یې سریع او مـؤثر وبالـه. چې د نورو گڼو قلمي مجاهـدینو ترڅنـگ ددې ویـاړمن مطبوعاتي سنگر یو تکړه او نه سـتړی کیـدونکی غـازي مرحوم حقاني صاحب و چې له الله تعالی څخـه ورتـه د ټولو خدمتونو د قبولیت خواست کوو.

مرحوم حقاني صاحب د ملگرو په خاطرو کې

د حقاني صاحب د ډیر وخت ملگـری مولـوي امیـر خان متقي صاحب وایي: حقاني صاحب یوښـه ځیـرک دیني عالم وو ، جهاد او اسلامي امارت سره یې دزړه لـه تله مینه اوخلوص لاره ، داداري کار په زړه پوري وړتیا یې لرله، له ملگرو سره یې وفا اومینه ریښـتیني وه، پـه عملي کارونو کې یې ښه ابتکاردرلود اودعام ولس په درد به دردمن اوپه خوښیو به یې خوشحاله وو.

د اسلامي امارت ویانـد ذبـیح الله مجاهـد: حقـاني صاحب دحق ویلو، حق دید، حق اوریدلو، حق منلو او حق اوسیدلو یو دنگ منار وو، کله به یې چې یقین وو چـې دا لاره حقه ده، د هیڅ شي په بدل کې یې هم هغه مسیر نـه پریښود، د منازعاتو او مشاجرو په اړه د فیصلې پرمهـال به یې حق ته کتل، دغوصې او خفگان له امله له حق څخه نشو تیریدای، د عمر تر پایه په حق پاتې شـو او لـه حـق سره ملگری دحق په لاره له حق سره وصل شو.

د اسلامي امارت ویاند قاري محمد یوسف احمـدي: مرحوم حقاني صاحب به باربار راته ویل چې دکـار لـه ملگرو سره چې مو څومره کوښښ کیـږي نـور هـم پـه صمیمیت کې پاتې شئ ځکه لیري والی هغه څه دي چې ستاسو پر کارونو مستقیماً بد تأثیر پرې باسي او دی به دملگـرو تـر مـنځ پـه دوسـتانه فضـا ډیـر زیـات

خوشـحاليده ډيـر لـه شـهرت او خودنمـايي نـه لـرې خداى ته نيژدې يو مخلص انسان وو.

ليكوال او شنونكى مولوي عبدالرحيم ثاقب: مرحـوم حقـاني صـاحب سره لـه دې چـې ټـول وخـت يـې د يوه ښه اداري كار پوه او تجربه لرونكي ديپلومـات پـه توگه په مسؤليت كې تير شوى و خو بيايي هم هيڅ كلـه خپل ځان پرخپلو ملگرو باندې لوړ نه گانه ؛ بلكې كوښښ يې كاوه چې د خپلو كاري ملگـرو لـه تجربـو او كـاري پوهې څخه استفاده وكړي.

دهيواد نامتوليكوال ملا عتيق الله عزيزي: هرځل چې زه ورسره مخ شوى يم داخلاقو اوديانت د دغـه هسـك منار له خولي اوژبي څخه به داسې توصـيى او مجـرب نكات لورول كيدل چې باور وكړي زما لپاره به هغه ډير قيمتي ثابتيدل اودخـدمت دسرعـت باعـث بـه گرځيـدل، هيڅكله مانه ووترې اوريدلي چې داكار اوكارنامه ماكړي بلكې هرڅه به يې دملگرو دخدمت اوهڅومحصول گڼل.

د مرحوم حقاني صاحب ورونه دده د كورني ژونـد په اړه وايي: مرحوم حقاني صاحب په شخصي ژوند كـې هم عجيب عادات درلودل،له چا سره يې په خپگان او حسد كې هيڅكله سيالي نه كوله، ډير ځله داسې شوي چې يـو څوك به ترې خپه و او حسد به يې ورسره كاوو مگـر دى به خپله كور ته ورغى، كه به هغه ځان ترې پټ كـړ نـو د كور غړو ته به يې وويل چې ورشئ پلانى راولئ له هغـه سره مې كـار دى پـه دې طريقـه يـې هرڅـوك دې تـه مجبورول چې ښه دوستي ورسره وپالي.

خپلو ورونو ته يې هميشه دا توصيه وه چـې صـله رحمي او خپلوي به له هيچا سره نه قطع كوئ، كه څـوك هرڅه درسره كوي خو تاسو به يوازې د يوه ديني اصل په حيث صله رحمـي او خپلـوي ورسره پـالئ.د شـهيدانود كورنيو او يتيمانو يي ډير خيال ساته، تر خپله وسـه يـي كومك ورسره كاوو.

وفات:

حقاني صاحب چې د خپلو جهادي وظايفو په مهال په سفر بوخت و د روان ۱۴۳۷ هــ ق كال د ربيع الاول په ۲۲ مه نيټه د شنبې په ورځ يي د ورپيښـې نـاروغى لـه امله خپل روح حقيقي بادار او ملك الارواح ته وسپاره. انا لله و انا اليه راجعون

د مرحوم مولوي سيد محمد حقاني صاحب تـر شـا پنځه صالح ورونه او اته زامن پاته شول، چې لله الحمد په ټولو كې دده اثار ښكاره او زامن يي پـه دينـي زده كـړو بوخت دي.

د حقاني صاحب د وفات خبر په رسنيو او ټـولنيزو شبكو كې په كمساري ښه بدرگه او ډيرو خلكو ورباندې د حسرـت او تسـليت ليكنـې وكـړې، د اسـلامي امـارت د مشرتابه لخوا هم د نوموړي په وفات رسمي تعزيتي بيان نشر شو چې په يوه برخه كې يي راغـلي: د افغانسـتان د اسلامي امارت مشرتابه، د اسلامي امارت رهبري شورى او فرهنگي كميسيون د اسلامي امارت د ټولو منسـوبينو پـه نمايندگى د نوموړي د وفات له امله د مرحوم كورنى ته د تعزيت او تسليت مراتب وړاندي كوي.

متعال ښتن دې د جناب حقاني صاحب خـدمتونو په خپل دربار كې قبول كړي، الله تعالى دې ورته په دنيوي عباداتو او د اسلامي نظام لپاره په زغملو سترياوو كامـل كامل اجرونه وركـړي او الله تعـالى دې يـي كـورنى تـه صبرجميل او نعم البدل ورنصيب كړي. آمين

د روزګان ولایت له جهادي مسئول

ملا امین الله یوسف سره مرکه

مرکه کوونکی: حبیب مجاهد

روزګان ولایت دافغانستان دمرکزي ولایاتو له جملې دی چې ختیځ ته یې غزني او دزابل ولایت یوه برخه ، شمال ته یې دایکندي ولایت لویدیځ ته یې هلمند اوجنوب ته یې دکندهار او زابل ولایاتو مربوطات پراته دي.

د روزګان ولایت مرکز دترین کوټ ښارګوټی دی ، ددې ولایت مساحت ۱۲٦۴۰ مربع کیلومتره ا ونفوس یې شاوخوا څلورلکه تنه دی .

پخوا ددې ولایت په شمال کې هزاره میشتې ولسوالۍ هم دروزګان مربوطې بلل کیدلې ، خو دکرزي دحکومت له راتګ سره دغه سیمې د دایکندي په نامه په نامه ځانګړې ولایت سره مسمی شوې ،روزګان په مرکز سربیره د دهراوود، چارچینو، چوره ،خارخوردې او چنارتو په نوم ولسوالۍ لري. د مجلې په دې ګڼه کې مو ددې ولایت له جهادي مسؤل حاجي امین الله یوسف صاحب سره مرکه کړې چې ستاسو قدرمنو کتونکو توجه ورته راګرځوو.

پوښتنه : محترم والي صاحب له هر څه وړاندې درته ښه راغلاست وایو که لومړی د روزګان ولایت په ستراتیژیک اهمیت رڼا واچوئ؟

ځواب: روزګان ولایت د افغانستان د مرکزي ولایاتو له جملې څخه دی که څه هم د اداري ویش په لحاظ د جنوب غرب حوزې مربوط دی مګر دا چې د افغانستان په زړه کې قرار لري د ډیرو ولایاتو تر منځ د الحاق نقطه بلل کیږي.

د دې ولایت جوړښت غرنی دی،لوړ غرونه ، پراخې درې او روان سیندونه لري،همدې جوړښت یې پخوا د روس ضد جهاد په مهال ورته ستر اهمیت ورکړی و او د مجاهدینو قوي سنګر و، او اوس هم دښمن ورته له همدې امله ډیر متوجه دی او فکر کوي چې که دا سیمه د مجاهدینو لاس ته ولویږي نو بیا نیول به یې ډیر ګران وي.

بله دا چې روزګان هغه سیمه ده چې د موجوده ګوډاګي حکومت ابتداء له همدې ځایه شوې ده،امریکایانو خپل ګوډاګی حامد کرزی په همدې ولایت کې راپورته کړ او د ځانګړو ځواکو په توسط یې تر هغه وخته اکمال او حمایه کړ تر څو یې روزګان او قندهار ښارونه په تصرف کې راوستل او د کابل تخت ته ورسید.

پوښتنه: د اشغال په تیرو کلونو کې د روزګان ولایت وضعیت څرنګه و؟

ځواب : لکه وړاندې چې وویل شو د امریکا ضد جهاد په اوږدو کې دښمن همیشه د روزګان ولایت ته ډیره توجه درلوده، له همدې امله یې ددې ولایت په بیلابیلو ساحو کې ډیرې قواوې، امریکایي او د استرالیا او هالندې ځواکونو

بیسونه او قرارګاوې ځای پر ځای کړې. خو ددوی په خلاف همیشه جهادي بریدونو جریان درلود چې په نتیجه کې یې دښمن ته بیا بیا خورا درانه تلفات ورسیدل.

له ۲۰۰۹ کال وروسته کله چې په روزګان کې د مجاهدینو قوت زیات شو او ډیری اطرافي سیمې د مجاهدینو تر سلطه لاندې راغلې یرغلګرو دې ولایت ته اضافي قواوې راوستې او کلي په کلي یې د قرارګاه جوړولو او اربکي سازي پروژه پیل کړه، چې په نتیجه کې یې د روزګان ولایت ډیری اطرافي سیمې ددښمن د ملیشو او اربکیانو لاس ته ورغلې او په اولس یې د ظلم، وحشت، غلا او بدکاریو یو تور دوران راوست .

خو ددښمن له دغو ټولو هڅو او دسیسو سره سره مجاهدین ارام ناست نه و، په دښمن پرلپسې چاودنې، او بریدونه په ټولو ولسوالیو کې روان و تردې چې بالاخره بهرني ځواکونه خصوصا د استرالیا او هالنډ ځواکونه دې ته مجبور شول چې له دې ولایت څخه پښې سپکې کړې چې ورپسې امریکایان هم د جګړې له میدانه وتښتیدل او خپلې قرارګاوې یې اربکیانو، پولیسو او اجیرې اردو ته پرېښودل .

پوښتنه: ویل کیږي چې تیرکال د عزم عملیاتو په لړ کې په روزګان کې ډیرې سیمې له دښمن څخه تصفیه شوې دي که په دې اړه جزیات راسره شریک کړئ ؟

ځواب : تیر کال لکه څنګه چې د افغانستان په زیاتره نورو سیمو کې د فتحو او بریاوو کال وو په رزوګان کې هم مجاهدین د الله تعالی په نصرت سره وتوانیدل چې ډیرې سیمې ددښمن له شتون څخه تصفیه کړي، لکه وراندې چې وویل شو، امریکایانو د ملیشه سازي او اربکیانو په پروژه سره د روزګان ډیری سیمې نیولې وې، خو د تیرکال په اوږدو کې د ولسوالیو له مراکز پرته د روزګان ټولې کلیوالې سیمې، اطراف او لویې لویې ناوې ددښمن له لاسه ووتلې.

مثلا دخاص روزګان د ولسوالۍ ټولې مربوطه سیمه لکه شالې ناوه، سلطان محمد ناوه او نورې سیمې مجاهدینو نیولې یوازې د ولسوالۍ په مرکز کې دشمن محاصره پاته دی، د چارچینو سیمه چې اوس په دوو ولسوالۍ ویشل شوې چې یوه د دخارخوردې ولسوالۍ ده او بل د شهیدحساس ولسوالي د خارخوردې ولسوالي یې مکمله فتحه شوې او په پاتې برخه کې یوازې د هوشي کوچنی بازار پاته دی چې مجاهدین ورباندې بریدونه جاري ساتي. د هراوود ولسوالي چې ګوډاګي حکومت ته د روزګان تر مرکز هم ډیره مهمه سیمه ده او ساتلو ته یې ډیر متوجه دي، مجاهدینو یې د ورجان ، شورجی ، سنګ لاخ ، بازګیر ، دهزک ، سیاسنګ ، کور ، شنغولی او غارې په نوم سیمې فتحه کړې او تر تنګې پورې رسیدلي دي دلته هم دشمن د ولسوالۍ په مرکز کې محصور پاته دی، چې د ولسوالي د ساتلو لپاره یو ځل دروزګان له مرکز څخه قوه راغله او شکست یې وخوړ او بیا یې له کندهار څخه ورته ځانګړي ځواکونه یا کومندویان راوستل چې اوس هم بریدونه ورباندې روان دي.

په چوره او چنارتو ولسوالیو کې هم ډیرې سیمې مجاهدینو نیولې دي او د مرکز ترین کوت په دروشان، مرباد او پای ناوه سیمو کې هم ډیر پرمختګونه شوي دي.

پوښتنه : محترم والي صاحب که د تیرکال عزم عملیاتو په لړکې په روزګان کې د ځینو مهمو جهادي عملیاتو جزیات راسره شریک کړئ ؟

ځواب : مننه ، سمه ده دلته به د هغو سترو عملیاتو څو نمونې ذکر کړم چې دتیرکال په اوږدو کې په روزګان کې ترسره شوي او رسنیو هم ورته انعکاس ورکړی.

د تیر ۲۰۱۵ میلادي کال د اپریل په ۲٦ مه دروزګان سرپرست امنیه قومندان سمونوال ګلاب خان د مجاهدینو په برید کې له منځه لاړ،د مې میاشتې په ۲۲ مه مجاهدینو په خاص روزګان کې لس پوستې فتحه او ۴۰ عسکر ورته تسلیم شول په چارچینو او دهراود کې هم کامیاب بریدونه وشول. د همدې میاشتې په ۲۳ مه د چارچینو امنیه قومندان اسمعیل په چاودنه کې له منځه لاړ. دمې میاشتې په ۲۷ مه په خاص روزګان کې ۳۷ تنه اربکیان او پولیس مجاهدینو ته تسلیم شول. د جولای میاشتې په پیل کې مجاهدینو د چارچینو په زمبوري، هوشي او ریګکي سیمو کې د پولیسو او اردو په پوستو پراخ بریدونه پیل کړل او ډیرې سیمې ترې تصفیه کړې. د جولای په ۱۷ نیټه د دهراوود امنیه قومندان او په ظلم مشهور ټوپکی حاجي طالب او مرستیال یې جان اغا نانی له څلورو نو عسکرو سره یوځای د مجاهدینو په برید کې له منځه لاړل. د اګست میاشتې په پیل کې مجاهدینو د خاص روزګان په سلطان محمد ناوه کې ګام په ګام پرمختګ وکړ تردې چې ددې میاشتې په ۲۳ مه یې دغه پراخه او اوږده ناوه مکمله فتحه کړه، ددښمن لسګونه عسکر ووژل شول، زیات شمیر یې تسلیم او یو څه پاته یې له سیمې وتښتیدل. د ۲۰۱٦ میلادي کال په لومړۍ میاشت کې په دهراوود او چهارچینو کې عملیات پیل شول چې د لومړۍ میاشتې په دیرشمه نیټه یې په دهراوود کې څلور پوستې فتحه شوې د مجاهدینو پرمختګ په دهراوود کې تر هغه روان و چې د ولسوالۍ له مرکز پرته ټولې سیمې ددښمن له شتون څخه تصفیه شوې، د مارچ میاشتې په لومړۍ نیټه مجاهدینو د خارخوردې ولسوالي مکمله فتحه او د سراب سیمه یې هم ددښمن له شتون څخه پاکه کړه. د مارچ دمیاشتې په ۱۱ مه په خاص روزګان کې تر ٦۰ زیات عسکر له وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول. او د مارچ په وروستیو کې د چارچینو په ولسوالۍ یو ځل بیا بریدونه پیل شول چې تراوسه دوام لري تراوسه مجاهدینو له لسو ډیرې پوستې نیولې او په دښمن یې د محاصرې کړۍ نوره هم تنګه کړېده .

پوښتنه : که مجاهدین د روزګان د ولسوالیو مراکز هم فتحه کړي اغیز به یې د جګړې په عمومي وضعیت څه وي؟

ځواب : که د الله تعالی په فضل اونصرت سره ، لکه موږ چې تمه لرو مجاهدین د ولسوالیو مراکز هم فتحه کړي چې اوس ورته پلان موجود دی، نو ددشمن ولایتي مرکز په هیڅ صورت مقاومت نه شي کولای او که ولایتي مرکز فتحه شي نو دا به ددښمن لپاره په هر لحاظ یو سخت ګوزار وي چې بیا به یې په دې سیمه کې پښې ټینګه نه شي، ځکه تاسو ته معلومات دی چې همدا اوس د روزګان په ګاونډ هلمند کې هم د فتحو لړۍ روانه ده او په زابل او کندهار کې هم مجاهدینو ډیر پرمختګونه کړي دي. روزګان ولایت داسې سیمه نه ده چې دشمن یې بیرته د قوې په زور ونیسي ځکه هلته اولس ټول مجاهد دی او د یرغل هغه اولني کلونه هم نه دي چې خلک د امریکا په تبلیغاتو وویریږي او یا وربانديې وغولیږي.

پوښتنه: آیا په روزګان کې د اسلامي امارت نه پرته کومه بله داسې ډله شته چې د اسلامي امارت سره معارضه وي او د عملیاتو په ورانديې یې خند ایجادوي؟

ځواب : لله الحمد د روزګان ولایت مجاهدین ټول د یوه امارت خلک دي د یوه زعیم امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله په بیعت کې دي، او تر یوه بیرغ لاندې جهاد کوي، په روزګان کې هم د افغانستان د نورو اکثروولایاتو غوندې له دې اړخه هیڅ ستونزه نشته بلکې که ووایم د افغانستان په سطحه دغه ستونزه د نشت برابره ده ، د افغانستان په ۳۴ ولایاتو کې یوازې په دوو ولایاتو کې داسې کسان شته چې د اسلامي امارت له چوکاټ څخه ځان وتلی بولي نور نو

په ۳۲ ټولو ولایاتو کې هیڅ مشکل نشته. خو اسلامي امارت دداسې ستونزو حل ته متوجه دی.

پوښتنه: محترم والي صاحب ! داچې د مرکې لپاره مو وخت راکړ له تاسو مننه کوو. که په پای کې څه پیغام لرئ هیله ده راسره شریک یې کړئ !

ځواب: پیغام مې مجاهدینو ته دی هغه دا چې دادی اوس یو ځل بیا کال رانوی شوی دی او موږ د عملیاتو د پیل په حالت کې یو، نو مجاهدین خو لومړی باید خپل نیتونه خالص لله فی الله وګرځوي، دځان اصلاح ته پام وکړي او بیا داسلامي نظام د اعادې او کفر او فسق د محو کولو لپاره ټوله توجه جهادته واړوي. مجاهدین بایدددښمن له تبلیغاتو او د شیطانانو له وسوسو اچولو څخه ځان وساتي او له دا ډول و سوسو څخه د ځان ساتنې یوه لاره داده چې ټوله توجه جهاد ته وشي.

موږ الله تعالی ته امید لرو، او په دې مو یقین دی چې په موږ د الله تعالی د نصرت دروازې را خلاصې شوي دي د هیواد له هرې سیمې د فتحو زیري راځي، نو په دغسې حالت کې باید د فتحو له دې کاروان سره ملګري شو، د اسلام په دښمنانو بریدونو ته زور ورکړو او د اسلامي نظام د اعادې لپاره خپله ټوله هڅه په کار واچوو.

ان شاءالله هغه ورځ لرې نه ده چې یوځل بیا کفر مات او شکست وخوري او په هیواد مو د اسلامي نظام سپین بیرغ رپاند شي.

و ماذالک علی الله بعزیز

شاعر: بشام

اي د وخت ثالث عمره

زمــا د هیلــو روڼ ســحره هېــر مــې نــه یــې
زمــا د زړه شــکلې دلبــره هېرمــې نــه یــې

نــن دیــدن دې کــړم د خیــال پــه اینــه کــې
تــر هــر چــا یــې معتبــره هېــر مــې نــه یــې

شــجاعت دې د تــاریخ پــه ســر کــې ثبــت شــو
زمــا محبــوب زمــا مهتــره هېــر مــې نــه یــې

تــا یــو کــم پنځــوس غربــي بېــړی چپــه کــړې
د غــزاوو ســمندره هېــر مــې نــه یــې

د ایمــان درختــه دې ډکــه پــه ثمــر وه
پــه تقــوا نــور منــوره هېــر مــې نــه یــې

پــر زړکــي مــې ســتا د مینــې کښــت کرلــی
د ښــکلاوو مــازدیګره هېــر مــې نــه یــې

د جهــاد پــه مدرســه کــې دي تعلیــم کــړم
راتــه ګــران یــې ســتر رهبــره هېــر مــې نــه یــې

بشــام ســتا مینــه د زړه خــورجین کــې ســاتم
ای د وخــت ثالــث عمــره هېــر مــې نــه یــې

لیکنه : حبیبي

پسرلی

له کوم پیغامه سره !؟

هغه دی موسم هم په خپل اوښتون سره انسانیت ته په عملي توګه د اوښتون درس ور وښود (پسرلی راغی) او د بیلا بیلو ښکلا ګانو په را برسېره کولو سره نور هم ورته ثابتوي چې له مثبت بدلون وروسته د نتیجې په توګه به داسي ثمرې، ابادی او لاسته راوړني ضرور ولری.

زموږ ګران هیواد چې د پسرلو وژونکي پکي له څلورو لسیزو را په دېخوا د خوشحالیو او ښکلا ګانو د زېندی کولو په ګرمه یرغلیزه جګړه بوخت دي بیاهم پکي د بدلون هیله نه ده مړه شوې او څو داسي زړه سواند بچیان یې چې ځان پرې تږوته - تږوته کوي مګر د هیواد تږوته کېدل نشي زغملای لګیادي ترڅو د هغه یون تکامل یقیني کړي چې غواړي د مسلمانانو خاوره د صلیبي اشغال له حصاره ازاده او دوی ورکي خپلواک ،عزتمن او د خپلو دیني ارزښتونو په رڼاکي ژوند ولري.

دم مهال افغانان، ورځ په دې کې چې بچو ته به ډوډی له کومه پیداکوي، ناروغ ته به دوا له کومه راوړي، او په بند کې د پراته ورور لپاره به واسطه یا ډالري رشوت څنګه برابروي؛ او شپه په دې کې چې داسي نه اوس چاپه را شي او داسي نه نیمه شپه مې د کور په دېوالو امریکایي عسکر راواوړي، او یا په دې کې چې نن به له حکومته د رعیت د عزتونو په خوندیکولو کې څوک لاس نیونکی پیداشي اوکه نه! ډېر کم د موسمي اوښتون په راتلو سره د خپل حالت اوښتو ته په هیله دي.

افغان ولس له دې خو تیر چې ناتو ته وایي: امنیت راولئ او وطن موجوړ کړئ په دې هڅو او پریشانیو کې غرق دی چې څنګه د دې وحشیانو او مزدورو اربکیانو له شر او زبېښ څخه ځان خوندي کړي. د بغلان خلکو دفروری د ۲۳مې په لاریون کې وویل چې: دوه سرې اداري له طالبانو سره جګړه نه، بلکي د ملکي خلکو ګریبان ته لاس اچولی، او د همدغې میاشتې په ۲۴مه د یوناما اداري له خوا څېړنیز راپور به مو لا حیران کړي چې وایي: د تیر ۲۰۱۵ میلادي کال په اوږدو کې ۱۱ زره ملکیان وژل شوي دي. په وار وار لیدل شوي دي چې د ښکیلاکرو او کوداکي رژیم لخوا عام المنفعه ځایونه بمبار شوي، په بلدوزرو نو نړول شوي، د عام ولس په تجمع بې رحمانه بمبارونه شوي او په توپونو ویشتل شوي دي؛ دغه راز: د لویو لارو په سر او فصلونو کې بې دفاع کلیوال ویشتل شوي او یا په وهلو ټکولو په خورا وحشت سره په شهادت رسول شوي دي.

هغه نړیوال چې ویل به یې په افغانستان یې زړه سوځي، او که هلته ورشي نو په ښکلاکي به یې له فارس سره سیال کړي، په اقتصادکي به یې په ځان بسیا

کړي، د راکړي ورکړي لپاره په نړیوال بازار کرزولو به پرې د بهرنیو پانګوالو سیلاب ورمات کړي، او په امن کې به یې د اسلامي امارت تر مهال هم لوی ضرب المثل وګرزوي؛ پرته له دې چې ځانونه او د دوی په درواغو دوکه شوي پوچ زړي مزدوران یې وشرمول نور هیڅ ترې ترلاسه نه شول.

ملي شتمنی او له کانونو او ګمرکاتو څخه تر لاسه کېدونکې پیسې د خپل چوپړ لپاره مزدورانو ته د معاش په توګه ورکوي او هغوی بیا په حکومت او حالاتو د نه باور له وجې خپلې شتمنی په بهرنیو بانکونو کې زیرمه کوي چې په دې ډول هم پانګه له هیواده وزي او هم یې کټه او تیکسونه بهرنیان اخلي. له کرهنې او بزګرو سره د مرستې بېلګه یې دا چې په کروندویې د هواله لارې کیمیاوي مواد وشیندل او په دې ډول نه یواځې دا چې د کرهنیزو توکو په برخه کې افغان محتاجه پالیسي مخته وړي، بلکې د روغتیا په برخه کې هم خپل هغه هدف په ډېر جدیت تعقیبوي چې افغانان دې ښه صحت ونه لري ترڅو همیشه ارمن او غلامی ته مجبور واوسي.

د بلواکي اداري د وه مشران اوس هم نه پوهیږي چې ولې یې غربیان د هیواد ځوانان له سیمي وتلو ته هڅوي، کوم لاملونه دي چې ښه په واک افغانان د سمندر په څپوکي مرګ ته ځان ورکوي خو هغه شل یا پنځوست زره ډالر چې قاچاقبریې ترې اخلي په خپل هیواد کې په کار نه اچوي.

دا ټول هغه څه دي چې په پسرلي پسې اقتداء ته مو اړباسي او په دې مو تینګوي چې د اوښتون ترلحظې د جهاد لاره ونیسو.

پسرلی په دې سره چې په یواځې سرفضا او د ټولې ځمکې مخ بدلوي مونږ ته راښیي چې که کلک هوډ ولرئ کولای شئ په ډېره اسانی هرڅه ته بدلون ورکړئ اوتر خپلو هیلو ځان ورسوئ. پسرلی راته د ژمي په وچو لرګوکي د سپینو اوسرو ګلانو راپورته کول، په ناهیلو زړو کې د نوي زور او شورد حتمي پیداکېدو دلیل راوړي او پسرلی په دې سره چې د مرغانو شور، د شبنم څاڅکو، د ټولو مېوو وجود، د ګلانو خوشبويي، کرلو اورپېلو، او دځمکې د زرغونتیا په څېر لویو رنګینیو سره مونږ ته د ژوند فلسفه رازده کوي، او پیغام راکوي چې: د ابا دېدلو او ابادولو مو یوه لاره ده او هغه دا چې تریوه مشرلاندې متحد شئ او دمثبت انقلاب لپاره زما په شان ټولې رنګینی په ځان کې ولرئ.

بل خوا مجاهدینوته د پسرلي دا پیغام تر ټولو د پام وړ دی چې: دخلکو د ګناهونو او د قرآن پرځای دخپل نفس د پیروی‌په وجه خدای په مارحمت (باران) بندوي او په دې سره نه یواځې زما رنګینی له منځه ځي بلکې د ځمکې ټول مخلوق خوارېږي؛ که تاسو هم له قرآنه بغیر بل مقتدا ساتئ او د نیت چاره مو کړه وي نو الله به د نصرت دروازې دربانـدي وتړي، ګناه به مو د مخلوق د خوارۍ سبب شي او ورسره به (خدای مکره) دې ګواښ ته هم مصداق شئ چې: ان بطش ربک لشدید.

افغان ولسه!دموسم له پسرلي سره دحالاتو او ازادی پسرلی مو هم نصیب شه.

دیو والي اهمیت او ضرورت

سید شریف

د دوست او دښمن پر دې خبره اتفاق دی چې په وحدت کې قوت دی،یو والی د بري راز دی،په اتحاد کې د دښمن شکست دی، د نفاق اچونکو ذلت دی او تر ټولو مهمه داچې یو والی دالله تعالی د نصرت مورد دی.

دحکومتونو، خوځښتونو،ټولنو او حتی کورنیو داتحاد او یو والي په صورت کې د قوي دښمن لوی پلانونه بې اغیزي وي او هڅې یې بې له کومې مثبتې پایلې پای مومي،خو د افتراق او تشتت په حالت کې کمزوری غلیم هم کولای شي چې خپلې کرغیړنې نقشې تطبیق کړي .

تجربو ا ومشاهدو ثابته کړې چې اتحاد د کامیابۍ ستر باعث دی، مقصود منزل ته لنډه او اسانه لار ده،د دښمن د فعالیت په وړاندې لوی بډ او خنډ دی، د شهیدانو، یتیمانو، اسیرانو او مظلومو هیوادوالو دپاکوهیلو او سترووارمانونو دتمثیل ستر سبب دی.

خو برکس اختلاف بیا د کفر پر ژرنده د ابو ورسیخول دي، د مسلمانانو د مځکو او شتمنیو استثمار ولواو مستعمره کولو ته لاره هواره ول دي،د اسلامي نظام دحاکمیت په مخ کې د پولادي دیوال درول دي او بالاخره د مسلمان ملت د غلام کولو لوی علت اختلاف دی.

متاسفانه ځیني دیني علومو ته منسوب اشخاص هم په شعوري توګه هڅه کوي چې دمسلمانانو او په ځانګړې توګه د مجاهدینو ترمنځ اختلاف پیدا او پیاوړی شي، دوی عملا اختلاف ته لمن وهي،تقریرونه ورباندې کوي او داختلاف د پیاوړیتا لپاره فتواوې صادریوي، خو وایې چې دوی اختلاف نه کوي او جالبه لا داچې خپلو هڅو ته د د وینو د توئیدو دمخنیوي او جوړجاړي نوم ورکوي.سبحان الله

تعجب دی همدغه ډول اشخاص په قران او احادیثو کې هغو مبارکو نصوصو او مضامینو ته نه ګوري چې په تکرار سره د وحدت او اتفاق تاکید او ښیګڼې بیانوي.

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا»

الله تعالی خپلو بندګانو ته د اتفاق امر کوي، له جلا والي یې راګرځوي، ځکه په بیلتون کې ضعف دی،کروړ قوت په اسانه اوبه کیږي،ارادې متزلزلې کیږي،عزم سستیږي،کمزوری دښمن غښتلی کیږي او بالاخره خپل هغه پاک او باارزښته هدف ته چې په ملیونونو سرونه مو پرې ښندلي رسیدل په یو خوب او خیال بدلیږي.الله دې نه کړي!

کوم کسان چې د اختلاف زړي شیندي که په هر عنوان همدغه کرغیړن عمل کوي، په دنیا کې دې ذلت او رسوایې له پامه نه غورځوي او په اخرت کې دې دالله تعالی د مبارک فرمان «ولا تفرقوا»د تخلف دسزا څخه نه بې پروا کیږي.

«إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ»

الله تعالی له هغو کسانو سره مینه اومحبت کوي چې دده عز وجل په لاره کې یو موټي جنګیږي، اختلاف نه کوي او د تشتت مخه نیسي،نوخپلو کړو وړو،ویناوو او کړنو ته ډیر پام باید وکړو چې په شعوري او لا شعوري توګه د ولاتفرقوا مبارک فرمان تر پښو راځخه لاندې نشي، ځکه په دې عمل سره به الله تعالی د ې نه کړي له د نیوي او اخروي خسران اولوی زیان سره مخا مخ شوي یو.

داچې د کائناتو خالق او حاکم جل جلاله د اتحاد پر موضوع په دومره تکرار سره اصرار کوي، عمیقه ځیرنه باید وشي، ځکه حتما د دینوي بریا او اخروي سعادت ډیر او لوی رازونه پکې شته.

اوله برخه
سليم حاجي

دجنت لار

سليم حاجي چې اوس يې له نوم سره "رحمه الله "ليکم.

دليدلو او روغبړ لومړی شيبې يې په خندا پيلېدې، دمجلس دپای ټکي به يې هم موسکا وه، په رب سوګند چې په خبرو به يې هيڅ نه مړيدم ،په خپله تواضع او کردار چې له موږ سره به يې کاوه مونږ يې دژوند ترپايه دژوند پوره وړي کړځولي و

هو ! که مو غوښتل چې دلوړو اهدافو لپاره دمبارزينو هڅې او هاندې وګورئ نو دی يې ژوندی بيلګه او دده په اړه له خلکو واورئ!

دسالمې عقيدې، سوچه فکر، غوره اخلاقو نمونه وه.

داستعدادونو يو لوی بهير او دعلم يو بل مثال و، ،څنګه چې څښتن تعالی ښايسته ځواني پرې لورولې وه همداسې يې وجود له معنوي محاسنو څخه ډک و .....رحمه الله تعالی

هغه ورځ چې يې ماته دغه کتاب په ايميل ادرس راواستوو، او ده "رحمه الله" په ډير زيار ژباړلی و او راته وې ويل چې ته يې وګوره که الله تعالی ته خوښه وه نور کار به هم ورباندې وکړو، دخير لپاره بهترينه وسيله ده.

سليم حاجي دجنت لاره مزل کړه ؛ مګر کتاب يې ماته راپاته شو ، دده د ارادې سره سم مو غوره وګڼله چې لومړی په شهامت کې خپورشي، بيا که دالله تعالی خوښه شوه چاپې بڼه به هم ورکړو :

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله جل وعلى قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ، وقال تبارك وتعالى : {والذين آمنوا وعملوا الصالحات أولئك أصحاب الجنة هم فيها خالدون } [سورة البقرة :٨٢]

درنو ورونو او خويندو! لاندنيو ليکو کې هغه مبارک حديثونه را ټول سوي چې مسلمانانو ته دجنت لاري ښودل سوي اميد لرم چې دغه مبارک حديثونه به يو په بل پسې هر مؤمن مسلمان عملي کړي او ځان ته به دالله جل وعلا دجنتونو او نعمتو نو لاري پيدا او اسانه کړي، او ماته به ددغه حديث مبارک مطابق چې په ډيرو طريقو رانقل سوی الله تعالی اجر راکړي:

عَن ابنِ مَسعُودٍ، قال: قال رَسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم» :مَن حَفِظَ عَلَى أُمَّتِي أَربَعِينَ حديثا يَنفَعُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وجَلَّ بِها، قِيلَ لَهُ: ادخُل مِن أَيِّ أَبوابِ الجَنَّةِ شِئتَ

«دغه مبارک احادیث چې شمېر يې ٤٠ ځلوېښتو ته رسيږي ډيرى يې داحاديثو په ٦ صحيحو کتابو نو کې را نقل سوي او ټول صحيح حديثونه دي کوم قول چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کړى وي په هغه کې شک بيا نسته ټول به په دې متيقن يو .اوس پام وکړئ دحديثونو عبارت او پښتو ژباړې ته.

١ - ((من لقي الله لا يشرک به شيئاً دخل الجنة)) [البخاري]

څوک چې دالله سره په داسې حال کې مخ سي چې دالله (تعالى) سره يې هيڅ څوک شريک نه وي نيولى جنت ته به دا خل سي(بخاري)

٢- ((من آمن بالله وبر سوله ، وأقام الصلاه، وصام رمضان ، کان حقاً على الله أن يدخله الجنة)) [البخاري]

څوک چې په الله تعالى او دهغه په رسول ايمان ولري ،لمونځ کوي، روژه نيسي په الله تعالى حق لري چې جنت ته به يې دا خلوي](بخاري)

٣- ((من بنى مسجداً يبتغي به وجه الله بنى الله له مثله في الجنة)) [البخاري]

څوک چې دالله تعالى دپاره مسجد جوړ کړي الله به ورته به په جنت کې دهغه په شان(قصر) جوړکړي (بخاري)

٤- ((من صلى البردين دخل الجنة)) [البخاري]

څوک چې دسهار او مازديګر لمونځو نه ادا کړي، جنت ته به داخل سي(بخاري)

٥- ((من غدا إلى المسجد وراح أعد الله له نزله من الجنة کلما غدا أو راح)) [البخاري]

څوک چې سهار او بيګا مسجد ته لاړشي، الله (جل جلاله) به دده لپاره په جنت کې دميلمستيا ځاى برابر کړي چې هر وخت ورته ځي راځي. (بخاري)

٦- ((من يضمن لي ما بين لحييه وما بين رجليه أضمن له الجنة)) [البخاري]

چا که راته ددوه ژامو ترمينځ (ژبې) او د دوه پښو ترمينځ (دشهوت آله) ضمانت را کړي (چې په ناروا کي به يې نه استعمالوي) زه ور ته دجنت ضمانت ورکوم. (بخاري)

٧- ((من صلى اثنتي عشره رکعة في يوم وليلة بُني له بهن بيت في الجنة)) [مسلم]

څوک چې ١٢ رکعته په شپه او ورځ کې ادا کړي (سنن رواتب) ددوى په عوض کې به په جنت کې دده لپاره کور جوړ سي. (مسلم)

٨- ((من سلک طريقاً يلتمس فيه علماً سهل الله له به طريقاً إلى الجنة)) [مسلم]

څوک چې دعلم په طلب کې ووځي، هغه ته به دعلم حاصلولو په سبب دجنت لار اسانه کړي.(مسلم)

٩- ((من قال مثل ما يقول المؤذن من قلبه دخل الجنة)) [أبو داود].

خبير احمد مجاهد

کيوبا ته داوباما دوره له خجالتونو ډکه وه!؟

دامريکا ولسمشر (باراک اوباما) دتيرې مياشتي (مارچ) په ۲٦نيته دکيوبا پلازميني (هاوانا) ته دوه ورځنۍ دوره اوسفر وکړ، داله کابو ۸۸ کلونو ورسته يو لوړ پوړی امريکايي چارواکی وو، چې نوموړي هيواد ته يې دورتګ اوسفر زړه ښه کړ.

امريکا او کيوبا دتير ساړه جنګ دښمنان وو، چې له نيمايي قرن څخه زيات يې يوه له بل سره اړيکي پرې او سختي ترينګلي وي،

په کال ۱۹۵۹ چې په کيوبا کې د فيدرل کاسترو په مشرې کمونيستي دولت هلته واک ته ورسيد، دامريکا او کيوبا اړيکي نورې هم خرې پرې وکرځيدې، هماغه وو چې امريکا په کيوبا باندې سخت اقتصادي بنديزونه ولګول اونوموړی هيواد يې په اقتصادي کلابندی کې چې تراوسه دوام لري راګير کړ.

اوباما او کاسترو په ړومبی وار دجنوبي افريقا درهبر (نلسون منډيلا) په جنازې کې سره وليدل او ديوبل لاسونه يې سره وټومبل اوپه همدې ډول دامريکا او هاوانا ترمنځ دديپلوماتيکو اړيکو دپيوند کولو يو زينګال او اګاهي خلکوته وړاندې کړل شو.

اوباما په کيوبا کې سخت خجل او تحقير شو

نړيوالو رسنيو داوباما په وړاندې دکيوبا هيواد ترټولو ړومبی سوړ او له کمترې ډک برخورد داپه ګوته کړ، چې داوباما هرکلي ته په هوايي ډګر کې دکيوبا دولسمشر (کاسترو) په ځای ددغه هيواد دبهرنيو چارو وزير ورغی او وزير هم دامريکا ولسمشر او ملګري پلاوي ته يې په ترو تنده هرکلی ووايه، چې دکيوبا دتشريفاتي اصولو اومعمول خلاف پوعمل وو،

په داسې حال کې چې په نيږدې ورځو کې دفرانسي دکاتوليکانو مشر کيوبا ته په خپل سفر کې تراوباما څو برابره زيات استقبال اوشانداره ميلمستيا يې وشوه، تردې چې هرکلي ته يې دنوموړي هيواد ولسمشر کاسترو په خپله هوايي ميدان ته ورغلی وو.

بله جالبه نکته او داوباما لپاره له توهين ډکې شيبي هغه وي ،چې رائول کاسترو او اوباما په يوه خبري ناسته کې چې کله خبري پای ته ورسولي اوباما دخپل عادت او يا لوړ پرواز له مخي هڅه وکړه، چې دکيوبا دولسمشر په اوږه لاس واچوي اويايي په ملا وټپوي ، خو کاسترو يې لاس په هوا کې کلک ونيو او اجازه يې ورنکړه چې هغه يې په اوږه لاس کيږدي ، چې دکاسترو همدغه برخورد داوباما خندا او موسکا ځای پرځای ودروله اوله يوه نااټکله ذليل حالت سره مخ شو، تردې پورې چې اوباما اوکاسترو دخبري ناستي له پای ته رسيدو ورسته هم يو بل ته لاس ورنکړ.

اوباما دخپل سفر په اوږدو کې د کوربه هيواد له واکمنو سره ټولي دوه نيم ساعته رسمي خبري درلودي، نور وخت يې ټول دکيوبا په پلازمينه کې په قدم اوچکر وهلو تيره کړه ، اوباما غوښتل دکيوبا له خلکو سره خبري او روغبړ وکړي اودخلکو زړونه ځانته مايل

کړي، خو زیاترو خلک ورنه دکرکې په ډول له خبرو ډېره کوله دامریکا په سیاستونو به یې دلیکلو پوسترونو په ژبه نفرت وایه.

اوباما له خپلې میرمنې او لوریانو سره دهاوانا یوه تاریخي هوټل ته دخوراک اوڅښاک لپاره ورغی کله چې فارغ شو، هغه دمصرف لپاره له خپل جیب څخه ډالر راوویستل، خو دهوټل موظفینو ورته وویل چې دلته په ډالرو راکړه ورکړه بنده ده ته باید مونږ ته دکیوبا بانک نوټ راکړي، هماغه وو چې اوباما خپلو محافظینو ته مخ راواړاوه چې ډالر دکیوبا په دولتي پیسو بدل او دخوراک مصرف ورته ورکړي.

اوبامادخپل محافظت لپاره سوونه محافظین او همکاران بیولی وو او ۲۲ امریکا موټر چې ټول په یو رنګ وو دکیوبا په پلازمینه کې ورسره ګرځېدل، کله چې دهاوانا تاریخي کلا ته ورغی او معمولا هغه دپلازمینې یو ګڼ میشتی سیمې بلل کیږي، داوباما تصمیم اوسوچ داوه چې دهغه ځای له خلکو سره به روغبړ وکړي او وینا به ورته وکړي، خو چې کله اوباما هلته ورسید دکلا دمخې میدان کې صرف اوباما او دهغه سوونه ساتونکي پاتې شول، خلکو له امریکا څخه دنفرت او کرکې په ډول ټول ووتل او هغه ټاکل شوی ځای یې تخلیه کړ ، ترڅو چې یو وړکې ډله راغله او صرف داوباما ترمخ یې دامریکا بیرغ ته اور ورته کړ .

داوباما لپاره یوه بل تحقیر امیز حالت هغه وخت وو، چې کله هغه دمطبوعاتي کنفرانس په مهال وویل چې امریکا غواړي له کیوبا سره اقتصادي مرستې وکړي، ولې دکیوبا ولسمشر ورته په ځواب کې ور غبرګه کړه چې امریکا دې هیڅکله مونږ ته مرسته او امداد نه راکوي، بلکې هغه ملیاردونه ډالر دې مونږ ته تسلیم کړي چې داقتصادي بندیزونو له امله کیوبا ته اقتصادي زیان اوصدمه رسیدلې.

دکیوبا ولسمشر کاسترو اوباما ته په صریحو ټکوو ویل: که امریکا غواړي له کیوبا سره اړیکې عادي او دښمني پای ته ورسوی نو ۵۵ کلن اقتصادي بندیزونه دې پای ته ورسوي اوډګوانتانامو خلیج دې بیرته مونږ ته وسپاري.

خو اوباما په خبرې ناسته کې په وار وار تکراروله چې مونږ له کیوبا سره دوستې او مناسبات غواړو، ولې اوس هم په کیوبا کې دامریکا په اند بشري اندیښنې اوله دیمکراسۍ څخه سرغړونې وجود لري.

غزل

چنار تکور

ترورمۍ ده لاره پاتې ده لا مخته
وخت هم پروت دی لکه غر د رنا مخته

د دالاتو له بدلونه ښکارې دا چې
محکمه به شي وزیر د باچا مخته

طالب جان د دغه عصر مومن خان دی
دربدلی دی د تورې بلا مخته

خدایه راوله کاروان د سپین پټکیو
زموږ د خرې برجورې کلا مخته

ملګرې ته دې تر داسې حده ژمن یم
جنت نه غواړم جانانه تر تا مخته

شکر شکر چې افغان یم مسلمان یم
شکر یمه له دې ټولې دنیا مخته

ټول پرهر یم بې تکوره یم جهانه
نور ازغې مه کړئ بس ده زما مخته

د افغانستان اسلامي امارت
د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو کميسيون

تعليم او تربيه د ژوندانه اړتيا!

که چېرې لومړۍ برخې ته يوه ځغلنده کتنه وکړو نو په هغه برخه کې مو د علم او زدکړې ارزښت وڅېړلو، همدا راز ددې لړۍ دمهم رکن استاذ په اړه مو اسلامي ارشادات راوړل ، د استاذ مقام ، د استاذ مواصفات ، شاګرد، او ټولنې ته داستاذ ښوونيز مسئوليتونه او داسې نور اړونده مسائل مو ستاسو په وړاندې کېښودل ، لومړی مو داستاذ ايماني او نفسي صفتونه په تفصيل سره وڅېړل چې هغه : صداقت او رښتنولي , عدل او برابري , صبر او زغم , امانتداري , له شبهاتو اومروت ضد شيانو څخه ځان ساتل , حياء خپلول , د جماعت په لمانځه عادت نيول , ښکلی او صفا منظر او مظهردرلودل , حلم او عفو , تواضع او نرمي او په تيره بيا شفقت اومهرباني کول وو.

او بيا په دوهمه برخه کې مو د استاذ ځينې شرعي ، عقلي او تعليمي مهارتونه بيان کړل لکه په اصول التدريس کې ځينې شرعي او عقلي مهارتونه چې : په ټولو اسلامي ، تعليمي او ښوونيزو پاليسيوځان خبرول , د نيت پاکوالی او اخلاص درلودل ، په الله جل جلاله باندې توکل کول ، د شاګردانو په طبيعت ځان پوهول , د شاګردانو فطري مواهبوته وده ور ښښل , په زده کوونکو کې د ابتکار او نوښت روح پوکول , په شاګردانو کې د مکلفيت او مسئوليت احساس ويښول , شاګردان په ورور ولۍ او تعاون کولو روزل , د شاګردانو د عقائدو او اخلاقو جوړول , د شاګردانو تشجيع او هغوی ته جرأت ورکول او داسې نور وو چې په تفصيل ورباندې وغږيدو.

دا دی درېيمه برخه ستاسو په وړاندې ايږدو چې په لاندې ډول ده:

درسي مهال وېش او تدريسي پلان :

مخکې مو و ويل چې استاذ د تعليمي او ښوونيزې لړۍ اصلي رکن دی چې خپل معلومات شاګردانو ته لېږدوي نو ددې لپاره چې دغه لېږد او انتقال په ښه مؤثره تو ګه تر سره شي ، استاذ خپل مسئوليت اداء کړي او شاګرد په لږ وخت کې ډيره استفاده وکړي نو دلته ځينې داسې اصول او قواعد ، مهارتونه او لارې چارې موجودې دي چې دهغو په رعايت کولو سره کېدای شي دغه اهداف تر سره شي .

عمومي درسي مهال ويش (نقشه)

هره تعليمي اداره د خپلو درسونو د پرمختګ لپاره يو کلنی درسي مهال ويش (تقسيم الاوقات) لري چې د هغې له مخې هر استاذ په خپل وخت درس ته حاضرېږي ، خو په مهال ويش کې بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيول شي :

د هرې درجې او ټولګي مضامين بايد د مسلک په لحاظ استاذانو ته ورکول شي يعنې کوم استاذ چې د کوم مضمون ماهر اوهغه يې علمي مسلک وي هغه ته ورکول شي .

د مضامينو کيفيت (سختوالی اواسانوالی) او کميت (لږ والی او ډيروالی) د تعليمي کال درسي او رسمي ورځو ته په کتو سره په نظر کې ونيول شي يعنې سخت او زيات مضمون ته ډير او اسانه او کم مضمون ته لږ وخت ورکول شي .

تدريسي پلان :

يو فعال استاذ خپله تعليمي او تدريسي لړۍ د يوه ټاکلي پلان له مخې پر مخ وړي ، هغه له ځان سره د تعليمي کال په پيل کې د هغو مضامينو لپاره چې د اداري لخوا په درسي مهال ويش (نقشه) کې ورکول شوي دي کلنی ، مياشتنی ، هفته وار او ساعت وار پلان جوړوي چې بيا د هغه له مخې خپل مضامين په منظمه توګه تدريسوي .

پلان څه ته وايي؟ د پلان ډولونه ، د هغه فايدې اوګټې څه دي ؟ غواړو په دې موضوعاتو يوڅه رڼا واچوو:

پلان څه ته وايي؟ پلان فرانسوي کلمه ده په لغت کې تدبير ، سنجش ، نقشې او د يوه کار دسرته رسولو لپاره تصميم نيولو ته وايي .

په اصطلاح کې هغه ذهني نقشه او طرحه ده چې ديوه کار او عمل د سرته رسولو فعاليت تنظيموي .

تدريسي پلان ديوه استاذ هغې نقشې ته ويل کيږي چې د هغې په مرسته تصميم نيسي چې څه شی وښيې؟ څه ډول يې وښيې ؟ څه ډول يوه شی چې شاګردانو درس زده کړ؟ نو هر استاذ چې پلان ولري هغه ددې پوښتنو په اړه مطمئن او ډاډه وي او کوم تشويش نه لري ، دلته زمونږ مطلب تدريسي- پلان دی او غواړو د هغې په اړه لاندې معلومات وړاندې کړو :

تدريسي پلان په حقيقت کې په لاندې ډولونو مشتمل وي :

١. داوږ دې زمانې پلان (کلنی تدريسي پلان)

٢. دمنځنۍ زمانې پلان (مياشتنی اوهفته وار تدريسي پلان)

٣. دلنډې زمانې پلان (ساعتوار تدريسي پلان)

کلنی تدريسي پلان : په دې پلان کې د ټول تعليمي کال د تدريسي مضامينو اندازه او مهال ويش ټاکل کيږ ي .

مياشتنی او هفته وار پلان : په دې پلان کې د مياشتې او هفتې تدريسي برخې ټاکل کيږي .

ساعتوار تدريسي- پلان : په دې پلان کې د استاذ ورځنی او د درسي ساعت فعاليت تنظيميږی .

مونږ دلته غواړو دغه دوه پلانونه (کلنی او ساعتوار) تشريح کړو البته مياشتنی او هفته وار تدريسي پلان په هغو باندې دکلني پلان په ترڅ کې پوهيدلای شو .

کلنی تدريسي- پلان : دغه پلان بايد په لاندې توګه ترتيب شي :

١. استاذ به د ټول تعليمي کال درسي او رسمي ورځې ، هفتې او مياشتې معلومې کړي .

٢. عمومي رخصتي ، د جمعې مبارکې ورځې ، د امتحانونو موده او د استاذ د قانوني رخصتۍ ورځې به ترې اوباسي .

٣. د هر هغه مضمون چې په مهال ويش کې ورکړل شوی دی ددې مضمون درسي ساعتونه به معلوم کړي چې په ټول تعليمي کال کې څو درسي ساعتونه لري؟

۴. ددې مضمون تدريسي برخه به د صفحو له مخې معلومه کړي چې څومره صفحې دي .

۵. نو د دې مضمون تدريسي- صفحې به په رسمي ورځو او يا درسي ساعتونو وويشي تر څو معلومه شي چې په يوه درسي ساعت کې څومره بايد تدريس شي؟

د کلني تدریسي پلان نمونه دې په لاندې ډول ترتیب شي

۱	۲	۳	۴	۵	٦	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳
میاشتې	دمیاشتې ورځې	عمومي رخصتي	دجمعې ورځې	دامتحاناتو ورځې	د استاذ قانوني رخصتي	د درس ورځې	درسي هفتې	درجې یا صنفونه	مضمون یا کتاب	د مضمون یا کتاب ټولې صفحې	د تعلیمي کال تعلیمي ساعتونه	د یوې ورځې درس
شوال المکرم												
ذوالقعده												
ذوالحجه												
محرم الحرام												
صفرالمظفر												
ربیع الاول												
ربیع الثانی												
جمادی الاولی												
جمادی الثانیه												

وضاحت :

۱. کومې تعلیمي اداري چې په کومو سیموکې په لمریز کال شروع کیږي نو به د میاشتې په خانه کې د لمریز کال میاشتې ولیکي ، د وري (حمل) څخه تر لیندۍ (قوس) پورې.

۲. که تعلیمي اداره د دیني علومو وي نو به په (۹) خانه کې درجه او که د عصري علومو وي نو به ټولګی ولیکي .

۳. که چیرې دکوم مضمون صفحې په درسي ورځو زیاتې وي نو به صفحې په ورځو وویشي او که چیرې درسي ورځې د مضمون پر صفحو زیاتې وي نو به ورځې په صفحو وویشي.

یادونه : البته دځینو مضامینو کیفیت (سخت والي او اسانوالي)ته په کتو سره استاذ کولای شي مشکلو درسونو ته زیات وخت ورکړي.

ساعتوار پلان :

دغه پلان دیوه استاذ د ورځني درسي ساعت فعالیت تنظمیوي ترڅو استاذ وکولای شي د خپل دغه فرصت (درسي ساعت) څخه ډیره استفاده وکړي او وخت ضائع نه شي ځکه چې درسي ساعت ډیر لږ وخت وي ، متأسفانه ځینې استاذان یې په مقدماتي خبرو او یا نورو خارجي خبرو چې د موضوع سره هیڅ تړاو نه لري مصرفوي او اصلي موضوع ته ډیر لږ وخت پاته کیږي او د بل مضمون وخت پرې را رسیږي چې په دې صورت کې شاگرد پوره استفاده نشي. کولای چې دا کار د شاگردانو استعداد او ودې ته ډیر تاوان رسوي او هم ټول درسي نظام گډوډ کوي نو ځکه داسې یوه پلان ته ضرورت دی چې مخکې باید له استاذ سره موجود وي او د هغه له مخې خپل فعالیت سر ته ورسوي او یوه شېبه یې هم ضائع نشي. نو استاذان به خپل درسي ساعت په لاندې توگه د پلان له مخې تنظیم کړي:

۱. لومړۍ مرحله (مقدمه)
۲. دوهمه مرحله (د درس جریان)
۳. درېیمه مرحله (د درس ارزونه)

تشریح : لومړۍ مرحله (مقدمه) په دې مرحله کې به لاندنی فعالیت سرته رسوي!

- ✓ درسگاه یا ټولگي ته له ننوتلو سره سم به په مسنونه طریقه سلام اچوي (السلام علیکم) به وایي.
- ✓ په لنډه توگه به د شاگردانو د حال پوښتنه کوي تر څو دمحبت فضاء را منځ ته شي.
- ✓ په ورین تندي (بشاش) حالت به له شاگردانو سره مخامخ کیږي تر څو د اطمئنان فضاء را منځ ته شي .
- ✓ درسگاه او ټولگی به تنظیموي .
- ✓ د شاگردانو نظافت به گوري .
- ✓ د شاگردانو حاضري به اخلي .
- ✓ کورني کارونه به یې گوري .
- ✓ د تیر درس ارزونه به په لنډ ډول کوي .

دوهمه مرحله درسي جریان :

په دې مرحله کې به لاندني اجراءات سرته رسوي:

- ➢ د نوي درس لپاره به ذهن جوړونه کوي ، په دې اړه به دا ټکي په نظر کې لري :
  - ✓ تشویقي خبرې به کوي .
  - ✓ شاگردان به بیدار او ویښ ساتي .
  - ✓ د تعلیم لپاره به تشویقي وسائل وړاندې کوي .
  - ✓ د شاگردانو د خواوشا محیط مثالونه به ورته راوړي .
- ➢ د نوي درس سره به شاگردان اشنا کوي .
- ➢ د نوي درس هدفونه او موخې به ورته په گوته کوي .
- ➢ د درس تشریح به په ساده الفاظو سره ورته کوي .
- ➢ د درس موضوع ته به د شاگردانو له ورځني ژوند سره ارتباط ورکوي .

دریمه مرحله د درس ارزونه:

په دې مرحله کې به لاندې ټکي په نظر کې لري :

- ❖ د نوي درس ارزونه به کوي .
- ❖ د نوي درس اساسي او مهمې نکتې به په لنډ ډول خیږي .
- ❖ شاگردانو ته به کورنۍ دنده سپاري.

د ساعتوار درسي پلان نمونه

مدرسه ( ) درجه یا ټولګی ( ) مضمون یا کتاب ( )

نېټه: / / موضوع ( ) د درس اهداف او موخې : ....

وخت	فعالیت	د فعالیت د تطبیق څرنګوالی	تعلیمي کومک ورکوونکي وسائل
لومړۍ مرحله (مقدمه) ( ) دقیقې			
دوهمه مرحله (د درس جریان)( ) دقیقې			
دریمه مرحله (ددرس ارزونه)( ) دقیقې			

وضاحت :

۱ - د فعالیت په خانه کې به دلومړۍ مرحلې فعالیتونه او هم ددوهمې او دریمې مرحلې مخکې ذکر شوي فعالیتونه ولیکي .

۲- د فعالیت د څرنګوالي په خانه کې به د هرې مرحلې فعالیتونه چې په کوم ډول یې تطبیق کړي دي تفصیل به یې ولیکي .

۳ - د تعلیمي وسائلو په خانه کې به هغه وسائل چې په دې دریو مرحلو کې کار ورڅخه اخیستل شوی لکه کتاب ، تروه تخته ، د ځمکې کُره او نورهندسي وسائل مثلاً.... ولیکل شي.

د تدریسي پلان ګټې :

لکه چې مخکې مو وویل چې تدریسي پلان هغه طرحې او نقشې ته ویل کیږي چې د هغې په مرسته یو استاذ د خپل تدریسي فعالیت لپاره تصمیم نیسي نو دپلان درلودل او د پلان لمخې کار کول ډیرې ګټې لري چې ځینو ته یې په لاندې توګه اشاره کوو :

۱ - پلان د استاذ د افکارو په تنظیم کې مرسته کوي .

۲ - پلان د استاذ لپاره درسي مرجع ده که چېرې یې له درس څخه یو شی هیر شي پلان ته مراجعه کوي.

۳ - پلان د وخت د ضائع کېدو مخه نیسي .

٤ - پلان استاذ ته په ځان باور او اعتماد پیداکوي .

٥ - پلان شاګردان د سبق اهمیت ته راجلبوي ځکه پوهیږي چې استاذ ددوی لپاره پلان جوړ کړی اومهم یې بولي.

٦ - پلان د استاذ تشویش او اضطراب له منځه وړي او د یوه ځانګړي مطلب په لور یې بیایي .

۷ - پلان د درسونو په منځ کې ارتباط راولي او هم د موادو رابطه د درس سره پیداکوي اوپه نتیجه کې استاذ له موضوع څخه بهر نه وزي .

۸ - پلان استاذ ته دا فرصت چمتوکوي تر څو ګټور میتودونه اوطربقې انتخاب کړي ، د شاګردانوپه پرمختګ او د درس څخه په لاس ته راغلو نتیجو باندې پوه شي .

۹- پلان دسوالونودتیارولولپاره سرچینه اودتحرک مرکز دی

۱۰ - پلان استاذ ته فرصت ورکوي تر څو ټول درس خلاصه کړي .

۱۱ - پلان استاذ ته ډاډ اواطمئنان ورکوي چې صنفي فعالیت یې په ښه ډول سرته رسولی دی اوتشویش یې رفع کوي.

۱۲ - پلان استاذ ته ډاډ ورکوي چې شاګردان یې په درس پوه شوي دي .

نور بیا ان شاء الله

ګلورینې پاڼې

مولوي حيدري جان

عمري عملیات

د عمر په مبارک نوم چې نامدار دي
فتوحات مو لکه سپین ستوري بېشمار دي

چې شبه په شبه اورم زیري زیري
له خوښۍ مې اوښکې مخ باندې کتار دي

طالب جانه ستا د متو برکت دی
مظلومان په ناز روان، دا چې پر لار دي

عاجزی ته دې سرخم ډېر مغروران شول
روغ به نه شي چې وهلی دې ازار دي

ته هیڅ نه یې دا هر څه رب متعال کړي
په ګذار کې دې الله ایښي اثار دي

چې په خدای باندې شي ګران (حیدري جانه)
بس تابع ورته دا غرونه او اشجار دي

عملیات

خالقیار

بیا یې نوم را ژوندی شوی بریالي دي عملیات
پیل شوي په هیواد کې عمري دي عملیات

د پامیر په سر دروکې د سپین غر په لوړه څوکه
بیا تکبیر، تکبیر غزاوې دغازي دي عملیات

په افق کې زیري شوي چې رڼاوې به خپرې شي
ستوري هم لاس په نامه په هرکلي دي عملیات

د بریاوو خوښۍ اوښکې د ملت سترګو کې رغړي
د غلیم سترګو ته شپه، قاتل اغزي دي عملیات

دیرموک د فتحې یاد ده د عمر د توري شرنګ ده
د ابدال د تاریخ ننګ ده افغاني دي عملیات

یرغلګر چم ته راغلي هیوادوالو ورته ویښ شوي
پیل شوي په هیواد انقلابي دي عملیات

خالقیاره قلم واخله د توپک سره په څنګ کې
په سنګر کې پیل شوي ګرندي دي عملیات

نصير

د ننګونو پګړۍ

زما د کلتور دعزتونو پګړۍ
زما د پت او د ننګونو پګړۍ

لکه شمشاد به دي لوړ شان وي مدام
ښکته به نه شي د سرونو پګړۍ

راته ميراث د خوږ نبي يې پاتې
د پاک نبي د ميراثونو پګړۍ

هسکه شمله به دي ساتم په مينه
زما د هيلو اميدونو پګړۍ

کفري نړۍ باندې دي رعب خور دی
اې د هيبت او دهشتونو پګړۍ

هر مجاهد سر نه ترلی يې ته
قربان دي شم د سنګرونو پګړۍ

په درست جهان باندې دي نوم يادېږي
زما د پلرونو او نيکونو پګړۍ

ستا کارنامو نه کتابونه ډک دي
د انقلاب د تاريخونو پګړۍ

درته جهان نن سلامونه کوي
د احترام او عظمتونو پګړۍ

نصير اشنا به دي ستايم به جرأت
ښايسته غزل او په شعرونو پګړۍ

عمري ځواکونه

نظام کندهاري

د ايثار کرم ميدان ته بيا قهري ځواکونه راغلل
د الحاد تغر تولېږي عمري ځواکونه راغلل

په حرم د آريانا کې ابرهه تم کېدای نشي
په هوا د ابابيلو خطري ځواکونه راغلل

دلته سپين د استشهاد لښکر تيار شو قرباني ته
پاس ملَکو تشکيل جوړ کړ د بَري ځواکونه راغلل

د آرام خوب به حرام کړي دا د وخت پر تېپوسانو
سردرو ته د بازانو ډېر کاري ځواکونه راغلل

کران هيواد به له مفسدو عناصرو تصفيه شي
د ايمان په نور روښانه باوري ځواکونه راغلل

د وحشت تيارې ختمېږي بيا به سپين سباون راشي
بيا و دنګو دنګو غرونو ته بدري ځواکونه راغلل

مراوي هيلي به دي ګل شي مبارک دي شه نظامه
د عمَر پر پله قدم ږدي منصوري ځواکونه راغلل

بشیراحمد (ریان) مظلوم شهید شو.. مونږ یې په اړه څه باید وکړو؟!

لیکوال او شنانډ
عبدالرحیم(ثاقب)

ټول هیواد وال په تیره هغوی چې له لیک لوست سره اشنایي لري په دې خبر دي چې د کندهار پوهنتون محصل، لیکوال او رسنیز همکار بشیر احمد (ریان) د کندهار ولایت امنیتي چارواکو بغیر له کوم هیڅ جرمه په بیرحمانه ډول په شهادت ورساوه.

دا زمونږ د ټولنې او ولس بدمرغي ده چې پوه کسان په ډیر تکلیف راپکې پیداکیږي ، خو چې کوم یو پیداشي هغه بیا د جاهلو او بیسواده ټوپکوالو لخوا داسې په بیرحمی وژل کیږي.

زه په دې باوري یم چې که د بشیر احمد ریان غوندي پوه او با استعداده محصل چې په ۲۲ کلنی کې یې ۱۸ کتابونه لیکلي د نړی په کوم بل هیواد کې وای یقینا چې د خپلې وړتیا اوعلمي کارنامو له وجې به مسؤلو چاواکو په ځانگړو انعامونو او امتیازاتو نازولای وای ، خو زمونږ په هیواد کې هغه د تقدیروني او نازولو په ځای په بیرحمانه ډول شهید او له خدای ورکړي ژونده محروم شو..حسبنااللّٰه ونعم الوکیل...

چا چې محصل بشیراحمد وژلی له هغوی گیله نشته ؛ ځکه هغوی اصلا له علم او پوهې سره علاقه نه لري، هغوي د جهالت د خفاشانو په څیرد علم په ډیوه سترگې بریښي ، هغوی خپله بقاء او پایښت د بي علمي او جاهلیت په تروږمیو کېویني ، د هغوی چې څومره نورهم وس کار کوي د علم روڼاگانې به خاموشه کوي او د پوهې په خلاف به خپله مبارزه جاري ساتي.

هغوی اصلا د دې لپاره پر افغان ولس تپل شوي چې دلته د علمیت او پوهنې مخنیوی وکړي . هغوی دي کارته هم د خپل جاهلانه خصلت له مخې ملاتړلي او هم د خارجي بادارانو لخوا د اجرتي قاتلینو په حیث په دې مامور کړای شوي چې باید په افغانانو کې د اسلامي علم او بصیرت په رڼا منور کدرونه پرې نښودل شي او تر سررا پورته کولو وړاندې یې باید سرونه قلم کړای شي.

زه وایم چې د دغو اجرتي جاهلانو د جاهلانه کړنو په خلاف باید د ټولنې عالم او پوه کدرونه احساس د مسؤلیت اود هغوي د علم او عالم وژنې په خلاف اقدام وکړي.

هو! باید هغه څوک چې د خپل ملي احساس له مخې یې پردې ولس خوا بدیږي او د هیواد پالنې روحیه ورسره ده ، په دقیق ډول هغه کسان چې په شعوري ډول د هیواد له علمي پرمختگ سره مینه لري.

په خاص ډول پوهنتوني استادان ، محصلین دمکاتبو ، مدارسو متعلمین، دهیواد لوستی قشر، لیکوالان، ژورنالیستان او دمدني ټولنو بااحساسه فعالین...

هغوی چې له بشیر احمد ریان سره ملي اسلامي اومسلکي تړاو او خواخوږي لري...

هغوی ټول باید د بشیر احمد ریان د مظلومیت او د هغه لپاره د عدالت غوښتلو غږ پورته کړي.

هغوی باید د کندهارله پوهنتونه نیولې د هیواد په ټولو پوهنتونونوا، د لوړو زده کړو په مؤسساتو، د ژورنالیستانو او لیکوالانو په اتحادیو کې د منظمو عدالت خواهانه تجمعاتو، لاریونونو او غونډو په تر سره کولو سره له چارواکو څخه فقط دا وپوښتي چې بشیر احمد په کوم جرم ووژل شو؟

هغوی باید د خپلو علمي او مسلکي غونډو او لاریونونو په جوړولو سره د هیواد له لوړ پوړو چارواکو، عدلي او قضایي مسؤلینو د بشري حقونو له کمیسیون په مرکز کابل او د هیواد په ولایتونو کې د یوناما له دفتر څخه په کلکه وغواړي چې د بشیر احمد قاتلان د محاکمې میز ته راکش کړي تر څو مو د هیوادپه پوهنتونونو او نورو علمي مراکزو کې نور دغسې تاند او پیاوړي استعدادونو د جاهلو ټوپکوالو له لاسه ضائع نه شي.

دا زمونږ مسؤلیت او پر مونږ باندې د شهید بشیراحمد د مظلومو وینو پور دی.

باید مونږ ټول په گډه د دې ملي او اخلاقي دَین (پور) د پوره کولو لپاره خپل مسؤلیت تر سره کړو.

له دې خبرو څخه زما هدف تشه اخلالگری او گډوډی نه ده او نه مې دا زړه ته لویږي چې جاهل چارواکي به زمونږ په دې غوښتنو او هلو ځلو سره د بشیر احمد د وینو پوښتنه وکړي.

اصلا زما هدف دا دی چې مونږ وکړای شو چې په دې کار سره د هغوی د نورو وحشتونو مخنیوی وکړو.

مونږ باید هغوی ته دا ور وپوهو چې بشیراحمد د خپلې پوهې او استعداد قرباني شوی ، هغه په ناروا وژل شوی ، هغه مظلوم شهید او مونږ ټول د هغه له داعیې حمایت کوو، د هغه علمي کړنې ستایو او د هغه علمي لاره به د خپلو عالمانه فعالیتونو په دوام جاري ساتو.



لومړۍ برخه
مفتي حبيب الله قاسمي
ددیني علومو مدرس اوڅېړونکی

په افغانستان کې

د «وريښمن د سمال غورځنګ» مشهورڅېرې

پېليزه :

دشلمې ميلادي پيړۍ په پيل : ۱۹۰۱چې امير حبيب الله خان تـه لـه خپـل پـلار امـير عبـدالرحمن څخـه آرام حکومت پاتې شو، انګريـزان دوهـم يرغـل وروسـته لـه هېواد تللي وو ، خـو لاهـم دهنـد خـاوره ددوی تريرغـل لاندې وه ، د هند دنـامتو عـالم شـيخ الهنـد اود ديوبنـد مدرسې شيخ الحـديث مولانـا محمودالحسـن ديوبنـدي رحمه الله غوښتل چې انګريزانو په وړاندې د افغانستان د حکومت اوو لس په مرسته پاڅون وکړي اوخپل هېواد له انګريز ښکېيلاک څخه خلاص کړي .

شيخ الهند د همدې موخې له پاره خپل درې ځـيرک شاګردان افغانستان ته راواستاول چې دهغوی نومونـه په لاندې ډول وو:

لومړی: مولانا عبيدالله سندهي رحمه الله.

دوهم: مولانا (محمدميان)منصور انصـاري رحمـه الله.

دريېم: مولوي سيف الرحمن رحمه الله.

غواړم په دې ليکنه کې دهمدې غورځنګ دپېژنـدنې او موخو پـه اړه درسره وغږيـږم او بيـا دهمـدې دريـو علماوو پېژندنه هم وکړم ، چې زموږ پـه هېـواد کـې يـې دهمدې غورځنګ ديوه ستر اسلامي هدف له پاره دزيـاتو هلو ځلوترڅنګ زموږ د هېـواد پـه خپلـواکې او علمـي پرمختګ کې هم زياته ونډه لرله چـې وروسـته بـه پـرې وغږېږو :

[۱] د ((وريښمن دسمال غورځنګ)) پيلامه؟

د ۱۱۰۷هــ کال[چـې : ۱۷۵۶م کـال سره برابـردی] کې دمغول امپراطورۍ په مرکز ډهلي کې يوه اصلاحي او فکري غورځنګ دامام شاه ولي الله رحمه الله په هڅو پيل شو کوم چې وروسته دنوموړي اولادې دزياتو خواريـو په ګاللو وپاله هم يې په خپلـو وينـو خـړوب کـړ ، ددې غورځنګ ستره موخه داوه چې دمسلمانانو په ټولنه کـې سمون (اصلاحات) راشي اوداسلامي نظام دبقا له پـاره دجهاد لار وپالي ۱.

څرنګه چې لـه دی وروسـته انګريـزي امپراطـورۍ ډهلي ښار دخپـل والي لاردليـک (Lord Lalak) پـه لاس پرکال (۱۸۰۳م) کې ونبواوپه پنجاب کـې سـکهانو خپـل واک ساتلی و له همدې امله دامام شاه ولي الله لمسی امام

---

۱ استاد حبيبي جنبش مشروطيت مخ ۱۱۹او ۱۲۰مخونه. دايران چاپ

اسماعیل شهید او مولوي سیداحمدشهید د مجاهدینو له یوه ستر کاروان سره دسندهـ اوکندهار له لارې کابل اوبیا پېښور ته ولاړل غوښتل یې چې له سکهانو سره جهاد وکړي ، دوی له سکهانو پېښور هم ونیو او د بارکزي واکمنو (دامیر دوست محمد خان وروڼو) په ملاتړ او بډاییني د اوسني خیبر پښتون خوا په چارسده کې خپل شرعي حکومت د ۱۲۴۲هـ کال دجمادی الاخر ۱۲مه چې د ۱۸۲۷م کال دجون لسمه سره یې سمون خوري اعلان کړ .

دغه دواړه مشران داوسني مانسهرې په ((بالاکوټ)) سیمه کې له سکهانو سره په یوه غزا کې، د ۱۲۴۱هـ دجمادی الاخر په اومه چې د ۱۸۲۶م دجنوري اولسمه نېټه وه چې دوی له ډهلی څخه راو راون شوي وو او بیا دوی د ۱۲۴۶هـ دذي القعده په ۲۴مه نېټه چې د ۱۸۳۱م کال د می په شپږمه نېټه په شهادت ورسیدل چې ورسره دوی دغه پنځه کلن غورځنګ هم خاموش شو ۲. اوپاتې خلک یې غرونوته وختل اودهغه مهال دسکهانو واکمن رنجیت سنګهـ زیات خوښ شو اوهغه مهال ورته انکریزي امپراطوري دهمدې بریا مبارکي ورکړه ۳.

[۲] د ((وریښمن دسمال غورځنګ))

دغه مهال هند نامتو عالم د ((دارالعلوم دیوبند)) شیخ الحدیث و مولانا محمودالحسن دیوبندي (مړ : ۱۳۲۹هـ ۱۹۲۰هـ) رحمه الله چې په شیخ الهند یې شهرت وموند غوښتل له انګریزانو خپل هېواد ازاد کړي په همدې موخه نوموړي په ډېر پټه دازادۍ نوی غورځنګ پیل کړ چې وروسته د ((وریښمن دسمال غورځنګ)) اویاهم (تحریک ریشمي رومال) په نامه مشهور شو، دهمدې غورځنګ دبریا له پاره له ځان سره یې لاندې ملګري د حج په نامه حجاز ته روان کړل :

۱ــ مولانا منصور انصاري .

۲ــ مولانا عزیر ګل

۳ــ مرتضي حسن

۴ــ مطلوب الرحمن جاجي جان محمد

۵ــ سیدهادي حسن

دوی هلته دترکانو دعثماني خلافت د والي غالب پاچا او دحرب وزیر انور پاچا سره اوپه شام کې دترکانو والي جمال پاچا سره ولیدل اوپه پایله کې د غالب پاچا په لاسلیک په عربي ترکي اوفارسي ژبو د انګریزي ښکیلاک په وړاندې دجهاد فتوا خپره شوه ٤چې یوشمېر نسخې یې د شیخ الهند نږدې شاګرد مولانا منصور انصاري رحمه الله لومړی هند ته د ۱۹۱٦کال اپریل میاشت کې راوړې او اودهمدې کال دجون میاشت کې یې افغانستان ته هم راوړې ٥.

[۳] د شیخ الهند دخپلوالي غورځنګ ولې د((وریښمن دسمال غورځنګ)) په نامه یادیږي ؟

سندهي صاحب له کابله یولیک د خپل درانه استاد شیخ الهند په نامه په وریښمن دسمال لیکلی و ٦ چې حجاز ته ورسیږي دغه لیک دنوي مسلمان شوي ځوان شیخ عبدالحق په لاس یې شیخ عبدالرحیم ته استولی و

---

۲ ددوی دغه پنځه کلن سفر داستان اوکېسه مولانا ابوالحسن ندوی رحمه الله په خپل عربي کتاب : ((اذاهبت ریح الایمان)) کې په ډېر ادبي انداز په عربي ژبه لیکلی دی . چې لوستل یې ښېل خوند لري .

۳ وګورئ : ((اذ اهبت ریح الایمان)) ١٦٥مخ .

٤ ملي مبارزي : ۳۴مخ .

٥ جنبش مشروطیت : ۱۳۲مخ .

٦ په دې لیک په افغانستان کې ددوی دهڅو اوموقت حکومت په اړه معلومات لیکل شوي و . تحریک ریشمي رومال . ۱۲۱مخ

چې هغه یې حجاز ته شیخ الهند ته ورسوي هغه لیکونه له دوی سره یوملګري چې ((الله نواز)) نومېده اوتـردې دمخه په ملتان کې دمجستریت دنده هم ترسره کوله پـه افغانستان کې یې دانګریزي امپراطوري تــه بــه دهنـدي ازادي خوښـــونکو تـول حـــالات دانګریـــزي امپراطـــوري واکمنو ته رسول ۷ همدې سړی د خپل پلار خـان بهـادر نوزا له لارې دغه لیک دپنجاب والي ((مایکل اوډیر)) تــه ورسید چې ورسره د همــدې غورځنــګ راز ښــکاره شــو اوبیا د شیخ الهند اوغورځنګ دملګرو دنیولو کلـه پلټنـه انګریزانو پیل کړه۸ انګریزانو په ســپینه ګـیره د همـدې غورځنګ دبنسټ اومشري له امله لـه خپلـه دوه نــامتو شاګردانو هریـو مولانــا حســین احمـد مـدني رحمـه الله اومولانا عزیزګل رحمه الله سره یوځای په مکــه مکرمـه کې له نیولو وروسته لومړی مصر اوبیا له هغــه ځایــه د تورو اوبو ((مالټا))جزیرې واستول شو.

او لــه ((۱۹۱۷م)) څخـه یــې تــر((۱۹۲۰))پـورې دجون ترمیاشتې پورې هلته بانـدې وپـه دوی دوی څـه دپاسه دری کاله زنـدان شـپې ورځــې د اســلام لــه پـاره وګاللې۹.

[۴] پـه افغانســتان کــې د ((وړېښــمن دســمال غورځنګ)) غړي ؟ ۱۰

شیخ الهند رحمه الله دافغانستان خاوره دجهـاد لـه پاره خوندي سنګر ګانه ۱۱ ځکه دلتـه خپلـواکي هـم وه اودغــه راز داســې خلـک مونـدل کیـدل چــې د دوی لــه غورځنګ سره یې خواخوږي لرله چې په هغو کې یو هـم ملا عبدالرزاق اندړ رحمــه الله و . چــې پــه هنـد کــې یــې درسونه لوستلي و او لکه چې مرحوم سندهي صاحب په خپل سفرنامه کې کاږي چې : زه کله له مـلا عبـدالرزاق سره مخ شوم اویقین یې راغی چې عبیـدالله یــم نوهغـه راته بشــپړ راز ووایـه اوزه حـیران شـوم چــې نومـوړي څرنګه له دې کاره خـبر شـوی دی .۱۲ دشـیخ الهنـد رحمــه الله دارمانونوبشـپړولو لــه پـاره مولانــا عبیـدالله سندهي رحمه الله کابل ته راغـی ، چــې وروســته لانـدې عالمان هم کابل ته راغلل:

۱ــ مولانامنصور انصاري رحمــه الله. اســتادحبیبي دنوموړي په اړه لیکي : دغه باعمله عالم د ۱۳۰۱هــ کــې دهنـد پــه ســهارنپور کــې زیږیـدلی و ، اود ۱۳۲۴ل کـال ددلوې په میاشت کــې د ۶۲کلونــو پــه عمــر وفــات او د لغمان په مهترلام کې خاروو ته وسپار ل شو . ۱۳

---

۷ حبیبي صاحب لیکي : د جنبش مشروطیت ۱۲۲مخ په لمن کې کــاږي : دغه شکمن سړی په اماني دوره کې هم و او له معارف څخه وېستل شو اوبیا د محمدهاشم خان په کابینـه کـې وزارت اوسـفارت تـه هـم ورسیده ، دغه سړی په دوهم نړی وال جنګ د افغانستان دلوی سـفیر په توګه په برلین کې دهتلر ترڅنـګ ناست و ، او د ژونـد ترپایـه پـه کابل کې پاتې شو اوهمدلته په کابل دوړې (سنبله)۱۲مه نېټـه کـال ۱۲۴۵ل کې ومړ .

۸ وګورى تحریک ریشمي رومال : ۱۲۱مخ.

۹ ددې غورځنګ په اړه معلومات له لاندې کتابونو واخېستل شول : جنبش مشروطیت داستاد حبیبي لیکنه . مخونه : ۱۲۰نه تر ۱۲۳ .

تحریـک ریشـمي رومـال دمولانـا سـید محمـدمیان لیکنـه دکتـاب ببلاببلې برخې.

علماء حق دمولانا سید محمد میان لیکنه ۲۹۸مخ .

د مشروطیت غورځنګ داستاد بینوا لیکنه .

۱۰ تحریـک ریشـمي رومـال مولانـا سـید محمـدمیان صـیب مرحـوم لیکنه.

۱۱ ملي مبارزي : ۳۴مخ .

۱۲ خودنوشت حالات : مـخ د مجاهـدین حـق مبارزې دمولانـا میـان صاحب لیکنه مخ .

۱۳ حنبش مشروطیت : ۱۲۲مخ د ایران چاپ .

۲ــ مولانا سيف الرحمن رحمه الله

۳ــ مولانا فضل ربي

۴ــ مولانا محمداكبر

۵ــ دبابړي ملاصاحب مولانا تاج محمد

۶ــ سنډوكي بابا اوداسې نور ۱۴

[۵]مولوي عبيدالله سندهي دوريښمن غورځنګ مخکښه څېره

مولانا عبيدالله سندهي رحمه الله د وريښمين دسمال مخكښ غړی و ده په همدې لاره دخپل نږدې پنځه ويشت كاله سفرونه وكړل اوسختۍ يې وګاللې او اوه (۷)كاله په كابل كې هم تېر كړل . ۱۵

مولانا عبيدالله سندهي رحمه الله پركال ۱۲۸۹هــ داوسني پاكستان د سيالګوت په سيمه كې د سيكانو په يوه كورنۍ كې زيږيدلی و، اوالله پاک ورته دخير اراده وكړه اوپركال ۱۳۰۴((سندهــ)) ته ولاړ او هلته يې د نامتو پير شيخ محمدصديق سندي رحمه الله په لاس ايمان راووړ ، دلته يې د ملايي ځينی كتابونه تركافيي پورې ولوستل اوبيا ملتان ته ولاړ او له هغه ځايه ((ديوبند)) ته ولاړ هلته يې څه كتابونه ولوستل ،

له هغه ځايه دهند كانپور ته ولاړ اوهلته له مولانا احمد حسن كانپوري څخه يې زده كړې وكړې اوبيا بيرته ديوبند ته راغی اوله شيخ الهند څخه يې دحديثودرسونه ولوستل اودغه راز مولانا رشيد احمد ګنګوهي څخه هم دحديثو كتابونه ولوستل اوبيايي ډير موده په سندهــ كې درس وكړ.

[۶]د مولوي عبيدالله سندهي لومړنۍ سياسي هڅې؟ ۱۶

سندهي صاحب ډير متحرک اوخواري كښ انسان و هغه وچې بېرته ديوبند ته راغی ۱۷ او دانګريزنو پرخلاف يې د سياسي هڅو په موخه يو ټولنه د ((جمعية موتمر الانصار)) په نامه جوړ كړه خوله بدمرغه دغه مهال نوموړي ځيني داسې ځانګړي نظريات څپاره كړل چې د مدرسې ځينو استادانو له خوا پرې نيوكه وشوې او مخالفت يې ورسره وښود.

هغه و چې ډهلي ته ولاړ ۱۸اود ((فتح پور)) جوماټ ترڅنګ بله همداسې ټولنه يې د ((نظارة المعارف)) په نامه جوړه كړ ه په دې موده كې نوموړي د عصري علومو شاګردانوته دديني علومو دوه كلن كورس هم پيل كړ چې هغوی ته به يې د قرانكريم ترجمه او دامام شاه ولي الله رحمه الله كتاب حجة الله البالغه اودحديثو ځيني كتابونه درس كول اوډير موده دلته پاتې شو .

[۷]كابل ته دمولوي عبيدالله سندهي راتګ :

---

۱۴ ملي مبارزي : ۳۴مخ .

۱۵ نزهة الخواطر (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام) دمولانا عبدالحی الحسني ليكنه ، درېيم ټوک مخونه : ۱۳۰۰ ، ۱۳۰۱ . دغه راز نوموړي خپل سوانح په خپل قلم كې هم ليكلي چې مولانا سيد محمدميان صيب مرحوم په خپل كتاب علماء حق كې خوندي كړي دي وګورئ :

۱۶ نزهة الخواطر (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام) دمولانا عبدالحی الحسني ليكنه ، درېيم ټوک مخونه : ۱۳۰۰ ، ۱۳۰۱ . دغه راز نوموړي خپل سوانح په مكه مكرمه كې په صولتيه كې ليكلي دي چې لنډيز يې مولانا سيد محمدميان صيب مرحوم په خپل كتاب علماء حق كې له :۲۸۷نه تر ۳۱۹ مخونو پورې خوندي كړي .

۱۷ سندهي صاحب په خپلو يادانښتونو كې ليكلي : زه دشيخ الهند په غوښتنه ديوبند ته ولاړم وګورئ : علماء كې مجاهدانه كارنامې : ۲۹۳ مخ

۱۸ سندهي صاحب وايي چې زه دشيخ الهند په لارښوونه ډهلي ته ولاړم .

مولانان عبیدالله سندهي رحمه الله نوموړي دخپل درانه استاد شیخ الهند په لارښوونه دکویټې نه د شوراوک اوکندهار له لارې پرکال ۱۹۱۵هـ کې داکتوبر میاشت کې ، چې د د ۱۳۳۳هـ کال دذي الحجې میاشت و کابل ته راغی ۱۹، ده له ځان سره دجهاد اودغه راز په هند کې د انګریزانو پرخلاف د پاڅون اومرستې پیغام افغان واکمنو ته راوړی و ، چې هغوی وهڅوي له دوی سره دهند په ازادي کې اوانګریزانو په اېستنه کې ورسره مرسته وکړي . ده له امیر حبیب الله خان اودهغه له مرستیالانو هریو سردار عنایت الله خان اوسردار نورالله خان اودغه راز ملا عبدالرازق اندړ مړ په مرسته یې دهند دازادي غوښتونکو له پار ه یې په کابل کې مرکز جوړ کړ.

دغه راز دوی دنورو هندي مشرانو سره چې دهند دزادي له پاره هڅې کولې موقت جکومت د راجه مهندر پرتاب ترمشري لاندې جوړ کړ اومولوي عبیدالله سندهدي دهمدې حکومت داخله وزیر نومولی شوی و او د ((جنودالله)) په نامه د رضا کارونو دیوې ډلې جوړلو له پاره هم هڅې وکړې .

امیر حبیب الله خان سره دوی ژمنه کړې وه چې زموږ هڅې بریالی شولې اوموږ دهند مرکز ونیو نوموړ ستاپه زامنو کې یوه ته دهند واکمني سپارو ، وروسته افغان جکومت (کیدای شي داکار یې دانګریزانو په اشاره کړی وي) د نوموړي پرهڅو بندیزونه ولګول اونوموړي په کابل کې په خپل هستوګن ځای کې نظر بند کړ، په دې موده کې به نوموړي خپلو ټولو هندي ملګرو چې له هند څخه دهمدې موخې له پاره رامهاجر شوي هم وو

۱۹ دلارې دلګښت له پاره یې هغه مهال پنځه کلداري حاجي عبدالله هارون څخه پور کړی وي . وګورئ تحریک رویشمي رومال : ۱۲۰مخ .

اوزیاتره دپوهنتونو فارغان وو هغوی ته به قرانکریم درس ورکاوه.۲۰

[۸]دامیرحبیب الله خان له مرګ د مولوي عبیدالله سندهي ملګرو برخلیک :

پرکال ۱۳۳۷هـ کې چې کله امیر دلغمان په کله ګوش کې ترور شو او پرځای یې زوی غازي امان الله خان واکمن شو دهمدې کال دشعبان میاشت کې دوی له نظر بندي آزاد شول ، دغه مهال له انګریزانو ځواکونو سره دعلماوو په مرستې اوملاتړ زیاتې عزاګانې وشوې دغه مهال دمولوي صاحب عبیدالله سندهي اوملګرو کې نوی ساه اونوی ژوند اوغوړیده هغه و چې دوی هم هند ته زیات لیکونه واستاول اوپه هغه کې ولس دخپلواکي اوله انګریزانو څخه دخلاصون له پاره خلکوته دپورته اوهڅولو مضامین لیکلی و اوهغوی ته یې داډ اوزیری ورکړی چې موږ به دافغاني واکمنو په مرسته هند دانګریزانو له واکمني او اشغال څخه خلاصوو .

دغه نوموړي له ترکي واکمن جمال پاشاه سره په کابل کې هغه مهال ولیده چې نوموړي کابل پرکال ۱۳۳۹هـ کې کابل ته راغلی و اوله نوموړي څخه دهند په ازادي کې دمرستې غوښتنه وکړه ، تردې وروسته کله چې دامیر په دربار کې دانګریزانو نفوذ ورځې تربلې پیاوړي کیده اوپردوی ورځ تربلې دژوند کړۍ تنګیدله اوخپل مقصد له پاره چې راغلي هغه نه شو ترسره کیدای.

[۹] د مولوي عبیدالله دماسکو اوترکیې پرلور:

هغه چې له اوه کلن انتظار وروسته ناهیلی پرکال ۱۳۴۱دصفر میاشت کې ناهیلي ډیر تکلیف د شمال له لارې او تاشکند له لارې له خپلوملګرو سره ځان روسیې

۲۰ (الاعلام بمن تاریخ الهند من الاعلام : دربیم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

ته ورساوه. اودربيع الاول په مياشت کې روسيې امپراطورۍ پلازمينې مسکو ته ورسيدل ۲۱.

[۱۰] مولوي عبيدالله سندهي په روسيه اوترکيه کې:

دوی په ماسکو کې نهه مياشتې چې که چېرته د روسيې واکمنو پام د انګريز استعمار څخه دخلاصو له پاره راوړي اوهلته يې دخپل ملګري اوشاګرد ظفر حسن ايبک په مرسته دکمونيزم فلسفه هم ولوستله ؛ خو کله چې ناهيلی شوم نود همدې کال دذي الحجه مياشت کې ترکيې ته په دې هيله راغی چې که چېرته دهغه ځای واکمن له دوی سره دهند په ازادي کې مرسته وکړي اونژدې پنځه مياشتې په انقره کې تيرې کړې اوبيا د ۱۳۴۲کال په ربيع الاول مياشت کې استانبول ته ولاړ اودترکيې له صدراعظم عصمت پاشا سره يې وليدل له هغوی سره زياتې ناستې پاستې وکړې خوپوهه شو چې کارېې سرنه نه نيسي نوله هغه ځای له څلور کلن انتظار وروسته په بحري بيړۍ پرکال ۱۴۴۴هـ دذي القعده په مياشت کې دايتياليا له لارې مکې مکرمې ته ولاړ۲۲.

[۱۱] مولوي عبيدالله په حجاز اومکه مکرمه کې:

دنومورې بيړۍ په لاره کې وځنډيدله اودغه مهال و چې ملک عبدالعزيز يواسلامي کانفراس راغوښتی و ، اوهمدلته دحرم له خوا سره واړول او پنځلس کاله کاله په حرم کې دقرانکريم اوحديثو درس وکړ اوژوند يې په خاموشي ذکر اوفکر کې تېر کړ اوهند ته يې دراتګ له پاره زړه ښه نه کړ ۲۳.

[۱۲] دمولوي عبيدالله سندهي بيرته خپل هېواد ته ستنېدل:

نومورې له څلورويشت کلن بيلتانه وروسته پرکال ۱۹۳۴هـ دمارچ په اومه نېټه تردې چاوله ((۲۵)) کلن سفر وروسته خپل هېواد ته ستون شو اودرياب له لارې پرکال ۱۳۵۸هـ کې کراچې ته راغی اودلته يې ملګرو اوهم نظرو تود هرکلی وکړ دغه مهال يې زياتره استادان اوملګري وفات شوي وو ۲۴.

[۱۳] دمولوي عبيدالله سندهي نوي نانډريز نظريات:

زياتره وخت نابغه شخصيتونه له دې امله ملګري پيدا نه کړای شي چې داسې نظرونه وړاندې کړي چې هغه په عامه ټولنه کې دچلښت وړ نه وی اوله خپلونظرونو سره يواځې پاتې شي چې علمايې ((تفردات)) بولي .

سندهي صاحب رحمه الله دديوبند علماوو دهغو بې دريغه قربانيو له امله په زړه کې درناوی درلود چې نومورې دشيخ الهند رحمه الله له لارښوونې سم دهند دآزادي له پاره کړې وې اوکله هم چې دهندازادي له پاره دمجاهدينو نوم ياديږي نوپه لومړی سرکې يې دمولانا عبيدالله سندهي نوم ياديږي .

خو نومورې ځيني داسې شاذ اونادر نظرونه لرل چې علماوو پرې نيوکې کولې او د جمهورو علماوو له تګلاري (مسلک)سره يې اړخ نه لګاوه ۲۵ له همدې امله نومورې له امله ګوښه پآتې شو او علماوو ورسره راشه

---

۲۱ (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام : درېيم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

۲۲ (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام : درېيم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

۲۳ (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام : درېيم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

۲۴ (الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام : درېيم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

۲۵ نقوش رفتګان دمولانان تقي عثماني صاحب ليکنه ۸۹مخ .

درشه کمه کړه اوعلماوو اونومـوړي تـرمنځ لـوی واټـن راپیداکړ . ۲۶.

دغه مهال چې نوموړی گوښه پاتې شـو اود ژونـد ترپایه یې کله په سندهـ اوکله هم په ډهلي دامام شاولي الله رحمه الله کتاب حجة الله په خپل طـرز شـاگردانو تـه لوست اودغه راز به د قرانکریم ترجمه هم کوله ۲۷.

[۱۴] دمولوي عبیدالله سندهي مړینه :

نوموړي پرکال ۱۳۶۳هـ ومړ اودخپل اسـتاد اوپـیر غلام محمد خواته دبهاولپور ضلع ته نـژدې د د((رحـیم یار خان)) ضلع په ((دیـن پـور)) سـیمه کـې خاوروتـه وسپارل شو، ده نارینه اولاد یې نه درلـود دوه لـوڼې یـې چې هغه دنوموړي له لاربښوونې سره سم نیکانوخلک ته واده شوې . ۲۸.

[۱۵] دمولوي عبیدالله ځانگړنې:

که څه مولوي عبیـدالله سـندهي رحمـه الله خوبیـا دلویې ارادې څښتن و او لوی همتي انسان و ، ټول ژونـد په سفرونو او منډو اوخواریو کې تیر شو ، لـه سـتونزو اوکړاونو سره عادي و ، زیات ذهین انسان و او د علماوو په طبقاتوکې اودحـدیثو اودحـدیثو دتـدوین پـه اړه یـې ښکلی معلومات لرل او دشیخ الاسلام شـاه ولي دهلـوي پرکتابونو عاشق و او د نوموړي څېړنې او فلسفې به یـې زیاته خوښویدلې اونوموړي دقرانکریم په تفسیر کې یې هم ځانگړې لاره لرله چې پردې سـبک یـې مولانـا اشرف علي تهانوي رحمه الله نیوکـه لرلـه اوهمـدانیوکې یـې د ((التقصیر فی التفسیر)) په نامه کتاب کې راټولې کـړې ۵ .

دنوموړي دهمدې قراني اسلوب داسې شاگردان هم ټولنې ته وړاندې چې خلکوته یې زیاته گټه ورسیدله چې په هغو کې یوهم مولانا احمدعلي لاهوري رحمـه الله . ده په سیاسي ډگر کې به یې پر گاندهي زیاتې نیوکې کـولې اودنوموړي شتون یې دمسلمانانو له پـاره زیـات گـوابښ گانه ، دغه راز به یې دترکیې پـرکمال اتـاترک هـم زیـاتې نیوکې کولې ، کمونستان اومحلـدان زیـات بـد ایسـېدل ، نوموړي ډیر تیز سړی و چې کله به پـه جذبـه کـې شـو بیابه د چا پروا نه کوله اونه به یې دچـانیوکي اوملامتـې ته غوږ ایښوده.

د نوموړي که څه هم له لیکنې اوقلم سره زیات سر اوکار نه و ؛ خو بیایي هم د التمهیـد فـی ایمـه التجدیـد کتاب په عربي ژبه په مکه مکرمه کې ولیکـه اودغـه راز یې دامام شاه ولي الله رحمه الله په اړه یوکتاب لیکلی ۲۹.

---

۲۶ (الاعلام بمن تاریخ الهند مـن الاعـلام : دربـیم ټـوک: ۱۳۰۱مـخ . دنوموړي زیاتې نادرې راپورته کړي اودنوموړي په تایـد اودغـه راز غندنه کې زیات کتابونه ولیکـل شـول مولانـان محمدیوسـف بنـوري رحمه الله هم دنوموړی دنظریانو په غندنـه اودغـه راز مولانـا حسـین احمد مدني دنوموړي نظرونو په غندنه کې کتابونه اومضامین ولیکل وگـورئ : نقـوش رفتگـان : ۸۹مـخ اود گجرانولـه مولانـا صـوفي عبدالحمید مرحوم کتاب ځانگړی کتاب وگورئ .

۲۷ (الاعلام بمن تاریخ الهند من الاعلام : دربیم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

۲۸ (الاعلام بمن تاریخ الهند مـن الاعـلام : دربـیم ټـوک: ۱۳۰۱مـخ . علماء حق کې کارنامې ۳۲۴مخ .

۲۹ (الاعلام بمن تاریخ الهند من الاعلام : دربیم ټوک: ۱۳۰۱مخ .

ليکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سيد ابو الحسن علی ندوي (رحمه الله) ژ: ابوظهير

په اسلامي هيوادو کې داسلاميت اومغربيت ترمينځ کشمکش

دنامذهبيت او الحاد تبليغوونکو دوه مخې پاليسې:

فلسطين مجلې [اسرايل کې دلوړو زده کړو] سرليک لاندې يو مضمون کښلی:

هلته [اسرايل کې] د لوړو زده کړو اصلي موخه د يهودي عقيدې يادول دي، پراختيا ورکول او د خلکو په زړونو کې ورسره سره د کلکې وفادارۍ جذبه اچول دي او پردې سربيره داسرايل لپاره پرو پاګند او د نويو دوستانو او ملګرو مندلو هنرپيژندل دي

په ياد مضمون کې خورا حيرانوونکي تفصيلات او ارقام راوړل شوي دي، چې اسرايلي دولت دعبراني ژبې دويم واري ژوند، ترقی او په پوهنتونو کې د ترويجولو او تقويت لپاره بې خرته پيسې مصرفوي؟

دا دوه مخې پاليسې ښيي چې کفري مفکران دخپلو هېوادوالو او ولسونو لپاره دين پالنه او په دين باندې عمل ضروري بولي!خو دمسلمانانو او اسلامي هېوادو لپاره په دين باندې عمل کول بنسټ پالنه او دروڼ آندي ضد تعبيروي! دحيرانتيا وړداده چې د اسلامي هېوادو واکمن او د مسلمانانو مشران چې څومره په ساده توب دلادينيت او روڼ اندي پروپاګند ښکار شول په غالب ګومان دومره تمه او باوربه يهودي ، مسيحي او استشراقي مفکرانو دهغوی ژورنالستانو او ليکوالو هم نه کاوه چې د مسلمانانو واکمن او پوهان به دومره په اسانه او ژر د دوی په تلقين ايمان راوړي! او سملاسي به پخپلو پخپلو هېوادو کې دلادينيت تونددرواني داعيان کېږي د هغوی [داسلامي هېوادوله رهبرانو] څخه د اروڼ اړخ پټ پاته و،کوم چې عملي تجربو رښتينې ثابت کړ، دنړۍ په فکري او تمدني تاريخ کې درهبريت او قيادت په سويه د دومره فريب خوړلو مثال لږ مندل کېږي کوم چې په شلمه پيړۍ کې د اسلامي هېوادو رهبرانو وړاندې کړ....

په بيرته پاته اسلامي هېوادو کې شاهانه لګښتونه:

په عمومي توګه داسلامي هېوادو نو اقتصادي حالت کمزوری او متزلزل دی او دژوندانه په اړتياوو کې هغوی نورو هېوادو ته محتاج دي، پکې د ميشت عامو خلکو ژوند له اقتصادي او دژواندانه دنويو معيارونو له پلوه په ډېربيرته پاته حالت کې قرار لري په هغو هېوادو کې چې پکې دوګړو شمېر زيات دی،هلته دژوند انه شرايط تنګ او معيارېې خراب دی او اقتصادي وضعيت ګډوډ او د رکود سره مخ دی، خو بيا هم داسلامي هېوادو زياتره حکومتونه د پرمختلليو او مرافه الحال غربي نظامونو دتقليد کوښښ کوي او د همدې لپاره په هر غربي هېواد کې که ضرورت وي او که نه سفارت خاني او قونصلګرۍ پرانيزي، چې دغه سفارت خاني او قونصلګرۍ بيا هغه ټول کړه وړه او طريقې خپلوي چې غربي هېوادونه (کوم چې له ديني، اخلاقي حدودو له قيوداتو څخه يومخ ازاد دي) يې کوي داسلامي او عربي هېوادو د سفارت خانو لخوا د مختلفو مراسمو په نوم شاهانه ميلمستياوي جوړيږي چې په هغو کې په غربيانو له هغو پيسو نه چې دوی[داسلامي هېوادو

واکمنو] د خپلو خلکو څخه په مالیو کې ټولې کړې داو بو پشان بهوي، په کومو میلمستیاوو کې چې شراب بالعموم او په ځینو کې د خنزیر غوښې هم ورکول کېږي، په عمومي توګه دغه سفارت خانې داسلام د تبلیغ او د خپلو اخلاقي ارزښتونو له پالنې سره هم کوم سروکارنلري او نه هلته د میشت مسلمانانو دستونزو حلولو لپاره کار او خدمت خپل اساسي مسؤلیت ګڼي لنډه داچې ددغو سفارت خانو څخه هلته په کلتوري او علمي برخو کې هم کومه ګټه نه رسي .

دډېرو اسلامي هېوادو ولسمشر-ان (حتی هغه چې دجمهوریت او اشتراکیت اصول او دستور مني) ډېر پرتعیش او مصرفانه ژوند تیروي، لګښتونه یې دومره شاهانه دي چې آن دقیصرو کسرا او زار روس یادونه تازه کوي دهغوی دژوند او استوګنې ننداره دالف لیلی دورې یادونه ژوندي کوي، چې هیڅکله باور نه کېږي چې دا د کوم غریب او کمزوري هېواد ولسمشر، ذمه دار او داشتراکیت او د عوامیت د داعیې علمبردار دی! دلته دنمونې په ډول یواځې داشتراکي او عوامي جمهوریه اندونیزیا د پخواني ولسمشر سوئیکارنو دطرزالعمل په اړه یو تاثر وړاندي کوو:

داندونیزیا ولسمشر-سوئیکارنو په توکیو کې دخپلې استوګنې پرمهال هره ورځ پنځه زره پونډه مصرفول ، هغه سره ٦ لوړرتبه مامورین هم وو، په کوم هوټل کې چې میشت و، خوشاله ساتلو لپاره ورته میرمنې لیږل کېدې، پردې علاوه په کوم ځای کې چې ولسمشر سوئکارنو اوسیده، دهغه ۵۵ پونډه دکرایې په توګه ورکول ، دساتنې لپاره یې ۵۰ ساتونکي مقرروو، هغوی د میرمنو د زیات تګ راتګ له امله اندیښمن ول، د جاپان دبهرنیو چارو وزارت اندیښمن و، ځکه چې داندونیزیا ولسمشر به توکیوته ډېر سفرونه کول، هرکله به چې هلته لاړ، په عیاشیو او مستیو به مصروف شو، خو داچې جاپان داندو نیزیا له طبعي زیرمو او خامو موادو ګټې پورته کولو اړتیا لرله، له دې وجې یې دهغه په دغه ډول کړو وړو ناراضایت نه ښود.

ځېرنه:

اندونیزیا دنړۍ ګڼ میشته هېواد په توګه غریب هېواد دی، دجاوا مرستیال والي په وینا: دجاوا ښار منځ کې شاوخوا لس لکه وګړي دقحطۍ ښکاردي ، نوموړی وایي: دا مهال په دولتي روغتونو کې دولس زره وګړي دغذایت له کمښت سره مخ دي او ور ته دطاقت درمل ورکول کېږي.

دحکومت او خلکو کشمکش:

مسلمان چارواکي د خپلو مسلمانو وګړو لخوا له غبرګون اومخالفت سره مخ دي ،ځکه هغوی خپلو دیني اصولو ،ایماني پانګې، له تاریخي میراثونو او دژوندانه د څواک د هغه ډکې چینې سره پریکون ته غاړه نږدی کومه چې له اسلامي لارښوونو سرچینه اخلي ، دکومې بقا لپاره چې دامت مصلحانو او مجددانو خپلې وینې داوبو پشان بهولې، ددې لپاره یې اوږدې ستړیاوې او مبارزې پرمخ وړې دي او پکې د بېلابېلو لوریو او طرفونو څخه دغبرګون او مقابلې سره مخ شوي دي خو هیڅکله دخپلې حقې داعیې او مبارزې څخه ندي لاس په سر شوي.

بل لورته اسلامي رهبران او زعماء سخت اندیښمن او لالهاند دي،ځکه هغوی دخپلو ولسونو له مزاجونو او ذوقونو سره په جنګ بوخت دي، غواړي په هغو نارو ا شعارونو داسلامي پرګنو قیادت اورهبري وکړي چې منلوته یې مسلمان ولسونه تیارندي، او کومې نارې اوشعارونه چې رهبران او زعماء زمزمه کوي هغه داسلامي ولسونو دننه ولولې نشي پیدا کولی او نه دچا لپاره ژوند سخت او مرګ اسان ګرځولی شي، نه څوک دځان او مال قرباني، هجرت اود وطن پریښودو ته چمتوکولی شي اونه دکوم ځوان دننه له ځاني غوښتنو او شخصي-اغراضو څخه د لاس په سر کېدو وړتیا زیرولی شي ، له شک پرته دقومونو د رګونو او دجذباتو په راپیدارولو کې دهغوی پاته راتلل هغوی پخپله حسوي، په دې توګه په نازکو شیبو او فیصله کوونکو معرکو کې هغوی تل د دیني شعارونو، داسلام په لاره

کې د جهاد او شهادت شعارونو سیوري ته پناه اخستې اوبیا کله چې جنګ پای ته رسیدلی، او دهېواد واګې یې لاسوته ورغلې بیا یې هغه پخواني قومي او وطني نارې تکرار کړې او داسې یې فرض کړیده چې دوی په یوداسې ولس حکوکت کوي ،چې هغه هیڅ مذهب او دین نلري! چې ور سره مینه ولري او دهغه په لاره کې د ځانونو له ځارولوهم مخ نه اړوي، او نه دکومې داسې جذبې لرونکې دي چې دلېر روزنې وروسته دنړۍ ستر ځواک کیدای شي او په کوم کې دننه چې لوی نه لوی صلاحیتونه شتون لري!

دپټو ځواکونو او خزانو ناقداري:

په دې ډول ددغو قومونو صلاحیتونه ، ځواکونه او دېرمختګ چانسونه ضایع کېږي،کوم چې په سمه توګه استعمال شوي وای او په سهي ډول دهغونه ګټه پورته شوي وای او دغه مشران دنظریاتو په ځای حقیقت پالان وای نو حیرانوونکې پایلې به یې راوتلې وای او نن به اسلامي بلاک دمشرقي او مغربي بلاک په مقابل کې یو دریم ځواک او فیصله کونکی بلاک و، ددې لامل یواځې اویو اځی داسلامي هېوادو دهغو واکمنو کوتاه نظري او دلویدیځ ړوند تقلید او پخپلو هېوادو کې دهغه پخپله بنه پلي کولو عزم دی چې په نتیجه کې هغه بهرنی کلتور کوم چې هغوی له بیرون څخه راوړی یا یې پخپل هېواد کې مندلی په ښه توګه هضم کړی او ورته سرتیتې کوي

دغربي تهذیب دپیروۍ پایلې:

په ټولنه، ژوند او عامه ژوند کې دمغربي طریقو پیروۍ او دهغوی دژوندانه اصول اوطرز العمل منل په اسلامي ټولنه کې او ړدمهالې پایلې زیږولې ،اوس مغرب په اخلاقي جذام(ناروغي) مبتلی شوی دی، چې له امله یې بدن مسلسل لړزیږي، تعفن او بدبو یې په ټول چاپیر یال خوره ده، د جذام ناروغۍ سبب [کوم چې لا علاج دی] هغه جنسي-بې لارې او اخلاقي انار شیزم دی چې دحیوانیت او بهیمیت ترحده رسیدلی دی.

چې ددې حقیقي کیفیت او لومړی سبب دمیرمنو له حده وتلې ازادې بې پرده ګې دنارینه او ښځینه غیر محدود اختلاط او شراب څکل دي په هر اسلامي هېواد کې چې میرمنو ته داسې ازادې ورکول شوې پرده ترک شوې، د دواړو صنفونو اختلاط ته ازادانه مواقع برابر کړای شوي، مخلوط تعلیم دود شوی، نو نتیجه یې د اخلاقي انتشار او جنسي-ناسور په توګه را ښکاره شوې او له ټولو اخلاقي ارزښتونو څخه یې د بغاو ت ګام پورته کړی ،لنډه داچې له اخلاقي جذام پرته بل څه ندي، کوم چې لویدیځ ته دهمدي اسبابو په وجه لګیدلی ، په دغو اسلامي هېوادو کې چېرته چې دمغرب له جوش څخه ډکه نقالې روانه ده، چیرته چې پرده یومخ پریښودل شوې دنارینه او ښځینه داختلاط لپاره ازادنه چاپیریال برابردی، هم دژورنالیزم ،سینما، تلویزون ، لیکچرونو او دواکمنې ډلې ژوند ورته مورال او ډاډ او رهنمایې ښې هلته ددې جذام نښې پوره ښکاره دي او دا دقدرت قانون دی چې ترې هیڅوک دتیښتې ځای نلري.

دبرسلز بریدونه؛ اصل عوامل؛

دمخنیوي حقیقي لارې اوناسم غبرګونونه

دروان ۲۰۱۶ کال دمارچ په ۲۲ مې نېټې سهار ۸ بجې او۵۰دقیقې وې چې دتمې خلاف په ناڅاپي ډول دبلجیم پلازمېنې برسلزپه بین المللي هوایي ډګراوداورګاډي په درې مهمو سټېشنونو کې زورور بمي بریدونه و شول چې پکې ۳۷ مړه اوتر۲۷۰ پورې تنان ټپیان شول ؛ داروپا په زړه ترشویودې منظمو حملو په ښکاره برسلز خوپه حقیقت کې ټول لویدیځ ولړزاوه اوټوله نړۍ یې حیرانه کړه.

په برسلز کې دابریدونه دصالح عبدالسلام دنیول کېدونه ۴ ورځې پس رامنځته شول ؛ صالح عبدالسلام مراکشي- نژاده فرانسوي مسلمان دی چې دپاریس له بریدونو روغ راوتلی و؛ دفرانسې دولت یې دپاریس دحملودوهم طراح بولي او وایي چې دپاریس بریدګروته یې دهستوګنې ځایونه ؛ په بریدونوکې استخدام شوي تولې موټرې ؛ دبمونو جوړولو آلات اودبریدونو لپاره نورې اسانتیاوې برابرې کړې وې؛ دبریدونونه پس هغه دفرانسې نه برسلزته راغلی و اودمارچ تر۱۸مې نېټې پورې یې پولیس سره له ټولو کوښښونو په نیولو نه وو بریالي شوي؛ دبلجیم دپولیسوپه وینا هغه تر۴ میاشتودلته پټ اوسېدلوچې دمارچ په ۱۸مې نېټې یې پولیس دبرسلز په مولن بیک نومي ځای کې په موندلو اونیولو وتوانېدل.

مولن بیک نومي سیمه کې ډېر مراکشي- مسلمانان اوسېږي او ویل کېږي چې ۴میاشتې دمخه چې په فرانسې کې کوم بریدونه دترسره شول دزیاترو برید ګرو تړاویې دهمدې سیمې سره و.

بلجیم دغربي اروپایوکوچنی هېواد دی ،دنړیوال سیاست په اړه ددې هېواد شهرت څکه زیات دی چې ددې هېواد پلازمېنې برسلز کې داروپایي اتحاد دمهموادارومرکزي دفترونه دي ا وپه مادي نړۍ کې دترټولوځواکمن فوځي اتحادناټودقوماندې مرکز هم همدلته دی؛ غربي لښکرې دخپلو پرمختللو طیارو اونورو سایلوپرمټ دهمدې ځای نه دټول منځني ختیځ ؛منځنۍ آسیا اوغربي آسیا څارنه کوي اوچې وغواړي نودهمدې ځای نه په یواوبل هېواد بریدونه کوي.

پدې هېوادکې دوه ژبې ویل کېږي؛ دجنوبي ویلونیا نومي سیمې وګړي یې فرانسوي وایي اودفلینډرزنومي سیمې وګړي یې په ډچ ژبه غږېږي؛ نېږدې۱۱ ملیونه نفوس لري چې پکې دمسلمانانو شمېره ۵ سوه زروته رسېږي.

دبرسلز دحملونه پس امنیتي ځواکونو ترټولوزیاته توجهودبلجیم مولن بیک سیمې ته وه ؛ دلته ۱۶ ځلې دلټون عملیات ترسره شول ؛ پدې سیمې کې دمسلمانانواکثریت دی چې زیاتره یې افریقي نژادي دي اوپه فرانسوي

ژبې غږېږي ؛ دپاریس دحملوطراح ابواعود چې دنومبرپه ۱۸ مې نېټې دفرانسې په سینټ ډیني سیمې کې دامنیتي ځواکونو سره په نښته کې شهید شوتړاويې دمولن بیک سره واودپاریس په حملوکې دشریکو ۳ وروڼوترڅو هم دهمدې مولن بیک سره و ؛ددې حملودوهم طراح صالح عبدالسلام هم په همدې سیمې کې ۴میاشتې پټ و؛ په ۲۰۰۴م کې دمیډرډپه بمي بریدونوکې چې کومه ډله ککړه وه دهغوئ تړاوهم دمولن بیک سره و؛ داهم ویل کېږي چې په احمدشاه مسعود چې کوم مراکشي ځوان فدایي برید کړی هغه هم دهمدې مولن بیک اوسېدونکی ونوځکه اوس ددې سیمې ټولو اوسېدونکو ته په لویدیځ کې دشک په نظرکتل کېږي اولویدیځوال مولن بیک دالقاعدې په جالې نوموي او وايې چې ټولې اروپا ته دهمدې ځای نه خطرونه متوجې دي.

برسلزچې دناټوپه نوم دلویدیځ دجنګي اتحاد مرکز دی او داروپايي اتحاد مرکزي دفاتر هم همدلته دي نوورته داروپا زړه ویل کېږي ؛ داروپا په زړه دا ترسره شوې منظمې حملې داسې ګڼل کېږي لکه په ټولې اروپا چې حملې شوې وي نوځکه يې دنړۍ اسلامي اواسلامي نړۍ حاکمانو په سختوټکوغندنه کوله او ۴ میاشتې دمخه په پاریس کې دشويوبریدونوپه څېر ددې بریدونوپه اړه هم دلویدیځ دمشرانوعکس العمل شدید و.

یواځې په ۴ میاشتوکې چې داروپا په دوه مرکزونو دومره خونړي بریدونه ترسره شول نوپرې دفرانسې ،بلجیم اونورې اروپا دمشرانوغم اوغصه دفهم وړ ده ،خوددې پېښواغېزې به تر کومو پولو رسېږي ؟ دادهرچا لپاره عموماً اود مسلمانانو لپاره خصوصاً ډېره دفکر وړ خبره ده.

دبرسلزدحملولپاره دګڼې ګوڼې نه ډک ځایونه اووختونه متعین شوي وو؛ داسې ځایونه چې پکې دشتوتنانوتړاو دمختلفومذاهبوسره کېدای شي اودسړو ترڅنګ پکې مېرمنې اوکوچنیان هم وي

شاید دحملویو هدف به خپل جرأت، مېړانه، سم نظم ، کامیاب پلان، اهدافو ته درسېدوپه لارکې دقربانیو ورکولوجذبه اوخپلوموخو ته ژمنتیا نړۍ ته ښکاره کول اوداثابتول وي چې داروپايي اتحاد په څېر دنړۍ ترټولولوی اوپرمختللی تنظیم يې هم پروړاندې نشي ځنډکېدای.

بل هدف به په نړۍ کې دزیاتې وېرې خپرول اوځان ته دنړۍ توجورا اړول وو .

رښتیا داده چې مسلمانو ځوانانو دادواړه هدفونه ترلاسه کړل؛ هم يې په ښه بریالي ډول دمنظمو بریدونوپه ترسره کولو ټوله نړۍ هکه حیرانه کړه اوهم يې یواځې په بلجیم نه بلکې په ټول لویدیځ کې سخته وېره خپره کړه ؛ دحملونه پس ټولې اروپاکې شدید امنیتي تدابیر نیول شوي وو اودبلجیم نه نېږدې ۹ زره کلومتره لرې په نیویارک کې هم امنیتي ادارونه دتیارسې حکم شوی ونتیجه داشوه چې دټولې نړۍ توجویواځې همدې لورته وه او تروزځو ورځو په نړیوالو رسنیوکې همدا دسر موضوع وه.

نوددې هدفونو ترحده داحملې ښه کامیابې وې .

خو که هدف دانه بلکې داسلام دښمنی اودمسلمانانو سره دناوړه سلوک نه دبلجیم اونورلویدیځ اړول وي نوبیادا هدف ماته په ښکاره ژرلاسته راتلونکی نه ښکاري ؛ بلجیم هم د فرانسې په څېر دلومړی کرښې اسلام دښمنوهېوادونو کې شمېردی اودهغه صلیبي هېوادونو څخه دی چې دداسې پېښو په رامنځته کېدوېې داسلام اومسلمانانوسره دښمني نوره هم زیاتېږي اوپکې دمېشتو مسلمانانو پرضدسلوک اوقوانین لاپسې سختېږي چې ژوندی بېلګه يې دپاریس حملې وې ؛ دپاریس دحملونه پس په امریکا

اونورلویدیځ کې دمسلمانانو پرضد په نفرت اوتعصب کې ځوچنده زیاتوالی راغلو؛ ټولو مسلمانانو ته دشک په نظرکتل کېږي ؛ په ټول لویدیځ کې جوماتونه اواسلامي مراکزدسخت ځارلاندې دي ؛ددیندارو مسلمانانو کورونه په پرله پسې ډول تالاشي کېږي ؛ دمجاهدینوسره دتړاو او روابطوپه پلمه ډېرمسلمانان نیول شویدي اودنړیوالو رسنیوپرمټ لویدیځوالوته داسې ذهنیت ورکول کېږي لکه چې پر پاریس بریدکونکو ۸ تنانودنړۍ دټولو مسلمانانونمایندګي کړې وي اودنړۍ ټول مسلمانان پدې پېښې کې شریک وي .

په نړیوالو رسنیوقابض یهودان په لویدیځ کې خپل کمښت او د مسلمانانو تېز ډېر والي او د اسلام تېز خپراوي سخت ورخطا کړیدي نو ځکه د مسلمانانو سره د غربیانو د نفرت پیداکولو او په اروپا او امریکا کې د اسلام د خپریدا د مخنیوي لپاره مسلسل ناپاکه پلانونه جوړوي او په ډېر چل او هنر دلویدیځ متعصب پاپان او سیکولر مشران د خپل هدف د تر سره کولو لپاره د آلې په توګه کاروي ؛ په نړۍ کې داسلام اومسلمانانو بدنامول دهدف دترلاسه کولولپاره ددوئ ډېره کامیابه اواسانه وسیله ده ځکه چې پر نړیوالورسنیو چې دیهودوقبضه ده نودنړۍ په ګوټ ګوټ کې پر مسلمانانو شوېو اوروانو ظلمونو اووحشتونو باندې پردې رااچوي خوبرعکس داسلام اومسلمانانوپرضد پکې ډېر زهرجن اومنفي تبلیغات خپرېږي ؛ اسلام نړۍ ته دوروسته پاتي ؛ دپرمختګ ضد دتشدد نه ډک ،ظالم اوجابر داسې دین په صفت معرفي کوي چې یواځې قتل وقتال اودانسانانو وژلو ته خپل منونکي هڅوي؛ نه په چارحم لري ؛ نه پکې دانسانانو دحقوقو لحاظ شته اونه هم بشریت ته احترام لري .

زما هدف داندی چې په اروپایې هېوادونوکې دننه دمسلمانو ځوانانو بریدونه ندي پکار یاګینې بې ګټې دي ؛ دهرمسلمان باید پدې کلک یقین وي چې دامریکا اودامریکا دصلیبي اتحادیانو دوحشت یواځینی علاج روان مقدس جهاد دی ، موږ نه دامریکا او نورې غربي نړۍ نه دخیرتمه لرو اونه مو دا امید شته چې پراسلامي نړۍ مسلط لاسپوځي حاکمان به پرمسلمانانو دروان وحشت په مقابل کې دجرأت نه ډک دریځ غوره کړي ؛ دنړۍ دټولومخلصو مسلمانانو دامید سترګې په افغانستان کې دغربي یرغلګروپرضد روان سترجهاد ته دي اوپه دې عقیده دي چې ددې جهاد کامیابۍ سره دمسلمانانودټولو مسایلو حل تړلی دی ، مسلمانان په دې پوهېږي چې له ستوني دټولې اسلامي نړۍ دتېرولوپه اراده دیرغل کونکي غربي ښامارسر امریکا دی که ددې ښامار سرپه افغانستان کې وچقول شي نو دمسلمانانو ټول مسایل به حل شي اوټوله نړۍ به دشرونو نه په امن کې شي .

مسلمانانوځوانانو! په افغانستان کې ددې ښامار دسرچقولو ډېر ښه موکه الله تعالی راکړېده ، امریکا یا برتانې ته ځان رسول اوترې انتقام اخستل ډېرګران کاردی خو په افغانستان کې ترې انتقام اوس ډېر اسان شویدي نو راځئ چې هریو په روان خورا ډېر سپڅلي جهاد کې په هرې ځانګې کې چې وي ګدون وکړو یوترې هم ځان بې برخې پرېنږدو ترڅومو شرعي مسئولیت ادا ، روان جهادی بهیربه پیاوړی ، په لنډ وخت کې مو ددښمن ماتې یقیني شي اوټول امت یې دسترو شرونو نه په امن کې شي.

بلجیم کې دصالح عبدالسلام دنیول کېدونه پس دعکس العمل په توګه ددې هېوادپه کوم اسان هدف دبریدوېره پیداشوی وه خوتمه نه کېده چې دومره ستراومنظم به وي ؛ غربي شنونکي وایې چې دصالح عبدالسلام دنیولونه پس هم دداسې منظمو کامیابوبریدونورامنځته کېدل داښایي

چې دبريدکونکو احساسات خورا زيات قوي وو اوهدف ته درسېدلو لپاره يې عزم خوراپوخ و

؛دمسلمانوځوانانودپوخ عزم خبره په خپل ځای ده خودبلجيم حاکمان چې وايي: دوئ ته معلومه وه چې دصالح عبدالسلام دنيول کېدونه پس به دعکس العمل په توګه ددې هېوادپه کوم اسان هدف بريدونه وشي نو خلک دحيرانتيا اظهار کوي اووايي چې سره داټکلونودبلجيم اداره ولې ددې بريدونوپه مخنيوي کې ناکامه شوه؟ اودفوځي چارو دپوهانولپاره ددې نه هم زياته مهمه پوښتنه داده چې دټول غرب جاسوسي شبکې سره له ټولوکوښښونو دناټودقوماندې په مرکزکې ولې ددې حملوپه مخنيوي کې ناکامې شوې ؟

دبرسلزدابريدونه په تېرو۴ مياشتوکې دوهمه ستره حمله ده چې په اروپاکې کېږي اوچې دچارلي هيبډو بريد ورسره يوځای شي نوبيادادېوکال نه په لږې زياتې مودې کې دريمه ستره حمله ده چې په اروپاکې رامنځته شوې.

د۲۰۱۵م دجنورۍ په ۷ مې نېټې دفرانسې په پلازمېنې پاريس کې دچارلي هيبډوپه نوم دهغې مجلې په مرکزي دفتر۳ فرانسوي مسلمانو ځوانانووسلوال بريد وکړ کومې چې په پرله پسې ډول دسترپيغمبرپه شان کې بې ادبي کوله اوکارتونونه به يې چاپ کول ؛له حملې نه لږه موده وړاندې هم دې مجلې داسلام دستر پيغمبرلوړشان ته دسپکاوي په موخه کارتونونه خپاره کړي ول او دحملې پرمهال د مجلې په دفتر کې غونډه روانه وه او وژل شوي تنان ددې لپاره سره راټول شوي ووچې په نېږدې راتلونکي کې يو ځل بيا دکاريکاتورونو خپرولو لپاره پلان جوړکړي چې دوه ورونه شريف اوسعيد کواچي دفترته په ورننوتلو بريالي شول ؛دننوتلو سره سم يې دالله اکبرناره پورته کړه ؛ډزې يې پيل کړې؛ دوئ دمجلې دمديرستيفن کاربونيرو؛ دکارتونونو جوړونکو هريو کاربونی، ټکنوس ، وولنسکي اودبرنارډ مارس نومي جورنالست اودلته په امنيت دګومارل شويوپوليسوپه شمول د۱۲ فرانسويانو پروژلو وتوانېدل؛ دټولو دوژلو نه پس يې بيا دالله اکبر ناره پورته کړه او ويې ويل موږ دخپل پيغمبرپه شان کې دسپکاوي انتقام واخستلو.

دابريد چې پکې په يوځل ۱۲ فرانسويان ووژل شول په تېرو ۴ لسيزو کې دفرانسې په تاريخ کې بې ساري اوترټولوخونړۍ حمله ګڼل شوې وه .

دفرانسې په څېر هېوادچې دنړۍ په يوشمېراسلامي هېوادونوکې يې عملاً دمظلومومسلمانانودوينوسيلابونه روان کړيدي اوخپل ولس يې دامن اوخوښۍ نه ډکې شپې ورځې تېرولې اوهيڅ يې دخپلوخلکودوينوتويېدل نه وليدلې داحمله پکې خوراخونړۍ وه خوددوئ له بده مرغه چې کابو۱۰ مياشتې پس بيا ددې نه هم دسترې خونړۍ حملې سره مخامخ شول.

دالله تعالی وروستی اوستر پيغمبرچې له پيغمبرۍ يې په نړۍ کې هيڅوک انکارنشي_ کولی مسلمانان يې ديوويښته سره درست جهان نه برابروي اودهغه صلی الله عليه وسلم دناموس نه دځان ،مال، اهل وعيال جارول دځان لپاره لوی سعادت اوافتخار ګڼي

نوفرانسه چې داسلام دسترپيغمبر سره دمسلمانانودمينې ،عقيدت اواحساساتو نه ښه خبره هم ده ؛ دټولې نړۍ دمسلمانانودهمدې محبوب پيغمبراو دبشريت سترسالارته دسپکاوي په جرم دفرانسې دولت بايد ددې مجلې په نشرکلې بنديز لګولی وای اوټول لويديځ بايد دهرمذهب دسترو اشخاصو سپکاوی قانوني جرم ګڼلی وای خو متأسفانه چې لويديځ نه يوازې داچې دداسې پېښودمخنيوي لپاره يې کوم معقول اقدام ونکړ بلکې په بل اوريې تېل وپاشل؛ دمسلمانانوپرضد دخپل

يووالي دښکاره کولو، دمجلې دشيطاني کړنو دتائيد اوپرې دشوې حملې دغندنې په موخه ټوله لويديځه نړۍ په خوځښت راغله ؛ دامريکا دولسمشر- بارک اوبامانه ترالمانۍ مشرې انګيلامرکل اودبرتانې دلومړي وزير ډيويډکامرون نه تردارو‌پايي اتحادې مشرکلوديونکر پورې ټولوپدې پېښې خفګان ښکاره کړ ؛دفرانسې اودهيبډو مجلې سره يې ځانونه په غم کې شريک وګڼل اوټولو په يو اواز دا دبيان پرآزادۍ حمله بلله.

دفرانسې اوخصوصاً هيبډو مجلې نه دحمايت اوخواخوږۍ ښکاره کولو په موخه په پاريس کې ډيرستر لاريون رامنځته شو چې دغربي ميډياپه وينا پکې له ۳ مليونونه زياتو وګړو شرکت کړی و؛ نړيوالورسنيوداد پاريس په تاريخ کې بې ساري لاريون ګڼلوچې دلويديځ اونړۍ دځينو نورو۴۰ هيوادونو مشرانويې قيادت کولو؛ لاريون ته دسپکاوي په موخه کاريکاتورونه هم راوړل شوي وو چې هدف ترې داسلام او مسلمانانو سره دلويديځ تعصب او دښمنۍ ښکاره کولوترڅنګ ټول لويديځ ته دچارلي هيبډو په څير دناوړه عمل دبيابياتکرارولو بلنه ورکول هم ووچې دې کارد ټولې نړۍ مسلمانان عموماً اوخصوصاًپه لويديځ کې مېشت مسلمانان سخت خفه اوغصه کړل ؛ حقيقت دادی چې دلويديځ دمشرانو داحرکت ډېر غيرمسئولانه و.

پدوئ کې يوهم دداسې پېښو داصل عواملو اومحرکاتويادونه ونکړه چې دهمدې نه ددوئ بدې ارادې روښانه کېږي ؛ دوئ يوهم ونه ويل چې دې ځوانانو ولې خپلې ځوانئ قربان کړې؟

دچارلي هيبډوپه دفترحمله کونکي سعيد اوشريف وو؛ که دپاريس دحملو طراح صالح عبدالسلام دی اوکه دبرسلز پر هوايي ډګرحمله کونکي خالد او ابراهيم دوئ ټول چې په خټه هرخوک وو، وو به دوئ په فرانسې اوبلجيم کې زېږېدلي اوراستر شوي وو اوهمدلته يې زدکړې ترسره کړې وې .

په اروپاکې راسترشوي ؛ دنعمتونو نه ډک دهوسا ژوندلرونکي ځوانان ولې خپل ترټولومحبوب ځان اوژوند قرباني اوداسې بريدونه کوي ؟

دا ددې وخت وچې په ټوله کې ټول لويديځ اوپه ځانګړې ډول فرانسې په ډېرې سرې سينې فکرکړی وای اودداسې پېښو درامنځته کېدو داصل لاملونودله منځه وړلو لپاره يې جدي اقدامات کړي وای.

بلکې برعکس يې دخپلوناکاره کړنوهوډ بيا ښکاره کړ؛کله چې دمجلې اداري په خپلوکړوفخرښکاره کړ؛ داستره بې ادبي يې درسنيوپه ازادۍ تعبيرکړه اوبيايې ددې دخپرولو اظهار وکړنو دمسلمانوځوانانوپه زړونوکې دانتقام لمبې بلې شوې ؛همدا وچې دتېرې حملې نه يې هم ستره حمله ترتيب کړه ؛په عملي کولويې بريالي شول اودومره مرګ ژوبله يې رامنځته کړه چې فرانسې او نور لويديځ به يې په اړه تصورهم نه شو کولای.

هو!د ۲۰۱۵ کال ۱۱دمې مياشتې په ۱۴ مې نېټې په پلازمېنې پاريس کې ۸ مسلمانو ځوانانودفټ بال دميدان؛ تياتر اويورستورانت په شمول په۶ځايونو دسپکاوتومات وسلواولاسي بمونوپه واسطه بريدونه ترسره کړل اوپه آخرکې ۳ تنانوپه ځانونوپورې تړلودبارودونه ډکو واسکټونوته انفجارورکړچې له امله يې کابو۱۵۰ تنان مړه اونېږدې ۳سوه ټپيان شول.

دې بريدونو په امريکا اود اروپاپه نېږدې ټولو هيوادونو سخته وېره خپره کړې وه ؛دامريکا اواروپا په کابو ټولو لويو ښارونوکې امنيتي ځواکونوته دتيارسۍ حکم شوی اوخورا ټينګ امنيتي تدابير نيول شوي وو.

پاريس ته درنګينو، خوشبويانو اوړناګانوښار ويل کېږي ؛ داښاردغربي کلتور مرکز بلل کېږي اودټولې نړۍ

دښمنه امن لرونکودلومړۍ کرښې په ښارونوکې شمېردی.

۸ مسلمانوځوانانوچې دفرانسې په ځېردخورا پرمختللي هېواد دنړۍ په ترټولوعصري وسایلو سمبال ټول امنیتي ځواکونه دټول لویدیځ په کلتوري مرکزکې ددې پېښې په مخنیوي کې ناکام کړل اوپه یو وخت کې یې چې په ګیومهمو ځایونو په ډراماتیک ډول او خورااغېزمني طریقې حملې ترسره کړې نو دټول لویدیځ دفوجي اوسیاسي کړنلارې نیمګړتیا یې نړۍ ته ښکاره کړه اودایې ثابته کړه چې دلویدیځ په هرپرمختللي هېوادکې داډول بریدونه ترسره کولای شي چې همداسې وهم شوه دادی کابو۴میاشتې پس په برسلز کې دفرانسې نه هم په منظموبریدونوبریالي اوټوله نړۍ یې هکه حیرانه کړه .

دخپل پېغمبر سره دمسلمانانو دمینې ،عقیدت اواحساساتو نه ټول لویدیځ ښه خبر دی اوپدې ښه پوه دی چې دخپل پېغمبرسره مینه مسلمانان دځانونولپاره ترټولوسترمتاع ګڼي اوپه شان کې یې کوچنۍ بې ادبي هم نشي- زغملای نودخپل پېغمبرسره دمسلمانانودې کچې مینې اوعقیدت په پام کې نیولوسره په فرانسې کې ددې بریدونونه پس ددې اړتیا وه چې ټول لویدیځ په خپلومادي وسایلو دغروراوپه مادي لحاظ دځان نه کمزورو ملتونوته دحقارت په نظر دکتلوکړنلاره پرېښې وای ؛ انساني مساوات ، دبشر حقوقواوانساني کرامت ته دژمنتیا دعوې یې په عمل کې رښتیاکړې وای ؛دټولومذاهبو دمقتداګانو او دسترو اشخاصوسپکاوی کول یې قانوني جرم ګڼلی وای.

خوله بده مرغه چې لویدیځ نه یوازې داچې دداسې پېښودمخنیوي لپاره یې کومه معقوله لارخپله نکړه بلکې ټول داسې اقدامات اوخبرې یې وکړې چې لازیات نفرتونه خپروي اودمسلمانانو دلازیات قهر اوخفګان سبب ګرځي.

ټولوغربي مشرانودمسلمانانوپرضد دخپل یووالي اظهار وکړ؛ ټولوپه یوه خوله دا حملې غندلې؛ دامریکا، برتانې، المان کاناډا په شمول ټولو لویدیځوالو هېوادونوهمدا یوه خبره تکراروله چې دا بریدونه یوازې په فرانسې ندي شوي؛ دا پرموږ ټولوشویدي موږټول دفرانسې سره ولاړیو اودتروریزم پرضدبه جګړه جاري ساتو.

دوئ ټولوپه ټول لویدیځ کې عموماً اوپه فرانسې کې خصوصاًداسلام پرضد ټولې شیطاني کړنې تائید کړې اوټولو په یواوازدادبیان پرآزادۍ حمله وبلله؛ یاني غرب لاهم داسلام دسترپېغمبر په شان کې سپکاوی دبیان آزادي ګڼي، جایزیې بولي او دمرتکبینونه یې حمایت کوي.

داسلام دسترپېغمبربې ادبي هم دمسلمانانو ځوانانو دقهر اوغصې لامل ګرځېدلی دی خو پراسلامي نړۍ مسلط شویو جنګونو کې دبلجیم ،فرانسې اونور لویدیځ له لورې دملیونونومسلمانانوقتل عام هم دمسلمانوځوانانو دقهر،غصې اوپه لویدیځ کې دحملواوپدې لارکې دخپلو سرونو دقربانولو لوی سبب ګرځي نوباید داهم له پامه ونه غورځول شي.

بلجیم ، فرانسه اونوراروپایي هېوادونه چې دامریکا په مشرۍ کې په کوم اسلام دښمنه ،خونخوار غاصب صلیبي اتحادکې راشامل شویدي دې اتحاد ښه په وازه خوله دټولې اسلامي نړۍ اوټولومسلمانانوپرضد صلیبي جنګ اعلان کړیدی دخپلو مادي ګټو اوشومو اهدافودترلاسه کولوپه موخه یې داسلامي نړۍ پرضدهغه وحشي- اعمال ترسره کړل چې هیڅکله هم دهېرولو ندي اونه به یې ترخې خاطرې ترېږیو دمسلمانانو دفکرونونه ووځي .

پر افغانستان یې یرغل وکړ ؛ پدې مظلوم ولس اوغریب هېواد دډیزي کټراونورودرندوبمونوراغورځولو لپاره په سونوزره پروازونه وشول ؛ هرغر،

ځنګل ، دښته ،کلی اوښارپه نښه شو؛ دلته ډېر روغتونونه ، ښوونځي ، ودونه اوجنازې هم بمبارشوې ؛ دتالاشیوپه نوم په توروشپوکې دافغانانوپه کورونو اشغالګر ځواکونه ورواوښتل ؛ ګونتنامو اوپه هېوادکې دننه بدنامو زندانونوته يې په سونوزره مظلوم افغانان بوتلل ؛ دږېروغربیو افغانانو ودان کورونه يې دخاوروسره خاورې کړل دلته يې په لکونومسلمانان شهيدان اومعيوب کړل اودکيمياوي موادوپه کارولوېې ددې هېوادراتلونکی نسل دلويو مرضونو دخطرسره مخامخ کړ .

دافغانستان پسې يې دعراق په نوم داسلامي نړۍ پريوځواکمن هېوادېې له هيڅ قسمه مجوزه يرغل وکړ ؛ هغه عراق چې پکې منظمه اداره وه ځواکمنه اومنظمه اردو يې درلودله اوولس يې دامن نه ډک سوکاله ژوندلرلو دغربې يرغل په نتيجه کې يې منظمه اداره ړنګه ، اردو يې ختمه اونظام يې تباه شو؛ ديونيم مليون نه زيات مسلمانان پکې شهيدان شول ؛اباد ښارونه اوسيمې يې په کنډوالوبدلې شوې ؛ په مليونونوانسانان دخپلوکورونوپرېښودلوته اړشول ؛ دمېرمنو په شمول په سونوزره مسلمانان دامريکايانوپه لاس جوړوشويو زندانونو کې بې عفته اودسپيودداړلوترحده سکنجه شول؛ دعراق هرخه لوټ شول؛ په يونه ختمېدونکي کورني جنګ اخته اودتجزيې دجدي خطرسره مخامخ شو.

همدا راز دليبيا په نوم داسلامي نړۍ پريوبل ځواکمن هېوادهم بې له هيڅ قسمه مجوزه ناتوپيرغل وکړ ؛ دليبيا مشر معمرقذافي کې که څه هم ګڼ مشکلات ووخو دهغه په شتون کې ليبيا دنړۍ په يادوهېوادونوکې شمېروه؛ اقتصاد يې ښه پياوړی وو؛ پکې ښه منظمه اداره وه ؛ نسبتاًځواکمن اومنظم فوځ يې درلودلو اوولس يې ښه مترقي ، دامن نه ډک سوکاله ژوندلرلو .

ددې هېوادبله هيڅ ګناه نه وه ؛ ګناه يې همدومره وه چې دتېلوخورا غني زېرمې يې لرلې او ولسمشرـمعمرقذافي دازېرمې دامريکا اونورلويديځ دتسلط نه لرې ساتلې وې دناټو د يرغل په نتيجه کې يې منظمه اداره ړنګه ، اردو يې ختمه اونظام يې تباه شو؛ په لسګونوزره مسلمانان پکې شهيدان اوټپيان شول ؛اباد ښارونه اوسيمې يې په کنډوالوبدلې شوې ؛ په سونوزره انسانان دخپلوکورونو پرېښودلوته اړشول ؛ ستره ګډوډي اوبدامني خپره شوه ؛ لوږه اوفقر عام شو؛ هېواد عملاً تجزيه شواوداسې خطرناک کورنی جنګ پکې پيل شوچې تر ډېرې مودې يې دتم کېدوهيله نشي کېداى .

اوخبره همدلته تم نه شوه اونه په يادواسلامي هېوادونوکې دمسلمانانوپه قتل عام دخونخوارانوخوا يخه شوه بلکې دخپلو وسلوډپلورلو؛ داسلامي نړۍ دکمزورې کولواوټوټه ټوټه کولو؛ دنړیوال کفرډپلان سره سم داسرائيلو جغرافيايې حدودوته دوسعت ورکولو؛ ټولې اسلامي نړۍ ته دفرقه يزوشخړو داور خپرولو؛اود منځني ختيځ په ټولوزېرمودقبضې راوستلو په موخه غربي کفردعربودبهارپه نوم په عربي نړۍ کې نوی اوربل کړچې دتيونس نه ترشامه يې ټوله عربي لولپه کړه ؛دامريکا ، دامريکاد غربي اتحاديانواوجنګ خوښو شريرو صهيونستانوپه لاس بل شوي دې اورشام په کنډوالوبدل کړ؛ددې هېواد دسونو زرومسلمانانودشهادت اوټپي کېدوسبب شواوپه مليونونو مسلمانان يې دخپلو کورونوپرېښودلواوپه هېواد کې دننه اودهېواد نه بهرون دنړۍ په ګنوهېوادونوکې دربدرۍ ته اړ کړل.

په قوي دلايلوثابته شويده چې ديمن ددولت پرضد دحوثيانود راپورته کولوترشاهم دامريکا اواتحاديانوې لوی لاس دی چې له امله يې دسيمې تول سنيان اوشيعه ګان سره عملاًښکرپه ښکرشول؛ ورځ تربلې

سیمه بدامنه کېږي؛ دسترفرقه یزخونړي جنګ خطرمخ په زیاتېدودی؛ دسعودي په مشرۍ کې سني هېوادونه سترسترفوځی تمرینات کوي اوایران په هرځای کې دشیعه ګانونه ددفاع په موخه دمداخلې اواقدام کولوګوابښونه کوي .

امریکا اونوروصلیبي اتحادیانویې پر مظلومو مسلمانانو جنګونه هم مسلط کړیدي ؛په اسلامي نړۍ کې یې دمسلمانانو دوینوسېلابونه هم روان کړیدي ؛ابادښارونه یې په کنډوالو بدل اومسلمانان یې دخپلو کورونو اوسیمونه وتلواو هجرتونو ته هم اړکړیدي خوپدې هرڅه کې لویدیځ ملامتیا هم په مسلمانانو وراچوي؛ بدناموي هم مسلمانان اوزباتني هم په مسلمانانوکوي.

نوپه تېرې یوې نیمې لسیزې کې چې امریکا اواتحادیانویې په عراق، افغانستان، صومالیه، مالي، لیبیا اوشام کې په جنګونو، ستروهوایي حملو او مخامخ بریدونوکې دمېرمنو اوکوچنیانو په شمول په سونوزره نه بلکې په ملیونونو بې ګناه مسلمانان ووژل ؛ آیا دا په ملیونونومسلمانان انسانان نه وودې دومره لوی قتل عام به هیڅ عکس العمل نه وي؟

دتېرو ۷لسیزوراهیسی امریکا اونېړې ټوله لویدیځه نړۍ داسرائیلوتر شاولاړه ده، بې له قیدوشرطه یې دهرظلم حمایت کوي، دفلسطیني مظلومو مسلمانانو پرضد داسرائیلو هروحشت داسرائیلوپه دفاع تعبیروي او همدا امریکا ده چې دملګرو ملتونوپه اداره کې یې داسرائیلوپه حق کې دویتوحق ترټولوزیات کارولی دی اوهغه هم داسرائیلودناروا کړنودتائیداوحمایت په باره کې .

نړیوالوته معلومه ده چې ۳ لسیزې وړاندې په ۱۹۸۲کې دلبنان په خاوره کې دفلسطیني مهاجرینو په شتیلا اوصابره کمپونو کې چې وحشي اسرائیلو۶زره فلسطینیان وژلي وونودا دوخت خورا ډېرستر ولسي قتل عام و ، د ومره سترچې مسلمانان خو مسلمانان دي په کومو نامسلمانو پوهانو، څېړونکو اولیکوالانو کې چې دانساني خواخوږۍ لړبوی هم شته اودحقیقی انصاف په پوله یوځلي هم تللي وي ترننه یې په خپلو مرکواولیکنوکې یادوي خوامریکا نه یواځې داچې داسرائیلوهغه ستر وحشت یې نه وردکړی بلکې پراسرائیلو دنړیوال فشارکلکه مقابله یې کړی وه او دهغه وخت داسرئیلودفاع وزیرایرل شارون ته یې ددې سترجنایت نه برا ئت ورکړی و.

هرڅوک پوهېږي چې لویدیځ اوپه سرکې یې امریکا داسرائیلودټولو دولتي ترو ریستي فعالیتونو ترشاولاړه ده اودملګروملتونواداره داسرائیلو دوحشت دمخنیوي په لارکې خپل یوه سلنه مسئولیت هم نه اداکوي.

پرغزې داسرائیلودهر وحشي عمل پرمهال دهرباوژدانه انسان سره داپوښتنه راولاړېږي چې بان کې مون ، بارک اوباما او داروپایي هېوادونو واکمنانو چې په غربي نړۍ کې دمسلمان په لاس دیوې کوچنۍ پېښې په رامنځته کېدوېي نړۍ په سر راخستې وي اوځانونه دبشریت دپرخواخوږي ښکاره کوي اوس یې بشردوستي څه شوه؟ آیا د غزې اوسېدونکي انسانان نه دي؟ که د دوئ وینه اسرائیلو ته هدر شویده ؟ ددې مظلوموانسانانو وینه نن ولې دومره بې ارزښته ده؟

اوترټولومهمه داچې که امریکا داسرائیلو د وحشتونو مخه نه نیسي لږترلږه چپ خودې پاتی شي ، داسرائیلو دوحشت حمایت ولې کوي ؟ ولې یې په شا ټپوي او دهرسترو حشت پرمهال د امریکا دباندنیوچارو وزارت دفلسطین دمسلمانانو په زخمونو مالګې دوروي او وایې چې اسرائیل دخپل ځان نه د دفاع حق لري او حمله یې دخپل ځان نه ددفاع لپاره کړیده.

دغزې دبې ګناه ،بې دفا ع اوتش لاسو بې چاره سرو ،مېرمنو اوکوچنیانو

قتل عام ته په کوم دلیل اومنطق دخپل ځان نه داسرائیلو دفاع ویل کېدای شي؟

امریکا داسرائیلو په لاس دکوچنیانو اومېرمنو قتل عام ته دفاع وایې او اسرائیلوته ددې دفاع حق ورکوي نوفلسطینیانو ته ولې دخپل ځان نه د دفاع حق نه ورکوي؟

هو! داډېرعجیب تضاد دی چې امریکا اوټول لویدیځ ځان دمذهبي بنسټپالنې لوی مخالف اوددې ډګرلوی مبارز ګڼي خوبل لورته په نسلي بنیادونو اودصهیونستي سختې بنسټپالنې په نتیجه کې رامنځته شوی ناقانونه غاصب اسرائیلي دولت ترشا همدا امریکا اولویدیځ داسې ولاړدی چې یوه ناروایې ورته ناروا نه ښکاري اوپه ټولو وحشتونوېې سترګې پټوي ؛ په ۱۹۴۸م کې دخپلوکورونونه ویستل شوي اودخپلوسیمونه شړل شوي فلسطینیان لاترننه هم په نړۍ کې ددربدرۍ شپې ورځې تېروي ، لویدیځ ته نه ددې مظلوموانسانانو دادربدري ښکاري اونه په اسرائیلو فشار راولي چې دامظلومان بېرته خپلوکورونواوسیمې ته راستنېدو ته پرېږدي.

داهم دامریکا اولویدیځ ډېرستر جبر اوظلم دی چې یواځې داسرائیلو دساتنې اوداسرائیلوپه مخ کې دخنډونو دلرې کولوپه موخه په ټول منځني ختیځ کې منظمې اداري رنګې کړای شوې ؛ دخلکوسوکاله اوخوشاله ژوند له بدامنۍ ،دربدرۍ ، غربت ،غمونواودردونونه په ډک ژوند بدل شوپه ملیونونوبې ګناه انسانان ووژل شول ؛ هر هېواد دداخلي جنګ دبل شوي اورپه لمبو کې سوزي اوهریوپه څوڅوبرخوویشل کېدونکی دی ؛ دنړۍ ټول باشعوره اوپه عالم کې داقواموا وهېوادونوعروج اوزوال نه باخبره پوهان په پرله پسې ډول امریکا اوټول لویدیځ ته توصیه کوي چې دعقل نه دې کارواخلي دنړۍ دیواځني غاصب تروریست دولت سرپرستي دې پرېږدي اوپرته له ځنډ دې دافغانستان اومنځني ختیځ نه دخپلواوخپلواتحادي فوځونو دویستلواحکامات جاري اوجدي پلان دې ورته برابر کړي .

پدې حساس وخت کې غربي ولسونوته هم داسترمسئولیت متوجې دی چې دخپلو اشغال خوښونکوماده پرستو مشرانوپرضد اوازپورته کړي دنیوورلډآرډرپه نوم یې داسلام دښمنۍ دروانې کړنلارې دبدوعواقبونه وه وېروي؛ که دوئ داسې وکړل خپل هېوادونه به یې تریوحده په امن کې ساتلي وي ګینې دمسلمانانودعکس العمل څپې به دلویدیځ هرکلي اوهرې کوڅې ته ورسېږي بیابه یې دمخنیوي لپاره غرب هڅې کوي خوپه مخنیوي به یې نه توانېږي .

ډېرونامتولویدیځوالونامسلمانو څېړونکو اولیکوالانواصل حقایق منلي دي؛ دانصاف لار یې خپله کړیده اوښه په روښانه ټکواوس پدې اعتراف کوي چې ترڅو اروپایي هېوادونه دامریکا سره په اتحادکې دافغانستان ،عراق ،شام اونور منځني ختیځ دمسایلوحل په جنګ کې لټوي ترهغې به په لویدیځو هېوادونو بریدونه روان وي ؛ دوئ ښه په ډاګه وایې اروپایي دولتونه هغه ټولنیز اوسیاسي عوامل ولې هېروي دکومولــه امله چې په اروپاکې

دزړېدلو خپلو ځوانانوکې داسې بدلونونه راغلل چې اوس همدوئ په اروپا کې په خلکو بریدونه کوي؛ داتحادیانو له لورې درامنځته کړی شویوجنگونوله امله په ملیونونه انسانان دربدرشول؛ ددې در بدرو مهاجرینوپرمخ اتحادیانو دخپلو هېوادونو دروازې تړلې دي؛ مسلمانان دلویدیځ خپل اتباع دي خو دلته ورته ددوهمې درجې دانسانانوپه نظرکتل کېږي؛ دامنیتي تدابیروپه نوم جوړو شویو قوانینو په فرانسې اونورې اروپاکې مسلمانان دپردیتوب پرلور روان کړیدي چې ورسره په اروپایي ټولنې کې دمذهبونو ترمنځ هم آهنگي له منځه تللی ده.

په امریکا اواروپاکې دمسلمانانو پرضداوسنو اقداماتو اوپه اسلامي نړۍ کې ددوئ روان وحشت ته که وکتل شي نوداسې ښکاري چې لویدیځ بشرته داحترام اوقدردمثبتې نظرې پرځای داسلام اومسلمان دښمنۍ منفي فکر خپرول غواړي اوڅرگنده ده چې منفي اوناوړه سلوک منفي حالات زېږوي.

دامریکا بنسټ چې په جبر اووحشت ایښودل شویدی تل یې په نړۍ کې وحشت خپورکړیدی؛ همېش یې دمادي گټودحصول لپاره په کمزورو هېوادونواو ولسونو ناروا جنگونه تحمیل کړیدي اوپه هرځای کې یې ترهغې جنگونه جاري ساتلي دي چې ترڅوپکې دشرم نه ډکې ماتې سره مخامخ شویده ؛ اروپایي هېوادونودا ډېره ستره اشتباه کړی وه چې دامریکا له لوري داعلان شوي صلیبي جنگ لپاره دجوړشوي اتحادبرخه گرځېدلی وه ؛ دصلیبي جنگونو اعلان خوڅه کوچنی خبره نه وه ؛ دادهغه مسلمان ملت پرضد دجنگ اعلان وچې په نړۍ کې ترټولوزیات نفوس لري ؛ ددې ملت افراد په زړونوکې دایمان سترنعمت لري ؛ ددې ستر نعمت نه برخمن په ملیونونو ځوانان یې دخپل دین، مسلمانو ورونو خویندو، خپلوخاورو، دیني شعایرو اوسترو اشخاصونه ددفاع په لارکې سرونه قربانوي اوددې قربانیوپه برکت ډېر ستر تجاوزگرپه تشو لاسونودشرمونکې ماتې سره مخامخ کړیدي چې په لنډې ماضۍ کې یې دانگرېزانودسترې امپراتورۍ اوبیا ورپسې دغونډ شوروي اتحاد ماتې یې ژوندۍ بېلگې دي ؛ امریکا چې داسلامي نړۍ نه په لرې واټن کې پرته ده شاید دمسلمانانو دلاس رسي نه ځان خوندوگڼي خواروپاچې اسلامي نړۍ ته نېږدې ده پدې اتحادکې دورگډېدونه وړاندې یې باید سل ځلې فکرکړی وای چې دټول مسلمان ملت سره ددښمنۍ لپاره دمتورانغښتلو اوډگرته رادانگلو عواقب به څه وي ؟

نودامریکاسره پدې اتحادکې داروپایي هېوادونوگډون ډېره لویه اشتباه وه خوخپله اشتباه اوغلطي نه درک کول اوپه خطاباندې ټینگ پاتې کېدل بیا ډېره لویه غلطي ده؛ اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې اروپایي هېوادونه په ډېرې سړې سینې فکر وکړي ؛ دعقل نه کارواخلي ؛ دامریکا په نوم دنړۍ دیواځني سترغاصب تروریست دولت ملگرتیا پرېږدي ؛دټول مسلمان ملت پردښمنۍ ولاړه کړنلاره رد کړي؛ دټول مسلمان ملت نه بښنه وغواړي اوپرته له ځنډ اوځنډه دافغانستان په شمول دټولې اسلامي نړۍ نه دخپلولښکرو دویستلو احکامات جاري اوجدي پلان ورته برابرکړي .

که اروپا داسې وکړل نوشاید داتلو مسلمانو ځوانانو دانتقام له درندې څپېړې ځانونه تریوحده په امن کې کړي گینې دالړۍ به روانه وي؛ دبرسلزپېښه به څه ترټولو وروستۍ پېښه نه وي ؛داسې ډېرې نورې پېښې به هم رامنځته شي لویدیځ به بیالاسونه مروړي خو وخت به ځنې تېروي.

مفتي محمد رضا انصاري
ژ:امید

د مولانا عبد الحي فرنګي محلي رَحِمَهُ اللهُ
تاریخي خدمتونو ته کتنه

دهند دفرنګي محلي نوم سیمي نومیالي دیني عالم ابو الحسنات مولانا محمد عبد الحی انصاري رحمه الله[۱۸۸۶م] چې په ۱۳۰٤هـق کې په هند او آسیا دعلمي کړیو دننه کوم شهرت په برخه شو، هغه ترنن پورې شتون لري، نوموړي دمحدث، فقیه، متکلم، معقولي مفتي او مستند حنفي عالم په نوم د پیژندګلوي سربیره نوموړی دتذکره لیکونکي، اسماء الرجال د ماهر اومؤرخ په حیث هم ښه لوی نوم او ځای لري! دنوموړی دا وروستی وصف پر معاصرو لیکوالو علماوو کې شاذ و نادر لیدل کیږي، ځکه د نن پشان دنوموړي په وخت کې داخورا لویه علمي مرتبه چا ډېره دتوجه ورنه ګڼله، دهغې زمانې مزاج بس دا وه چې د دینی عالم لپاره تذه کیره نویسي تاریخ لیکل دخاص امتیاز او دپام وړ وصف نه بلل کېده، آن تردې پورې که څوک به تذکره نویس اومنل شو هغه ته چا دمستند عالم په حیث نه کتل، خو مولانا عبد الحي فرنګي محلي رحمه الله پخپل کم عمر کې [چې د شمسي کلیزیر حساب تول تال ۳۸ کاله دوه میاشتې او درې ورځې کېږي] یې واړه اولوی له سلو زیات کتابونه لیکلي دي، کوم چې دده په ژوند کې له چاپه وتلي او تر لرې لرې سیمو پورې رسیدلي وو، د دومره زیات شمېر کتابونو لیکلو په اړه یې دشام دمحقق عالم مفتی عبد الفتاح ابو غده رحمه الله رایه داده:

کله چې دهغو لویو مصنفینو نومونه اخستل کېږي، چې د پنځوس یا سل څخه یې ډېر کتابونه لیکلي دي،د شک پرته دهغوی تولو په سرکې دامام عبدالحی لکنوي رحمه الله نوم راځي، ځکه دهغه دلیکلیو کتابونو شمېر یوسل څوارلس ته رسي، که داشمېر دنوموړي له کم ژوند سره پرتله شي نو زیات دي،ما یې زیاتره کتابونه ترلاسه کړیدي، کوم چې مې ندي مندلي په هغو پسې یم چې ترلاسه یې کړم او بیا دا هود لرم چې ددې تولو ارزښتمنو کتابونو پاڼې وشمارم، او دهغه دژوند په ورځو یې وویشم،څو په دې توګه په تصنیف او تالیف کې دنوموړي رحمه الله د عظیم الشان او نادر الوجوه مهارت انکشکاف ظهور وومي، زما په اند په دغه حساب لګولو به په هغو تولو مصنفینو باندې[چې په اوږ دو عمرونو کې یې لوی شمېر تصنفیونه کړي]، لکه علامه ابن جریر رحمه الله علامه ابن جوزی رحمه الله امام فخر الدین رازي رحمه الله او نور- امام عبد الحی لکنوي رحمه الله ته له دې پلوه فوقیت په برخه دی ، چې په ورځیني حساب یې دلیکلو مقدار ترتولو زیات راځي [مقدمة الاجوبة الفاضلة ازمفتي عبد الفتاح ابوغده]

مولانا عبد الحی لکنوي (رحمه الله په منطق، فلسفه، نحوه، صرف، حدیث، فقه، تاریخ او تراجمو کې ارزښتمن خدمتونه کړیدي او په پرځای ده چې ورته محدث، فقیه، اصولي، منطقي، بحاث، نقاد، اومؤرخ وویل شي، نوموړي ترتولو ډېر خدمت د فقهې او حدیث کړی دی، په ددې دواړو موضوعاتو په اړه یې نیردي پنځوس کتابونه لیکلي په دویم قدم کې دسوانح لیکلو تراجم او احوالو په اړه دتصنفینو شمېر له یو نیم درجن زیات دی.

مولانا عبد الحی لکنوي رحمه الله دتاریخ خدمت دوه ډوله کړی:

۱... دعلماوو او مصنفینو احوال او تراجم یې د خاص نظام لاندې ترتیب کړیدي.

